# قال محمد و آل محمد

## د حدیثونو او روایتونو پښتو ټولګه

سرچینه:

تفسیر نور

راټولونکی:

اجرالدین اقبال

# قال محمد و آل محمد
# د حدیثونو او روایتونو پښتو ټولګه

سرچینه:

تفسیر نور

راټولونکی:

اجرالدین اقبال

بسم الله الرحمن الرحيم
مخځوړ:
د کتاب نامه: قال محمد و آل محمد (د حديثونو او روايتونو پښتو ټولگه)
سرچينه: تفسير نور
راټولونکی: اجرالدين اقبال
د چاپ کال او وار:
تخنيکي چارې: انديال؛ ديني، علمي، فرهنگي او خپرندويه ټولنه www.andyal.com
خپروونکی:
بيه:
چاپځی:
اړيکشمېره:
برېښليک:

## حمد سورت

✸له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه د حضرت جابر بن عبدالله انصاري (رض) د روايت له مخې، دا سورت د قرآن له غوره سورتونو څخه دی او د ابن عباس (رض) په وينا؛ د حمد سورت، د قرآن اساس او بنسټ دی. په حديث کې هم راغلي دي: که پر مړي مو دا سورت اويا ځل ووايه او ژوندی شو، مه حيرانېږئ[1].

✸رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم[2] دا سورت «فاتحه الکتاب» نومولی.

په سني او شيعه روايتو کې راغلي چې له « سَبْعًا مِّنَ الْمَثَانِي » مراد، حمد سورت دی؛ ځکه په هر لمانځه کې ويل کېږي او په يوه روايت کې راغلي چې الله تعالی وايي: د حمد سورت مې له خپل بنده سره نيم کړی؛ نيم په ما پورې تړاو لري او نيم مې په بندګانو پورې (له «بسم الله» تر « مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ » پورې، په الله تعالی پورې اړه لري او له « إِيَّاكَ نَعْبُدُ » تر پايه چې د عبوديت اظهارول، استمداد او دعا ده، په بندګانو پورې اړه لري).

### بسم الله

✸حضرت علي کرم الله وجهه ويلي: په «بسم الله» چارې برکتي کېږي او پرېښوول يې د ناکامی لامل‌کېږي. همداراز د «بسم الله» کښونکي ته يې وويل: «جودها» ښه يې وليکه[3].

✸په حديث کې لولو: «بسم الله» مه هېروئ، ان په يوه بيت شعر ليکلو کې او د هغه چا په بدله او اجر کې چې د لومړي ځل لپاره ماشوم ته «بسم الله» وريادوي، روايات راغلي دي[4].

✸په قرطبي تفسير کې له امام صادق رحمة الله علیه نه روايت شوی دی: «بسم الله» د سورتونو تاج دی. يوازې د برائت (توبې) سورت په پيل کې «بسم الله» نه ده راغلې او د حضرت علي کرم الله وجهه په وينا، دليل يې دادی چې «بسم الله» د امان او لورنې کلمه ده او له کفارو او مشرکانو د کرکې اعلانول، د مينې او لورنې له څرګندولو سره اړخ نه لګوي[5].

---

[1] بحار: ۹۲ ټ، ۲۵۷ مخ

[2] عيون الرضا: ۲ ټ، ۲۷ مخ

[3] کنز العمال: ۲۹۵۵۸ حديث

[4] برهان تفسير: ۱ ټ، ۴۳ مخ

[5] فخر رازي او مجمع البيان تفاسير.

✸امام رضا (رح) وايي: بسم الله يعنې پر ځان د الله تعالی د بندگۍ ټاپه وهو.[۱]
✸امام رضا رحمة الله عليه ويلي: «بسم الله» الهي اسم اعظم ته، د سترگو سپينو ته، تر تورو يې خورا ورنژدې دی[۲].

## سورة البقره

✸رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وپوښتل شو، چې د قرآن کوم يو سورت غوره دی، و يې ويل: د بقرې سورت او وپوښتل شو کوم آيت يې غوره دی؟ ويې ويل: اية الکرسي [۳].

### نفقه

✸نورو ته نفقه ورکړو.«مِمّا رَزَقْناهُمْ يُنْفِقُونَ[٤]» امام صادق رحمة الله عليه وايي: «له څه چې ور زده کړي مو دي، په ټولنې کې خپروي[٥]»

## د زړه کوږوالی

✸« رَبَّنا لا تُزِغْ قُلُوبَنا بَعْدَ إِذْ هَدَيْتَنا[٦]= پالونکيه! راته له هدايت روسته، زړونه مو، مه اړوه.))
امام صادق رحمة الله عليه ويلي: دا آيت ډېر ووايئ او ځان له بېلارېتوب خوندي مه گڼئ[٧].

### منافق

* پيغمبراکرم صلی الله عليه و آله وويل: زه له مؤمن او کافره نه ډارېږم؛ خو له منافق څخه ډارېږم. [۲۰] بلخوا يې وويل: زه مې د امت له بېوزلۍ نه ډارېږم، له بې تدبيرۍ يې ډارېږم.[۲۱] هو که رِند او ځيرک منافقان له بې تدبيره ناپوهانو سره غوټه شي؛ نو د صفين جگړه او د کربلا پېښه رامنځته کېږي.

---

[۱] نور ثقلين تفسير
[۲] راهنما تفسير
[۳] نور الثقلين او مجمع البيان تفاسير
[٤] «ما» په دغسې ځايونو کې د هر څيز پر مانا دی
[٥] بحار: ۲ ټ، ۱۷ مخ
[٦] «آل عمران، ۸»
[۷] (نورالثقلين تفسير)
[۲۰] - نهج البلاغه، ليک: ۲۷.
[۲۱] - عوالي اللئالي، ج ٤، ص ۳۹.

* حضرت علي کرم الله وجهه وايي: د انسان نفاق له هغې سپکاوي راولاړ شوی، چې په ځان کې يې ننگېري. «نفاق المرء ذل يجده فی نفسه» [۲]
✹ په حديث کې لولو: «که په امانت کې مو خيانت وکړ، په خبرو کې مو دروغ وويل او ژمنې مو عملي نه کړې؛ نو منافق يوو، که څه لمونځگذاره او روژه تيان وسوو[۱]»

## ريا

✹له رسول اکرم صلی الله عليه و آله وسلم نه په يوه روايت کې لولو: «ريا کاري، له الله سره ټگي ده[۲]»

## د مکر سزا

*امام رضا رحمة الله عليه ددې آيت[بقره/۱۵] په تفسير کې وايي:"الله تعالی د مکر، ټگی او ملنډو والا نه دی؛ خو د دوی د مکر او ملنډو سزا ورکوي[۳]."همدغسې دوی په خپلې سرغړونې کې پرېږدي، چې ورډوب شي او تر سخت زړی، د شيطان لاسبری او وسوسې، گناه ته څوبتيا، عبادت ته ناڅوبتيا، له نااهلو سره ملتيا او همکاري، پر دنيا بوختيا او له حقه غفلت، چې منافقان پرې اخته دي، خورا سخته سزا شته.

## په مينه عبادت

پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم ويلي دي: «افضل الناس مَن عَشق العبادة[٤]» - غوره خلک، الله تعالی په عشق او مينې لمانځي.

## د نبوت فلسفه

حضرت علي کرم الله وجهه د نبوت فلسفه د فطری ژمنو غوړېدا بولي. «و واتر اليهم انبيائه ليستأدوهم ميثاق فطرته [٥]»

---

[۲] - غررالحکم
[۱] سفينة البحار: ۲ ټ، ٦۰۵ مخ
[۲] نورالثقلين تفسير
[۳] نورالثقلين تفسير: ۱ ټ، ۳۰ مخ
[٤] بحار: ۷۰ ټ، ۲۵۳ مخ
[٥] (نهج البلاغه، لومړی خطبه).

## صله رحم

*اروابناد مجلسي[1] د «وَ يَقْطَعُونَ ما أَمَرَ اللّٰهُ بِهِ أَنْ يُوصَلَ» په آيت پسې د صله رحم (زړه سوي) په هکله يو سل او لس احاديث تر وييني لاندې نيولي. دلته يې يو شمېر په زړه پورې ټکي را اخلو:

- له خپلوانو سره ليدته کاته ولرئ که څه د اوبو څښلو په برید کې وي.
- صله رحم (پر خپلوانو زړه سوی) عمر زياتوي او فقر لرې کوي.
- په صله رحم، رزق پراخېږي.
-غوره گامونه هغه دي، چې صله رحم او د خپلوانو ليدو ته اخستل کېږي.
- د صله رحم په پار، جنت کې ځانگړی مقام ترلاسه کېږي.
- د خپلوانو پوښتنې ته ورشئ که څه، دوی بې اعتنايې وکړي.
- صله رحم وکړئ، که څه کورنی نېکه نه وي.
- صله رحم وکړئ، که څه په اسلام اچولو وي.
- صله رحم، مرگ او د قيامت ورځې حساب آسانوي.
- څوک چې صله رحم پرې کړي، د جنت له بوی بې برخېږي.
- صله رحم د کړنو د تزکيه (پاکونې) او د مالونو د ودې (او ډېرښت) لاملېږي.
- له خپلوانو سره مالي مرسته، له نورو سره تر مالي مرستې (۲۴) وارې بدله لري.
- صله رحم وکړئ، که څه يو کال پر لار ولاړ شئ.

* امام صادق رحمة الله عليه وايي: «پلار مې وصيت راته کړی، له هغو سره مه دوست کېږه، چې له خپلې کورنی سره اړيکه نه لري[2]»

## پنځون

له دې دوو آيتونو (بقره۲۹- ۳۰) پوهېدای شو: الله تعالی انسان ته لومړی د ژوند وزلې چمتو کړې، بيا يې پيدا کړ. "خَلَقَ لَكُمْ ما فِی الْأَرْضِ جَمِيعاً... إِذْ قالَ رَبُّکَ لِلْمَلائِكَةِ» لکه چې حضرت علي کرم الله وجهه ويلي: «فلمّا مهد ارضه و انفذ امره اختار آدم[3]...» همداچې ځمکه يې وغوړوله او خپل فرمان يې عملی او نافذ کړ، انسان يې پيدا کړ.

---

[1] (بحار: ۷۱ ټ، ۸۷ مخ)

[2] (تفسيرونه: نورالثقلين او رهنما).

[3] (نهج البلاغه، ۹۱ مه خطبه)

الله تعالی اسماء[1]، د هستۍ خوالې او رازونه؛ د خپلو ولیانو او دوستانو نومونه[2] تر جماداتو پورې آدم ته وروښودل. د امام صادق رحمة الله علیه په تعبیر: ګرده ځمکه، غرونه، درې، د سیندونو او نېزونو لارې، ان همدا ټغر چې تر پښو لاندې مو دی، آدم ته وروپېژندل شول[3].

## حضرت آدم ته سجده

امام سجاد رحمة الله علیه وایي: پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «آدم ته سجده دده د ځوځات په پار وه[4]».

## د حضرت آدم تېروتنه

امام رضا رحمة الله علیه وایي: د آدم د ښویېدنې پېښه، نبوت ته تر رسېدو مخکې او له کوشنیو ښویېدنو وه، چې ښښنوړ ده[5].

## کلمات

*د سني او شیعه روایاتو د ګټنې له مخې، له هغو کلماتو مراد، چې آدم پرې توبه وایسته، د الله تعالی په غوره مخلوقاتو؛ یعنې محمد صلی الله علیه و آله وسلم او اهل بیتو علیه و علیهم السلام توسل و؛ لکه چې په درالمنثور تفسیر (۱ټ، ٦٠مخ) کې له حضرت ابن عباس (رض) څخه روایت شوی، چې آدم خپلې توبې قبلولو ته، الله تعالی ته په دې نومونو قسم ورکړ: « بحّق محمّد وعلیّ و فاطمه و الحسن و الحسین». البته ځینې ګروهن دي، له کلماتو مراد، دا غونډله - جمله ده« رَبَّنا ظَلَمْنا أَنْفُسَنا وَ إِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنا وَ تَرْحَمْنا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخاسِرِينَ[6]= پالونکیه ! پر ځانونو مو ظلم وکړ او که و مو نه ښښې او را ونه لورېږې؛ نو بېشکه له تاوانیانو به یو.))؛ نوځکه د ځمکې پر مخ ړومبۍ توبه له «محمد صلی الله علیه و آله وسلم و آل محمد» سره په توسل منل شوې ده.*

---

[1] «اسم» زموږ په عرف (دود) کې د نوم او نښې پر مانا دی؛ خو په قرآني فرهنګ کې نوم له منځپانګې سره یو ځای دی؛ لکه چې «فله الاسماء الحسنی»؛ یعنې خدای اوچت او عالیه صفات لري.

[2] نورالثقلین تفسیر: ۱ ټ، ۵۴ مخ او صدوق، اکمال الدین: ۱ ټ، ۱۴ مخ.

[3] مجمع البیان تفسیر

[4] (صافي تفسیر)

[5] (نورالثقلین تفسیر).

[6] (اعراف-۲۳)

## عالم

* امام صادق رحمة الله علیه وویل: «عالم، هغه کس دی، چې د ده کړنې د ده ویناوې تصدیق کړي، ګنې عالم نه دی ». [٤٩]

*په روایاتو کې راغلي: کوم پوهان چې نور جنت ته وربولي؛ خو خپله دوزخي وي؛ نو خورا ستر او سخت حسرت او افسوس به ولري[١].

## په عمل رابلل

*عمل، د تلاوت حق دی. امام صادق رحمة الله علیه ویلي: « کونوا دعاه النّاس باعمالکم و لاتکونوا دعاةً بالسنتکم: خلک په خپلو کړنو وبلئ، نه تش په خبرو[٢].

له حضرت علي کرم الله وجهه روایت شوی، چې ویلي یې دي: «قسم، تاسې چې کوم کار ته بلم؛ نو ړومبی په خپله عمل پرې کوم؛ او له کوم کاره چې مو منع کوم؛ نو تر تاسې مخکې مې پرېښی وي[٣].

همدغسې یې ویلي دي: «څوک چې ځان د نورو مشر او امام کړي؛ نو لومړی دې د ځان په ښوداني یا تعلیم لګیا شي[٤]»

امام کاظم رحمة الله علیه ویلي دي: « طوبی للعلماء بالفعل و ویل للعلماء بالقول: پر هغو عالمانو دې درود وي، چې پر خپلو ویناوو عمل کوي او افسوس پر هغو عالمانو چې تشې خبرې کوي[٥]».

## بې عمله عالم

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم: بې عمله عالم د هغه څراغ په څېر دی، چې خپله سوځي؛ خو خلک رڼا کوي[٦].

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم: بې عمله عالم، بې لیندۍ غشی ایشتونکی دی[٧].

[٤٩] - کافي، لومړی ټوک، ص ٣٦.
[١] (بحار: ٢ ټ، ٣٧ مخ).
[٢] (نورالثقلین: ١ ټ، ٥٧ مخ).
[٣] (نهج البلاغه: ١٧٥ خطبه).
[٤] (نهج البلاغه: ٧٣ حکمت).
[٥] (بحار: ٧٨ ټ، ٢٩٩ مخ).
[٦] (کنزالعمال: ٢٩١٠٩ حدیث).
[٧] (بحار: ١٠ ټ، ١٠٠ مخ).

عیسی علیه السلام: بې عمله عالم، پر بام د بل څراغ په څېر دی؛ خو کوټې یې تیارې دي[1].
علي کرم الله وجهه: بې عمله عالم، د بې مېوې او شنډې ونې په څېر دی او هغه خزانه او زېرمه ده، چې انفاق ترې نه کېږي[2].
امام صادق رحمة الله علیه : د بې عمله عالم، نصیحت او وعظ؛ لکه پر تیګه باران، چې په زړونو کې نفوذ نه کوي[3].
*امام باقر رحمة الله علیه او امام صادق رحمة الله علیه ویلي: هغوی چې د عدل خبرې کوي؛ خو په عمل کې عادلین نه وي، ددې آیت مصداق دي: «فَكُبْكِبُوا فِيها هُمْ وَ الْغاوُونَ[4]»
* په احادیثو کې لولو: «علم بلا عمل حجه الله علی العبد»[5] بې عمله علم، د انسان پرخلاف حجت دی.
«العلم الذی لا یعمل به کالکنز الذی لا ینفق منه[6]» هغه علم، چې عمل پرې ونشي، هغه خزانې ته ورته دی، چې انفاق ترې ونشي.
«ان اشد الناس حسره یوم القیامه الذی و صفوا العدل ثم خالفوه[7]» هغه چې د عدالت خبرې کوي؛ خو عادل نه وي، په قیامت کې به ډېر سخت حسرت لري.
عیسی علیه السلام وویل: «أشقی الناس من هو معروف عند الناس بعلمه مجهول بعمله[8]» تر ټولو بدمرغه هغه دی، چې په خلکو کې په علم مشهور وي؛ خو په عمل مشهور نه وي.
امام صادق رحمة الله علیه وویل: «من لم یصدق فعله قوله فلیس بعالم»[9] هغه چې کړنې یې د خبرو تاییدونکې نه وي؛ نو عالم نه دی.
حضرت علي کرم الله وجهه وویل: هغه عالم ژغورونکی دی، چې پر خپل علم عمل وکړي؛ خو هغه چې پر خپل علم عمل نه کوي، هلاک شوی او خواشینی به وي او دوزخیان به یې له

[1] (بحار: ۱۴ ټ، ۳۰۹ مخ).
[2] (غررالحکم)
[3] (بحار: ۲ ټ، ۳۹ مخ).
[4] (نورالثقلین تفسیر)
[5] - غرر الحکم
[6] - امالي صدوق، ۳۴۴ مخ
[7] - بحار، ۲ ټ. ۳۰ مخ
[8] -مصباح الشریعه، ۳٦۸ مخ
[9] - کافي، ج ۱، ص ۳٦.

ناوړه بويه په کړاو کې وي او په قيامت کې، ډېرى حسرت هغه خوري او خواشينى به وي، چې خلک يې د الله تعالى پر لوري وربللي وي، خلکو يې خبره هم منلې وي او جنت ته ورننوتي وي؛ خو بلونکى پخپله دوزخي شي؛ ځکه پر ځاني غوښتنو او اوږدو هيلو اخته شوى و.
«ان اشد اهل النار ندامه و حسره رجل دعا عبدا الى الله فاستجاب و قبل منه و اطاع الله فادخله الله الجنه و ادخل الداعى النار بترکه علمه و اتباعه الهوى و طول الأمل[1]»
* امام صادق رحمة الله عليه وويل: «ان العالم اذا لم يعمل بعلمه زلت موعظته عن القلوب کما يزل المطر عن الصفا[2]» د هغه عالم موعظه له زړونو ښوې وځي، چې پر خپل علم عمل ونکړي؛ لکه څنګه چې باران له ډبرې ښوې تېرېږي.
* امام سجاد رحمة الله عليه وويل: په انجيل کې راغلي: «ان العلم اذا لم يعمل به لم يزدد صاحبه الا کفرا و لم يزدد من الله الا بعدا[3]» هغه عالم چې پر خپل علم عمل ونکړي، يوازې به يې کفر او له الله لرېوالى ډېرېږي.

## صبر

*له رسول اکرم صلى الله عليه و آله وسلم نه روايت شوى، چې صبر درې ډوله دى: ۱- د مصيبت او کړاو پر وړاندې صبر. ۲-د معصيت او ګناه پر وړاندې صبر. ۳-د عبادت پر وړاندې صبر[4].
نوځکه څه چې په رواياتو کې راغلي، چې په دې آيت کې له صبره مراد، روژه ده، چې د صبر يو مصداق ته اشاره ده.
•امام صادق رحمة الله عليه ويلي:
((اصبروا على الفرائض)) د فرايضو په سرته رسولو کې زغم ولرئ.
((صابروا على المصائب» په کړاوونو کې زغم ولرئ.
((ورابطوا على الائمة)) له خپلو مشرانو مو دفاع وکړئ.

---

[1] - کافي، ۱ ټ، ۴۴ مخ.
[2] - کافي، ۱ټ، ۴۴مخ.
[3] - کافي، ۱ ټ، ۴۵مخ
[4] (بحار: ۷۱ ټ، ۷۷ مخ)

•رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «اصبروا علی الصلوات الخمس و صابروا علی قتال عدوکم بالسیف و رابطوا فی سبیل الله تفلحون» پر پینځګونو لمونځونو پايينه وکړئ او له غليم سره په جهاد کې ګړندي (فعال) او د الله په لار کې يو له بل سره همغږي وسئ چې وژغورل شئ[1].

* امام باقر رحمة الله علیه د «جَزاهُمْ بِما صَبَرُوا» آیت تر تفسیر لاندې وويل: د ابرارو ثواب د هغه صبر په پار دی، چې په دنيا کې يې پر بېوزلی او کړاوونو کړی و[2]. لکه څنګه چې حضرت علي کرم الله وجهه وويل: «صبرت و فی العین قذی و فی الحلق شجی[3]» صبر مې وکړ، حال دا په سترګو کې مې اغزی او په ستوني کې تېغ و. او د امام حسين په باب لولو: «لقد عجبت من صبرک ملائکه السماوات[4]» په رښتينه کې، ستا صبر ته پرښتې هېښنده شوې.

## خشوع

* يو سړي په لمانځه کې له ږيرې سره لوبې کولې، پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وويل: که هغه په زړه کې خشوع درلوده، په عمل کې به يې داسې نه کول.[5]
* امام صادق وويل: په لمانځه کې له خشوع نه مراد، د سترګو ټيټول دي.[6]
*لمونځ رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته د سترګو رڼا ده[7]؛ خو ځينو ته چې خشوع نه لري، درووند پېټی دی. خشوع په زړه او روح پورې اړه لري او خضوع، د بدن په غړيو پورې تړاو لري.

## مسخ

په اطيب البيان تفسير کې له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه يو روايت راغلی چې ويلي يې دي:

---

[1] (درّالمنثور: ۲ ټ، ۴۱۸ مخ)
[2] -. بحارالأنوار، ۷۵ ټ، ۱۸۶ مخ.
[3] -نهج البلاغه، خطبه ۳.
[4] -بحارالانوار، ۹۸ مخ. ۲۳۹ مخ.
[5]. کنزالدقائق تفسير
[6] بحار ج ۸۱ص ٢٦٤
[7] (بحار: ١٦ ټ، ۲۴۹ مخ)

«الله تعالی، په تاریخ کې د اووه سوه امتونو څېرې د دوی د کفر په پار، اړولي او پر ۱۳ ډول څارویو اوړېدلي دي[۱].

*لکه څنگه چې په روایاتو[۲] کې لولو، د مسخ لمن په قیامت کې، د وګړیو د روحي ځانګړنو په پامنیوي ښه پراخېږي. په قیامت کې خلک په لس ډوله محشورېږي:

۱-ډونډورچیان، د بیزو په بڼه.

۲-حرام خوار، د سرکوزي په بڼه.

۳-سود خواره، سرچپه.

۴-ناحق قاضي، ړوند.

۵-کبرجن ځانمنی، کوڼ و ګونګ.

٦-بې عمله عالم، د خپلې ژبې د ژولو په حال کې.

۷-ګاونډ ازاری، لاس و پښې پرېکړی.

۸-خبرلوڅ، د اور په ښاخ پورې ځوړند.

۹-عیاشان، تر مردارې خورا بد بوی.

۱۰-مستکبرین، په اور کې رانغاړل شوی.

بې ځایه پوښتنې

یوه ورځ پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د حج د لزوم او اهمیت په باب وینا اوروله: په وینا کې یو وپوښتل: آیا حج، هر کال فرض دی؟ پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ځواب ور نه کړ. سړي پوښتنه بیاځلي کړه. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم خپه شو. ویې ویل: ولې ټینګار کوې؟ که ووایم هو، کار مو ستونزمنېږي، همدا چې ومو لیدل، چې چوپ شوم، ټینګار مه کوئ. بیا پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د تېرو اقوامو د هلاکت یو لامل د دوی بېځایه پوښتنې وې[۳].

حضرت علي کرم الله وجهه په نهج البلاغه کې وايي: « و سکت لکم عن اشیاء و لم یدعها نسیانا فلا تتکلفوها: الله د ځینو څیزونو حکم مسکوت پرېښی؛ خو دا سکوت د هېرتیا له مخې

[۱] (بحار: ۱۴ ټ، ۷۸۷ مخ).

[۲] مجمع البیان، نورالثقلین او صافي تفسیر، د نبأ سورت تر ۱۸ آیت لاندې.

[۳] (نمونه تفسیر: ۵ ټ، ۹٦ مخ).

نه؛ بلکې ددې لپاره دی چې د علم ډګر مو پراخ وي او تکلف درباندې نه وي»؛ نوځکه په بېځایه پوښتنو، په جزئیاتو پسې مه ګرځئ.

## اهل ته د کار ور رسېدل

* پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: «که انسان د کلکو تیګو په منځ کې چې هېڅ سوری او درېځه پکې نه وي، کوم کار وکړي، الله تعالی یې خلکو ته وربرسېروي[1]».

* په روایاتو کې لولو: تکه ژېړه پخه عمرې غوا له ځانګړنو سره سره یې، یوازې له یوه ځوان سره وه، چې یوه ګټوره راکړه ورکړه (معامله) مخې ته ورغلې وه؛ خو داچې د ګودام کونجي یې د پلار تر سر لاندې وه او نوموړي داچې پلار ویښ نه کړي، له ګټې تېر شو او الله تعالی پلار ته د زوی ددې چوپړ د جبران لپاره، د بني اسرئیلو د پلمو ځواب داسې ورسیخ کړ، چې ددې ځوان د غوا بیه وټاکل شي، چې په ګرانه بیه یې وپلوري. موسی علیه السلام وویل: « انظروا الی البر ما یبلغ باهله: نېکۍ ته ووینئ چې خپل اهل ته څه رسوي[2]».

## په تورات کې د حضرت نښې

*د یوه روایت له مخې، امام باقر رحمة الله علیه ویلي: یو شمېر بې خاصیته یهود، چې کله له مسلمانانو سره مخامېدل؛ نو په تورات کې راغلي د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم اوصاف او ځانګړنې یې ورته سپړلې. مشران یې له دې جریانه خبر او د مخنیوي په لټه کې شول، چې ولې مسلمانانو ته د محمد صلی الله علیه و آله وسلم نښې او ځانګړنې وایي؟ که دوی په تورات کې له راغلیو خبر کړئ، د قیامت پر ورځ به یې ستاسې پر ضد وکاروي[3].

## انسان وژنه

*د ژوند حق، د هر انسان لومړی حق دی او د نفس وژنه، له سترو ګناهونو ده؛ لکه چې د مائدې په **۳۲** آیت کې، بې جرمه د یوه انسان وژنه د ګردو انسانانو له وژنې سره برابر ګڼل شوې. امام باقر رحمة الله علیه ویلي دي: «د وژل شوي ټول ګناهونه د وژونکي تر غاړې

---

[1] (درالمنثور تفسیر)

[2] (نورالثقلین تفسیر»

[3] (مجمع البیان تفسیر).

کیږي[1].«همدغسې په حدیث کې راغلي: « که آسمانوال او ځمکوال د یوه تن مؤمن په وژنې کې شریک شي، ټول دوزخ ته ځي.[2]»

## د الله تعالی ولیان

*د الله تعالی ولیان نه یوازې له مرګه نه ډارېږي؛ بلکې مرګ ته څوبمن هم دي؛ لکه څنګه چې حضرت علي کرم الله وجهه وايي: ((والله لابن ابی طالب آنس بالموت من الطفل بثدی امّه» پر الله تعالی قسم، له مرګ سره د ابوطالب د زوی مینه، د خپلې مور له تي سره د تي خور ماشوم تر مینې ډېره ده.[3]))

*حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «الله ته د کنځا له مصادیقو، د الله د ولي کنځل دي[4]»

پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: د الله تعالی د ولیانو چوپتیا ذکر دی، لیده کاته یې عبرت، خبرې یې حکمت او په ټولنې کې یې حرکت، د برکت لامل دی[5].

علي کرم الله وجهه ویلي: الله تعالی په خلکو کې خپل ولي پټ کړی دی؛ نو بیخي کوم مسلمان تحقیر او سپک نه کړئ، ښايي نوموړی د الله تعالی ولي وي، «انّ اللّه اخفی ولیّه فی عباده فلاتستصغرنّ عبداً من عبیداللّهِ فربمّا یکونُ ولیّه وانتَ لاتعلم[6] »

*حضرت علي کرم الله د متقیانو په ځانګړنو کې وايي: «اما اللیل فصافون اقدامهم» دوی، شپه په ویښه ولاړه تېروي، دوی د شپې عابدان او د ورځې زمریان دي. [۱۰٤]

## سینه پراخي

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: د سینه پراخی نښې څو څیزه دي: «الا نابة الی دارالخلود و التجا فی عن دار الغرور والا ستعداد للموت قبل نزول الفوت» آخرت ته په تواضع پاملرنه او له چلي نړۍ لرې کېدنه او تر مرګ وړاندې مرګ ته چمتوالی نیول[7].

---

[1] میزان الحکمه و ثواب الاعمال ۳۲۸ مخ

[2] میزان الحکمه و وسائل، ۱۹ ټ، ۸ مخ

[3] نهج البلاغه، پینځمه خطبه

[4] (المیزان تفسیر)

[5] (صافی تفسیر)

[6] (نور الثقلین تفسیر)

[۱۰٤] - نهج البلاغه، همام خطبه.

[7] (المیزان تفسیر)

## تر ژونده ښه مرګ

په فخر رازي تفسير کې له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم یوه دعا رانقل شوې، چې ويلي يې دي: «که ژوند راته ښه وي، ژوندی مې ولره او که مرګ ښه وي، مړ مې کړه.».
امام سجاد رحمة الله علیه هم په مکارم الاخلاق کې له الله تعالی همدغسې غواړي:
«الهی عمرنی ما کان عمری بذلهفی طاعتک، فاذا کان عمری مرتعا للشیطان فاقبضنی... الله! که عمر مې ستا د اطاعت په لار کې چوپړوزله وي، عمر مې اوږد کړه؛ خو که عمر مې د شیطان څرځای وي؛ نو پرې يې کړه.»

## تقوا

*امام صادق رحمة الله علیه د تقوا په باب د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي دي: تقوا لکه له اغزنې سيمې د تېرېدو پر مهال د ځان څارنه ده.

## قرآن عظيم الشأن

*حضرت علي کرم الله وجهه وايي: «الله الله فی القرآن لا یسبقنکم فی العمل به غیرکم» د الله په پار، د الله په پار! د قرآن پيغام ومومئ، هسې نه نور پرې په عمل کې دړومبي شي!
د حضرت علي کرم الله وجهه په وينا: د قيامت پر ورځ غږ کېږي: هر بزګر پر يوه آفت و زيان اخته کېږي؛ خو بې له هغوی چې د قرآن په کښت کې يې کر کړی وي؛ نو د قرآن په ځمکه کې کر وکړئ. «فکونوا من حرثه القرآن[1]». پيغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ويلي: «مَن هداه اللّه للأسلام وعلّمه القرآن ثمّ شکی الفاقه کتب اللّه الفاقه بین عینیه الی یوم القیامه» څوک چې الله پاک د اسلام او قرآن پوهېدو پر نعمت وویاړي؛ خو نوموړی د بدمرغی احساس وکړي؛ نو په رښتوني بدمرغه دی او تر قيامته يې پر تندي د بدمرغی ټاپه وهل کېږي.[2]
*امام باقر رحمة الله علیه ويلي: په قرآن کې د امت ټولې اړتياوې راغلي او زما هره خبره چې مو اورېدلې، که قرآني لاسوند يې غواړئ؛ نو درته يې وايم.

---

[1] (نهج البلاغه: ۱۷ مه خطبه)
[2] (نورالثقلين تفسير)

حضرت علي وايي: «فان القرآن شفاء من اكبر داء و هوالكفر و النفاق و الغى و الضلال» - قرآن د كفر، نفاق او بېلارى درمل دى، چې سترې ناروغى دي[1].

*حضرت علي كرم الله وجهه ويلي: په قرآن كې ستاسې خبر، د تېرو او راتلونكيو تاريخ او د اسمان او ځمكې حالات راغلي دي[2].

*امام رضا رحمة الله عليه په يوې ناستې كې د اديانو مشرانو ته وويل: د اسلام پېغمبر صلى الله عليه و آله وسلم له معجزو دا ده، چې يو پلار مړى نشتمن او نالوستى شپون، داسې كتاب ولري، چې «تبيان كل شى» وي او تر قيامته د تېرو او راتلونكيو حالات او اخبار پكې كښل شوي وي.

*امام صادق رحمة الله عليه ويلي: د دوو تنو اختلافي مساله چې كوم آر يې هواروي، د الله تعالى په كتاب كې شته، كه څه د خلكو عقل پرې ونه رسي[3].

*قرآن د هر څيز څرگندوونكى دى؛ خو هر څوک نه پوهېږي؛ لكه چې حضرت علي كرم الله وجهه وايي: په قرآن كې عوامو ته ظاهري عبارت، خواصو ته رمزي اشارې، د الله تعالى وليانو ته الهي لورنې او انبياوو عليهم السلام ته حقايق پراته دي[4].

•د امام كاظم رحمة الله عليه له وينا گټنه كېږي، چې په قرآن كې، داسې علوم او رموز دي، چې طبيعت پرې تصرفولاى شو[5]. (سُيِّرَتْ بِهِ، قُطِّعَتْ بِهِ، كُلِّمَ بِهِ)

او په بل روايت كې يې ويلي: د قرآن په لټه كې شئ، چې ژوند مو د نېكمرغانو ژوند او مرگ مو د شهيدانو مرگ وي او د قيامت ورځې له حسرته وژغورل شئ؛ ځكه قرآن، د لوراند الله كلام او له شيطاني شره امان او خنډ او د تلې د درونوالي او برترى سبب دى[6].

پېغمبر اكرم صلى الله عليه و آله وسلم ويلي: ((اذا التبسَتْ عليكم الفِتن كالّيل المُظلم فعليكم بالقرآن فانّه شافع مشفّع [7]...د تپو تيارو او بوږنوړو فتنو په يرغل كې، قرآن ته پناه يوسئ، چې هم موعظه ده، هم شفا، هم رڼا او هم رحمت او لورنه ده.))

---

[1] -نهج البلاغه/١٧٦ خطبه
[2] (تفسير: كنزالدقائق)
[3] (نور الثقلين تفسير)
[4] (فرقان تفسير)
[5] (تفسير: كنزالدقائق)
[6] (بحار: ٨٩ ټ، ١٩ مخ)
[7] (بحار: ٩٢ ټ، ١٧ مخ)

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «شفاء لما فی الصدور من الامراض الخواطر و مشبّهات الامور: قرآن، ټولو روحي رنځوریو، شبهاتو او اندنو ته شفا ده[1]. »
حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: « انّ اللّه سبحانه لم یعظ احداً بمثل هذا القرآن...» الله تعالی هر چاته په قرآن نصیحت کوي؛ ځکه قرآن ټینگه رسۍ او الهي امن دی، د زړونو پسرلی او د علم سرچینه او د انسان زړه ته یوه ځلا ده، سره له دې چې یادوونکي ولاړل او یو شمېر هېروونکي پاتې دي[2].
پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: «اذا اردتم عیش السعداء و موت الشهداء والنجاه یوم الحشرة والظل یوم الحرور والهدی یوم الضلالة فادرسوا القرآن فانه کلام الرحمن وحرز من الشیطان و رحجان فی المیزان[3]=که نېکمرغه ژوند، شهادت ډولی مرگ او د قیامت له تودې او سوځنده ورځې بچېدل غواړئ؛ نو قرآن زده کړئ. د لوراند الله کلام دی، له شیطانه د خوندیتوب او په قیامت کې د تلې درنولو لامل دی.» په بل روایت کې یې ویلي: فیه کمال دینکم ما عدل احد عن القرآن الا الی النار= قرآن، ستاسې د دین کمال دی، څوک چې له قرآنه مخ واړوي، اور یې هستوگنځی دی[4]»
*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د قرآن له دوو آیتونو دوه ستر سبقونه زده کوو:
الف: چې پوهه و نه لرو، خبرې دې و نه کړو. «أَ لَمْ یُؤْخَذْ عَلَیْهِمْ مِیثاقُ الْکِتابِ أَنْ لا یَقُولُوا عَلَی اللّهِ إِلاَّ الْحَقَّ[5] »
ب: چې پوهه و نه لرو، کومه خبره دې رد نه کړو. «بَلْ کَذَّبُوا بِما لَمْ یُحِیطُوا بِعِلْمِهِ» همدا آیت.[6]
*عبدالعظیم حسني رحمة الله علیه له امام جواد نه روایتوي، چې علي کرم الله وجهه وویل: څلور ټکي مې وویل، چې الله یې آیتونه نازل کړي دي:
۱. « المرء مخبوء تحت لسانه» په ژبه کې د انسان وگړه - شخصیت ورنغاړل شوی. آیت نازل شو: «وَ لَتَعْرِفَنَّهُمْ فِی لَحْنِ الْقَوْلِ[7]»؛ یعنې دوی په خبرو اترو کې پېژنې.

---

[1] (نور الثقلین تفسیر)
[2] (نهج البلاغه: ۱۷۶ خطبه)
[3] (بحار: ۸۹ ټ، ۱۷ مخ)
[4] (کافي: ۲ ټ، ۶۰۰ مخ)
[5] (اعراف، ۱۶۹)
[6] (مجمع البیان تفسیر)
[7] (محمد، ۳۰)

۲.و مې ویل: «مَن جهل شیئاً عاداه» څوک چې پر کوم څیز پوه نشي، دښمني ورسره کوي، آیت نازل شو: «بَلْ كَذَّبُوا بِما لَمْ يُحِيطُوا»

۳.و مې ویل: «قیمه کلّ امرء ما یحسنه» د هر څیز ارزښت یې په وړتیا او کړنو کې دی، آیت نازل شو: «إِنَّ اللّهَ اصْطَفاهُ عَلَيْكُمْ وَ زادَهُ بَسْطَةً فِی الْعِلْمِ وَ الْجِسْمِ [1]»؛ یعنې الله، طالوت د ده د وسمنیو په پار غوره کړ.

۴. «القتل یقلّ القتل» د ظالم وژنه، د وژنې د زیاتېدو مخه نیسي، آیت نازل شو: «وَ لَكُمْ فِی الْقِصاصِ حَیاةٌ[2]»

* پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: « من اعطاه الله القرآن فرای ان رجلا اعطی افضل مما اعطی فقد صغر عظیما و عظم صغیرا [3]»

یعنې الله تعالی چې چاته قرآن ورډالۍ کړي او وانګېري، چې بل ته یو غوره څیز ورکړ شوی؛ نو ستر قرآن یې کوشنی ګڼلی او نا قرآن چې کوشنی دی، ستر یې ګڼلی دی.

## د قرآن کریم تلاوت

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د تلاوت حق، یوازې د آیتونو یادول (حفظ)، د ټکیو سبق، لوست (قرائت) او تجوید نه دی او د روایاتو له مخې، کوم کسان چې د قرآن د تلاوت حق پوره کوي، یوازې پاکلمني امامان دي[4].

*امام باقر رحمة الله علیه ویلي: د قرآن قاریان درې ډوله دي: یوې ډلې قرآن د ورهنې -کسب و کار او معاش وزله کړی، ځان پر خلکو تپي، یوه ډله په خوله قرآن وایي او په عمل کې یې احکام نه عملي کوي او هغه ډله چې قرآن یې لوستی او د خپل درد پر درملو پوهېږي او تل ورسره دی، الله تعالی ددې وګړیو له لارې عذاب لرې کوي او په پار یې باران نازلوي او دوی نادر (ډېر لږ) وګړي دي. «اعز من الکبریت الاحمر[5]»

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: تلاوت درېیو څیزونو ته اړتیا لري: خاشع زړه، فارغ بدن او تش ځای (موضع)؛ یعنې هغه حالت چې له مخکېني قضاوته تش وي.

---

[1] (بقره، ۲۴۷)
[2] (بقره، ۱۷۹؛ کافي: ۱ ټ، ۱٦٦ مخ)
[3] (کنزالدقایق)
[4] (اصول کافي: ۱ ټ، ۲۱۵ مخ).
[5] (کافي: ۲ ټ، ٦۲۷ مخ).

*قرآن که د پاکلمنو امامانو له تفسیر او نظریاتو سره وي، «کتاب الله و عترتی لن یفترقا»؛ نو پاکو زړونو ته ورننوځي، «هُدیً لِلْمُتَّقِینَ» د ښیون، ودې، ایمان او پوهې د زیاتېدو لاملېږي؛ لکه چې قرآن وایي: پېغمبره! «چې کله قرآن لولې؛ زه ستا او د هغو کسانو ترمنځ خنډ اچوم، چې پر آخرت ایمان نه لري. [1]»

*په حدیث کې لولو: د قرآن لوستو پر مهال، خپه شئ، وژاړئ یا ځان ژړغونی کړئ[2].

*په روایاتو کې لولو: پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د قرآن لوستو پرمهال «اعوذ بالله من الشیطان الرجیم» غوندله ویله[3].

*رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې قرآن ولولي او عمل پرې ونه کړي، الله تعالی یې ړوند راپاڅوي. دا بنده وایي: ولې دې ړوند راپاڅولم؟ غږ کېږي، دوزخ ته یې بوځئ[4].

## ترتیل څه ته وایي؟

*پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: ترتیل هغه دی، چې قرآن څرګند وویل شي (نه د شعر په څېر او نه د نثر په څېر)، له لطایفو سره د مخېدو پر مهال، تم شئ، روح او زړه مو پرې صیقل کړئ او له تلاوته دې ستاسې موخه، د سورت آخر ته رسېدل نه وي. [٦٠]

*حضرت علي کرم الله وجهه وویل: له ترتیل مراد، د وقف د ځایونو په پام کې نیول او د توریو ادا کول دي. [٦١]

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: ترتیل؛ یعنې رو رو او ښکلی قرآن لوستل، پکې تمېدل او د عذاب او اور د آیتونو د تلاوت پر مهال الله ته پناه وروړل او د جنت له آیتونو سره چې مخ شوئ؛ نو الله ته دعا وکړئ او له لوراند الله جنت وغواړئ. [٦٢]

---

[1] (اسراء، ۴۵)

[2] (صافی تفسیر)

[3] (کنز الدقائق تفسیر)

[4] (وسائل: ٦ ټ، ۱۸۴ مخ)

[٦٠] - مجمع البیان تفسیر

[٦١] - کنزالدقائق تفسیر و منهج الصادقین.

[٦٢] - نمونه تفسیر

## د حضرت ابراهیم د دعا پایله

له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روایت شوی چې ویې ویل: « أنا دعوه ابی ابراهیم: زه مې د پلار ابراهیم د دعا پایله یم، چې ویې ویل: « رَبَّنا وَ ابْعَثْ فِیهِمْ رَسُولاً مِنْهُمْ[۱] »

## شرافت او ستریا

*په غرر الحکم کتاب کې له حضرت علي کرم الله وجهه راغلي دي: « الشرف بالهمم العالیه لا بالرمم البالیه"«شرافت او ستریا په عالي او لوړو همتونو ده، نه د نیکونو په ورستو هډوکیو».

## حنیف

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: حنیف او حقپال دین، حق او اسلام ته ورماتېدنه او ثوبتیا ده[۲].

## شکر

*له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه روایت شوی چې الله تعالی وایي: «زه خلک پیدا کوم؛ خو دوی بې له ما (نور) لمانځي. زه روزي ورکوم؛ خودوی د نورو شکر کاږي[۳].

## مرداره غوښه

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: مرداره غوښه، د بدن د کمزورۍ، د نسل د پرېکون او ناڅاپي مړینې لاملېږي او د ویني په خوراک زړه سختېږي[٤].

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: که انسان په لوی لاس، په اضطرار حالت کې له ممنوع خوراکونو و نه خوري، او ومري؛ نو کافر مړ شوی دی[۵].

## د رنځور لمونځ

امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو، چې طبیب یو رنځور ته د استراحت او خوب دستور ورکړی؛ نو له لمانځه سره څه وکړي؟ امام دا آیت ورته ولوست، ویې ویل: لمونځ دې په ملاسته وکړي[٦].

---

[۱] (تفاسیر: صافی او المیزان).
[۲] (برهان تفسیر).
[۳] (تفسیر: صافی).
[٤] (وسائل: ١٦ ټ، ٣١٠ مخ).
[۵] (تفسیر نورالثقلین: ١ ټ، ١٣٠ مخ).
[٦] (تفسیر نور الثقلین: ١ ټ، ١۴۵ مخ)

## واقعي مؤمن

-لیس العاقل من یعرف الخیر من الشرّ و لکن العاقل من یعرف خیر الشّرین -عاقل هغه نه دی چې خیر له شره وپېژني او بېل کړي؛ بلکې هغه دی چې پر دوو شرونو کې، خیر یې غوره کړي[1].
-لیس العلم بکثره التعلّم انمّا هو نور یقذفه اللّه فی قلب من یرید -پوهه، په ډېره زده کړه نه ده. واقعي پوهه، یوه الهي رڼا ده چې پر زړونو لگي[2].
-لیس البرّ فی حُسن الزّی و لکن فی السکینه و الوقار -ستریا (بزرگي) په ظاهري سینگار کې نه؛ بلکې به ډاډمنتیا او وقار کې ده[3].
-لیس السخی...الذی ینفق ماله فی غیر حقّه و لکنه الّذی یؤدّی الی اللّه ما فرض علیه -سخی هغه نه دی چې هر چېرې، که څه بېځایه انفاق وکړي؛ بلکې هغه دی په هر ځای کې چې د الله تعالی رضا وي، انفاق وکړي[4].
- لیس العباده کثره الصیام و الصلاه و انمّا العباده کثره التفکّر فی امر اللّه - عبادت په ډېرو لمونځونو او روژې نیوو نه؛ بلکې د الله تعالی او دده د نښو په باب اندنه ده[5].
- اشدّ من یَتم الیتیم یتیمٌ انقطع عن امامه - هغه چې د حق مشر له پالندوینې بې برخې شوی، تر هغه خورا یتیم (پلار مړی) دی، چې مور و پلار یې له لاسه ورکړي دي[6].

## وصیت

*رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې لومړی د یوه تن د وصیت عملي کولو ذمه واري واخلي؛ خو روسته یې بې عذره خوشې کړي؛ نو دده هېڅ کړه وړه نه قبلېږي او د آسمان او ځمکې ترمنځ ټولې پرښتې لعنت پرې وایي او تل پرې د الله تعالی غضب دی

[1] (بحار: ۷۸ ټ، ٦ مخ).
[2] (بحار: ۱ ټ، ۲۲۵ مخ).
[3] (بحار: ۱ ټ، ۱۰٦ مخ).
[4] (بحار: ۷۱ ټ، ۳۵۲ مخ).
[5] (بحار: ۷۱ ټ، ۳۲۵ مخ).
[6] (بحار: ۱۰۸ ټ، ۱۷۱ مخ).

او چې کله هم «یا رب» وایي، یو لعنت پرې وربرې او د مخکېني ټولو کارونو بدله یې په وصیت کوونکي پسې لیکل کېږي[١].

په حدیث کې لولو: وصیت که څه د یهودي یا نصراني پر گټه وي، مه یې اړوئ[٢].

## روژه

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «روژه، نیم صبر دی[٣]».

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «څوک چې د الله تعالی لپاره د رمضان میاشتې روژه ونیسي، ټول گناهونه یې ببښل کېږي[٤]»

په قدسي حدیث کې راغلي، چې الله تعالی وایي: «الصوم لی و انا اجزی به» روژه زما لپاره ده او زه یې بدله ورکوم[٥].

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: هر څیز زکات لري او د بدنونو زکات، روژه ده[٦].

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «که څوک په سفر کې روژه ونیسي، زه یې د جنازې لمونځ نه کوم». په قرطبي تفسیر کې هم راغلي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په رمضان میاشت کې له مدینې نه مکې ته په سفر کې، اوبه وغوښتې د اوبو لوښی یې په ورغوي کې ونیو، چې خلک یې ووینې او بیا یې اوبه وڅښلې.

په هر حال که مسافر یا رنځور روژه ونیوه، روژه یې باطله او باید قضا یې راولي[٧].

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: ان که کومه مور د خپل تي خور یا پر گېډه ماشوم په باب اندېښمني لري، باید روژه وخوري او دا د الله تعالی د مهربانۍ او لورنې نښه ده[٨].

په برهان تفسیر کې له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روایت شوی، چې ویلي یې دي: «ټول آسماني کتابونه، په رمضان میاشت کې نازل شوي دي. د رمضان میاشت، د الله تعالی غوره میاشت ده.″آن حضرت صلی الله علیه و آله وسلم د شعبان میاشتې په روستۍ جمعه

---

[١] «تفسیر: اطیب البیان».

[٢] «تفسیر نورالثقلین: ١ ټ، ١٥٩ مخ).

[٣] (المنار تفسیر، تر آیت لاندې)

[٤] (مراغي تفسیر).

[٥] (مراغي تفسیر، ٢ ټ، ٦٩ مخ).

[٦] (بحار: ٦٩ ټ، ٣٨٠ مخ).

[٧] (نورالثقلین تفسیر: ١ ټ، ١۴٦ مخ).

[٨] (برهان تفسیر: ١ ټ، ١٨٢ مخ).

کې، د رمضان میاشتې په عظمت کې اوږده وینا (خطبه) اورولې، چې په ځینو تفاسیرو او روایي کتابونو کې راغلې ده[1]. همدغسې په صحیفه سجادیه[2] کې، امام سجاد د رمضان میاشتې په وداع (الله پامانۍ) کې دردوونکي مناجات لري.

## د مېلمستیا آداب

*په وسائل[3] کې، د یوه اوږده روایت په ترڅ کې، د روژه تي د اخلاقو په باب لولو: روژتي باید، له دروغو، گناه، مجادلې، کینې، غیبت، له حق سره مخالفت، کنځلو، ټپسورۍ (سرزنش)، غوسې، پېغور، ظلم، د خلکو له ځورونې، غفلت، له فاسدانو سره له ناستې پاستې، خبرلوڅۍ او حرام خورۍ ډډه وکړي او د لمانځه، صبر، صداقت (رښتینوالی) او قیامت په اړه ځانگړې پاملرنه ولري.

په دې مېلمستیا کې د حضور شرط، تش د لوږې زغمل نه دي، په حدیث کې راغلي دي: «څوک چې د آسماني مشرانو له اطاعته، سرغړونه وکړي او یا په کورني او شخصي چارو کې له خپلې مېرمنې سره بد چلنه، توندخویه او نامهربان وي او یا یې د مشروعو غوښتنو له ورپوره کولو ډډه وکړي او یا موروپلار ترې ناراضي وي؛ نو روژه یې قبوله نه ده او ددې مېلمستیا شرط یې پوره کړی نه دی».

## بډې

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم علي کرم الله وجهه ته وویل: «یا عليّ! من السُّحت ثمن المیته والکلب والخمر و مهر الزانیه والرشوه فی الحکم: د مردارې، سپي، شرابو او زنا له لارې راغلې پیسې او بډې یو رنگ او حرامې دي[4]».

حضرت علي کرم الله وجهه د مائدې تر ۴۲ آیت (أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ) لاندې وایي: دوی هغه کسان دي، چې د خلکو ستونزاواری یې کړې او په بدل کې ډالۍ ترې اخلي[5].

امام صادق رحمة الله علیه بډې پر الله تعالی د کفر په برید کې بولي.

---

[1] (بحار: ۹٦ ټ، ۳۵٦ مخ)

[2] (یادونه: دا دعاوو ټولگه بنده په پښتو هم ژباړلې ده)

[3] (۷ ټ، ۱۱۹ مخ)

[4] (بحار: ۷۷ ټ، ۵۴ مخ).

[5] (بحار: ۱۰۴ ټ، ۲۷۳ مخ).

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم بدې ورکوونکی، اخستونکی او منځګری یې لعنت کړی او ویلي یې دي: بدېخور ته د جنت بوی نه ور رسي[1].
په بل حدیث کې لولو: هر چارواکی، چې د خلکو د ستونزو په باب بې توپیره وي، الله تعالی خپله لورنه پرې نه ورلوروي او که په ډالی د خلکو کار وکړي، په ځنځیر کې دی او که بدې واخلي؛ نو مشرک دی[2].
حضرت علي کرم الله وجهه بدې اخستونکی د ولایت له حقه بې برخې ګڼي (نهج البلاغه، ۱۳۱ مه خطبه). همدغسې یې ویلي: یوازې په ډار، اندېښمنی او تشویش اخته ډله بدې اخلي[3].

## حج

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د حج له اثارو یو یې، د نړی له بېلابېلو سیمو څخه د مسلمانانو د سترې غونډې جوړېدل او د ډول ډول تجاربو لېږد رالېږد دی او (هم) د اقتصادي راکړې ورکړې لاره چاره ده[4].

## د ژوند کړاوونه

*داچې انسان په کړاو او ستونزو کې پنځول شوی؛ یعنې دنیوي بریاوې او خوندونه له کړاو او زحمت سره دي. «لَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسانَ فِی کَبَدٍ» حضرت علي کرم الله وجهه وایي: دنیا هغه کور دی، چې له ستونزو سره مل دی. «دار بالبلاء محفوفه[5]»
*له پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم څخه په یوه روایت کې لولو: « ان الجنه حفت بالمکاره و ان النار حفت بالشهوات: جنت په سختیو کې نغښتل شوی او اور په شهواتو کې[6]»
*په بل روایت کې راغلي: «په دنیا کې په سختیو کې راښکېلو مؤمنانو ته داسې اجر دی، چې نور وایي: کاشکې، دا سختي له لا ډېرو سختیو سره راته وای[7]»

---

[1] (بحار: ۱۰۴ ټ، ۲۷۴ مخ).
[2] (وسائل: ۱۲ ټ، ٦٣ مخ).
[3] (نهج الفصاحه: ۲٦۹۳ ګڼه حدیث).
[4] (وسایل: ۸ ټ، ۹ مخ).
[5] -. نهج البلاغه، ۲۲٦ خطبه
[6] (تفسیر: کاشف: ۱ ټ، ۳۱۹ مخ)
[7] (تفسیر: منهج الصادقین: ۱ ټ، ۵۵۲ مخ)

## خپلوان

*په حدیث کې لولو: « لاصدقه و ذو رحم محتاج: چې خپلوان دې اړمن وي؛ نو نورو ته د صدقې ورکولو وار نه ورسي[1] ».

## د خوف لمونځ

په احادیثو کې لولو، چې پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د احزابو په جګړه کې، په اشارې لمونځ وکړ او حضرت علي کرم الله وجهه په ځینو جګړو کې دستور ورکاوه، چې د جګړې پر وخت په اشارې لمونځ وکړئ. امام کاظم رحمة الله علیه د یوې پوښتنې په ځواب کې وویل: که داړونکي برید راباندې وکړ او د لمانځه وخت هم تنګ و، څه وکړو؟ و یې ویل: پر کوم حالت چې یاست لمونځ وکړئ، که څه قبلې ته مو شا وي[2].

## پور ورکول

*په روایاتو کې، د قرض الحسنې بدله اتلس ګرایه؛ خو د صدقې (خیرات) بدله، لس ګرایه راغلې[3] او ددې توپیر دلیل دادی چې پور اړمن وګړي اخلي، خو ډالۍ او بخشش کله نااړمنو ته هم ورکول کېږي[4].

*د روایاتو په وینا: څوک چې پور ورکولای شي؛ خو ور یې نکړي، الله تعالی د جنت بوی پرې حراموي[5].

## منت ایښوونکی

په مجمع البیان کې یو حدیث روایت شوی، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «الله تعالی په قیامت کې منت ایښودونکیو ته په لورنې نه ګوري».

---

[1] (بحار: ۷۷ ټ، ۵۹ مخ)

[2] (نمونه تفسیر: ۲ ټ، ۱۴۸ مخ. نور الثقلین: ۲ ټ، ۲۳۹ مخ)

[3] بحار: ۷۴ ټ، ۳۱۱ مخ

[4] بحار: ۱۰۰ ټ، ۱۳۸ مخ.

[5] (بحار، ۱۰۰ ټ، ۱۳۸ مخ)

## له سوالگر سره چلن

*رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: که سوالگر درغی؛ نو له دې دوو کړنو، په یوې ورسره وچلېږئ: «بذل یسیر او رد جمیل» چې څه مو له وسې کېږي، ور یې کړئ، یا یې په ښه دود رخصت کړئ[1].

همدغسې یې ویلي: «که په مال له خلکو سره مرسته نشئ کړای؛ نو ښه خوي ورسره وکړئ[2]»

## «لا اله الا الله»

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې «لا اله الا الله» ووایي، په دې کار په جنت کې یوه و نه ورته کرل کېږي او همدغسې که څوک «الله اکبر» ووایي. چا پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ته وویل: نو په جنت کې مو ونې ډېرې دي! حضرت وویل: هو، په دې شرط چې اور ورپسې ونه لېږئ او و یې نه سوځوئ[3].

## حکمت، معرفت او تفقه

*په روایاتو کې لولو: حکمت، معرفت او په دین کې تفقه (ژوره پوهېدنه) ده. حکمت، د الله تعالی اطاعت، د امام پېژندنه او له کبیره گناهونو ډډه کول دي[4].

## زکات

په احادیثو کې لولو: پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم سوگند یاد کړ: زکات نه ورکول، خیانت او شرک دی [۱۰] او څوک چې د قیراط هومره زکات هم ورنکړي، نه بشپړ مؤمن دی، نه بشپړ مسلمان دی او نه کرامت لري او څوک چې زکات نه ورکوي؛ نو یا یهودي مري یا نصراني.[۱۱]

*امام باقر رحمة الله علیه تردې آیت لاندې وویل: فرضي زکات په ډاگه ورکړئ؛ خو مستحبي زکات په پټه[5].

---

[1] (قرطبی او نمونه تفاسیر، تر آیت لاندې)

[2] (کاشف تفسیر: ۱ ټ، ۲۷۲ مخ).

[3] (بحار: ۸ ټ، ۱۸٦ مخ)

[4] (نور الثقلین تفسیر: ۱ ټ، ۲۸۷ مخ).

[۱۰] - بحار، ۹٦ ټ، ۲۹ مخ

[۱۱] - میزان الحکمه، د زکات ماده

[5] (نور الثقلین: ۱ ټ، ۲۸۹ مخ)

ښايي دليل دا وي، چې فرضي زكات يوه عمومي، معمولي او له ريا لرې دنده ده. كه څه آيت د مالي مرستو په باب دی؛ خو د اسلام په فرهنګ كې، هر خير كار ته صدقه ويل كېږي. ان كه د مسلمانانو له لارې يوه ډېره هم څنډې ته كړو، صدقه ده؛ نوځكه په علم، پت او وساطت، له بېوزليو سره مرسته هم صدقه ده.

## ربا/ سود

امام باقر رحمة الله عليه ويلي: سود خوړل، خبيث ترين عايدات دي[1].

رسول اكرم صلى الله عليه و آله وسلم ويلي: چې كله الله تعالى د يوه كلي د هلاكت اراده وكړي، په كلي كې سود خوري ښكاره كېږي.[2] او الله تعالى سودخور، وكيل، شاهد او د ربا ليكوال (كاتب) لعنت كړي دي[3]. په حديث كې لولو: په قيامت كې سودخواره د لېونيو په څېر محشورېږي[4].

*امام صادق رحمة الله عليه د ربا آيتونو د تكرار (بياځلي) علت، خيريه چارو او صدقاتو ته د شتمنو چمتو كېدنه بولي او وايي: داچې يو خوا «ربا» حرامه ده او بلخوا شتمني زېرمه او ډېرې كېږي او پر ټپه ولاړ حالت خپلوي؛ نو شتمنو ته بې له انفاق او يا ګټورو توليدي كارونو بله چاره نه پاتېږي[5].

همدغسې يې د ربا د تحريم د علت په باب ويلي: سودخواره د توليد او ټولګټو چارو په لار كې د پيسو د جريان خنډ دي او د هڅو، فكر او مټ پرځاى، يوازې د پيسو له سوده ګټه اخلي؛ نوځكه ربا تحريم شوې ده.

امام صادق رحمة الله عليه ويلي: « لو كان الربا حلالا لترک الناس التجارات: كه ربا حلاله واى؛ نو خلكو كسب وكار ته ورشا كوله[6]» او امام رضا رحمة الله عليه هم ويلي: «كه ربا دود او خپره شي، د پور وركړه بندېږي[7]» ضمناً دا چې په اقتصادي چارو كې د سود په لومه كې د لوېدو احتمال ډېر دی؛ نو په يوه حديث كې لولو: « من اتّجر بغير فقه فقد ارتطم فى الربا:

---

[1] (كافي: ۵ ټ، ۱۴۷ مخ).
[2] (كنزالعمال: ۴ ټ، ۱۰۴ مخ).
[3] (وسايل: ۱۲ ټ، ۴۳۰ مخ)
[4] (درالمنثور تفسير: ۲ ټ، ۱۰۲ مخ.)
[5] (وسائل: ۱۲ ټ، ۴۲۳ مخ)
[6] (وسائل: ۱۲ ټ، ۴۲۴ مخ او بحار: ۱۰۳ ټ، ۱۱۹ مخ)
[7] (الحياة: ۴ ټ، ۳۳۴ مخ)

ځوک چې د سوداګرۍ په فقهي چارو نه پوهېږي او لاس پرې پورې کړي؛ نو په سودخورۍ کې ښکېلېږي[۱]».

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: سودخوري، له هغو ګناهونو ده، چې لاملېږي سودخور د مرګ پر مهال خپل ایمان له لاسه ورکړي او د کافرانو په لیکه کې شي[۲].

## د سوداګریزو معاملو سند

*په حدیث کې راغلي: که ځوک په معلامله کې سند (لاسوند) او شاهد و نه نیسي او مال یې تلف شي، چې ځومره دعاګانې وکړي، الله تعالی یې نه قبلوي او وایي: ولې دې زما سپارښتنې عملي کړي نه دي؟![۳]

## فکر او نیت

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: خلک د خپلو افکارو او نیتونو له مخې مجازاتېږي[٤].

## اسان دین

د اسلام پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي: « عثنی بالحنیفیه السهله السمحه»: زه په اسان او سهل دین مبعوث شوی یم[٥].

## فرقان

*امام صادق رحمة الله علیه د ((أَنْزَلَ الْفُرْقانَ)) په هکله ویلي دي: «هر ټینګ امر، فرقان دی او په «أَنْزَلَ الْکِتابَ» کې، کتاب ټول قرآن دی[٦].

## سهارمهال استغفار کوونکي

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: په سهار کې له استغفار او ښښنې غوښتو مراد، په همدې وخت کې لمونځ کول دي[٧].

---

[۱] (نهج البلاغه: قصار ۴۴۷. )

[۲] (عیاشي تفسیر)

[۳] (کنزالدقائق: ۲ ټ، ۴٦٧ مخ.

[٤] (نهج البلاغه: ٧۵ خطبه).

[٥] (بحار: ۲۲ ټ، ۲٦۳ مخ).

[٦] (عیاشي تفسیر: ١ټ، ١٦٢ مخ)

[٧] (مجمع البیان تفسیر)

په ځینو روایاتو کې راغلي دي: که څوک یو کال پرلپسې د شپې لمانځه په قنوت کې او یا ځل استغفار وکړي، په دې آیت کې رانغاړلېږي[1].
ابي بصیر، امام صادق رحمة الله علیه د ((ٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحارِ)) په باب وپوښت: و یې ویل: رسول اکرم په وتر لمانځه کې اویاځل استغفار کاوه[2].
مفضل بن عمر وایي: امام صادق رحمة الله علیه ته مې وویل: د شپې لمونځ رانه ځي او ګیهځ تر لمانځه روسته یې قضایي راوړم؟ امام وویل: سمه ده؛ خو کورنۍ ته دې یې مه ورښکاره کوه؛ ځکه دا به سنت او دود بولي او په دې توګه به د الله پاک وینا ((ٱلْمُسْتَغْفِرِينَ بِالْأَسْحارِ)) ته ور شا کوي.[3]

## د الله تعالی لپاره عاجزي

په روایاتو کې لولو:څوک چې د الله جلّ جلالهُ لپاره تواضع او عاجزي وکړي، الله جلّ جلالهُ یې عزتمنوي او څوک چې کبر وکړي، الله تعالی یې ذلیلوي[4].

## ځوځات

* امام باقر رحمة الله علیه د «إِنَّ اللّهَ اصْطَفى... ذُرِّيَّةً...» آیت په اړه ویلي: ((موږ له هغو غوره کړای شویو او د هغه ځوځات (عترت) پاتې شوني یو[5]))

## د حضرت عیسی معجزه

امام رضا رحمة الله علیه ویلي: عیسی علیه السلام پر داسې مهال راښکاره شو، چې رنځورۍ خپرې وې او خلکو طبیب ته اړتیا درلوده[6]؛ نوځکه یې معجزې د رنځورانو د رغېدا پر لور وې.

## د الله تعالی مکر

امام صادق او امام رضا ویلي: د الله تعالی له مکره مراد، د مکر سزا ده، که نه الله تعالی خو څه مکر والا (چلي) نه دی[7].

---

[1] (اطیب البیان تفسیر او من لا یحضر: ۱ټ، ۳۰۹ مخ)
[2] تهذیب الاحکام: ۲ټ، ۱۲۰ مخ.
[3]. مستدرک، ۳۲۵۹ ګڼه حدیث
[4] (بحار: ۱٦ټ، ۲٦۵ مخ)
[5] (عیاشي تفسیر: ۱ټ، ۱٦۸ مخ)
[6] (عیون الاخبار الرضا: ۲ټ، ۸۰ مخ)
[7] عیون اخبار الرضا: اټ، ۱۲٦ مخ)

## ايماني اړيکه تر خپلوۍ غوره ده

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د سلمان فارسي (رض) په اړه وايي: « سلمان منا أهل البيت[1] »

په يوه روايت کې راغلي: «انّ وليّ محمّد مَن اطاع اللّه و انْ بَعُدتْ لَحمَته، و انّ عدوّ محمّد مَن عَصی اللّه و انْ قَرُبتْ قَرابته[2] » هغه د محمد صلی الله علیه و آله ملگری او لاروی دی چې د الله تعالی اطاعت وکړي، که څه له کورني اړخ ترې لرې وي او هغه د پيغمبر دښمن دی چې له الله تعالی سرغړونه وکړي، که څه له پيغمبر سره اړيکه او خپلوي ولري.

## د قبلې بدلېدل

امام صادق رحمة الله علیه وايي: چې کله رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم د ماسپښين په لمانځه کې له بيت المقدس څخه کعبې ته د قبلې د بدلون حکم وکړ؛ نو يهودو وويل: څه چې د ورځې په پيل کې وه، ايمان پرې راوړئ، خو څه چې د ورځې په پای کې راغلي (د قبلې بدلېدل). پرې کافر شئ، چې دوی له هغې قبلې راوگرځي او بيت المقدس خوا ته لمونځ وکړي[3].

## امانت

په رواياتو کې راغلي دي: «امانت يې خپل خاوند ته وسپارئ ان که فاسق وي[4] »

په شيعه او سني رواياتو کې راغلي چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ويلي: «لَا إِيمَانَ لِمَنْ لاَ أَمَانَةَ لَهُ وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ» څوک چې امانت مراعات نه کړي، پوره ايمان نه لري او هغه چې پر خپله ژمنه ولاړ نه وي، پوره دين نه لري[5].

## په درنه بلل

په رواياتو کې راغلي: خپلو مريانو ته «عَبدی» مه وياست؛ بلکې «فتی» ووياست او مريان دې هم خپل مولا ته «ربّی» نه وايي؛ بلکې «سَيّدی» دې وايي[6].

---

[1] بحار، ۱۰ټ، ۱۲۳ مخ

[2] مجمع البيان تفسير

[3] الميزان تفسير، تر همدې آيت لاندې.

[4] (مجمع البيان تفسير، ۲ټ، ۷۷۸ مخ)

[5] (تفاسير: نور الثقلين او مراغي)

[6] (قرطبی تفسير)

## د رسول الله په اړه دوې هلاکې شوې ډلې

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: په باب مې دوه ډلې هلاکې شوې دي: ۱-افراطي لارویان، چې له بشري بریده یې پورته کړی یم. ۲-بې انصافه دښمنان، چې پېغمبري مې نه مني او زه له دواړو ډلو کرکجن یم. حضرت عیسی علیه السلام هم د خپلو لارویانو له غوړونو دا خبره تېره کړې وه او په نهج البلاغه کې له حضرت علي کرم الله وجهه هم دغسې یوه مانا راغلې ده.

همدغسې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: « لاتَرفعونی فَوق حقّی فاِنّ اللّه تعالی اتّخذَنی عَبداً قبل ان یَتّخذَنی نَبیّاً » له خپل حق مې پورته مه بوځئ، په رښتیا الله تعالی مخکې تردې چې پېغمبر مې کړي، بنده یې پنځولی یم. ورپسې یې دا آیت ولوست[1].

## پېغمبران یو د بل تاییدونکي دي

•حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «الله له مخکېنیو پېغمبرانو ژمنه اخستې چې خلک د پېغمبر اسلام له بعثته خبر کړي او دوی ته د حضرت صلی الله علیه و آله وسلم د تصدیق او منلو حکم وکړي»[2].

*په ټول قرآن کې د ۲۶ پېغمبرانو نامې راغلي، چې د یوولسو نامې یې په دې آیت کې راغلي دي: آدم، ادریس، هود، صالح، لوط، یوسف، شعیب، ذی الکفل، موسی، الیاس، یسع، زکریا، یحیی، عزیر، او حضرت محمد (علیهم السلام).

*روایت دی: څه چې تېرو پېغمبرانو ته وحې شوي ول، د اسلام پېغمبر ته هم وحې شوې ده[3].

### د مؤمنانو د انفاق بېلګې

۱-ابوطلحه انصاري (رض)، په مدینې کې د کجورو ډېرې ونې درلودې او دا بڼ ورته ډېر ګران و. بڼ نبوي جومات ته مخامخ و، د رڼو ابو چینه پکې بهېده. رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم کله نا کله دې بڼ ته ورننوته او له دې چینې یې اوبه څښلې. دې ښکلي او ښه بڼ ښه عایدات درلودل، چې خلکو یې په هکله خبرې کولې. چې کله د « لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ حَتَّی.. »آیت

[1] (نورالثقلین تفسیر)

[2] (مجمع البیان تفسیر)

[3] (نورالثقلین تفسیر)

نازل شو؛ نو حضرت ابوطلحه پېغمبر صلى الله عليه و آله وسلم ته ورغی، ویې ویل: دا بڼ راته ډېر گران دی، غواړم د الله تعالی په لار کې یې نفقه کړم. پېغمبر صلى الله عليه و آله وسلم وویل: ښه سوداگري ده، آفرین دربانديې؛ خو وړانديز مې دا دی چې دا بڼ د خپلې کورنۍ او خپلوانو فقیرانو ته ورکړې. ویې منله او همدغسې یې وکړل[1].

۲-څو تنه د ابوذر غفاري (رض) مېلمانه شول. ابوذر وویل: زه څه بوختیا لرم، تاسې خپله زما یو اوښ ذبح او خواړه چمتو کړئ. مېلمنو ډنگر اوښ غوره کړ. ابوذر خپه شو، و یې پوښتل: ولې مو غوښن او څربه اوښ رانه ووړ؟ ویې ویل: هغه مو ستا راتلونکې اړتیا ته پرېښود. ابوذر وویل: د اړتیا ورځ مې د قبر ورځ ده[2].

۳. چې کله یې فاطمة الزهرا (س) د واده پر شپه خپل مېړه کره بوتله، یوې فقیرې زوړ کمیس ترې وغوښت. فاطمې ته د «لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ... » آیت وریاد شو او د خپل واده کمیس یې ورکړ.

۴. عبدالله بن جعفر (رض)، یو تور مریی ولید، چې په یوه بڼ کې کار کوي. د خوړو پر مهال یې یو سپی بڼ ته راننووت او مخامخ یې مریي ته گونډه ووهله. مریي یوه مړۍ ورکړه. بیا سپي په خپلو کتو ډوډۍ وغوښته. مریي کپ کپ خپل خواړه سپي ته ورکړل، چې تمام شول. وپوښتل شو: خپله څه خورې؟ و یې ویل: نن مې څه برخه نشته. و یې پوښتل: ولې دې دا کار وکړ؟ ویې ویل: دا سپی له لرې راغلی او وږی و. عبدالله (رض) د مریي له ځوانمردۍ حیران شو. دا بڼ او مریی یې وپېره. مریی یې ازاد کړ او بڼ یې وروباښه[3].

• په احادیثو کې ددې آیت په باب لولو: برّ ته د رسېدو لار، له مور و پلار سره یې تر غوښتنې مخکې مرسته ده، که څه مړه خوا وي[4].

•امام صادق رحمة الله عليه خپل زدکړیال مفضل بن عمر ته وویل: له پلاره مې واورېدل، چې ویل یې: د چا پر مال چې کال واوړي او لږ یا ډېر زموږ حق تر ې را نه کړي، الله تعالی د قیامت پر ورځ ورته نه گوري؛ خو داچې و یې ښښي. مفضله! دا یو مکلفیت دی چې الله تعالی زموږ

---

[1] (تفسیر کبیر، مجمع البیان او صحیح بخاري، ۲ ټ، ۸۱ مخ)

[2] (مجمع البیان تفسیر)

[3] (المنار تفسیر)

[4] (کافي: ۲ ټ، ۱۵۷ مخ)

پر لارویانو لازم کړی، تردې چې په خپل کتاب کې وايي: « لَن تَنَالُواْ الْبِرَّ... » نو مورږ برّ، تقوا او د هدايت لار یوو[1].

## کعبه

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د الله کور ته ځکه «بیت الحرام» وايي، چې د کفارو ورننوتل منع دی[2].

امام صادق رحمة الله علیه د «اول بیت» جملې په پامنیوي ویلي: «داچې د مکې خلک تر کعبې روسته، پر شاوخوا یې ورټول شول؛ نو کعبه د لومړیت حق لري؛ نوځکه د مسجد الحرام پراخوالي ته د حرم پر ګټه د کعبې د چاپېریال کورونه ویجاړولای شو[3]»

•((دَحوُالارض)) تر کعبې لاندې د ځمکې د پراخی پر مانا ده. اروابناد طباطبايي وايي: د «دَحوَالارض» روایات ډېر دي او ورسره په ټکر کې هېڅ علمي دلیل پیدا شوی نه دی او له قرآن سره هم کوم مخالفت نه لري[4].

•حضرت علي کرم الله وجهه وايي: الله تعالی ټول خلک له آدم علیه السلام نه تر روستي وګړي، د کعبې په همدې ډبرو ازمېيي[5].

•امام باقر رحمة الله علیه ویلي: حضراتو آدم، سلیمان او نوح (علیهم السلام) هم له همدې کعبې نه په چورلېدو، حج کړی دی[6].

علي کرم الله وجهه وايي: «الله الله فی بیت ربکم لا تخلوه ما بقیتم فانه ان ترک لم تناظروا[7]» د خپل پالونکي د کور په باب له الله وډار شئ، له الله وډار شئ، که دا خوشې او ایله کړئ او تشه یې پرېږدئ، بې درنګه الهي عذاب مو رانغاړي.

---

[1] (عیاشي تفسیر)

[2] (نورالثقلین تفسیر)

[3] (وسائل: ۱۳ ټ، ۲۱۷مخ)

[4] (المیزان تفسیر)

[5] (نهج البلاغه: ۱۹۲ مه خطبه)

[6] (برهان تفسیر: ۱ ټ، ۳۰۰ مخ)

[7] (نهج البلاغه، ۴۷ لیک)

## حج

د اسلام پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم علي كرم الله وجهه ته وويل: «تارک الحج و هو مستطیع کافر» هر وسمن چې حج پرېږدي، کافر دی. څوک يې چې په کولو کې نن و سبا کوي او ومري، ته وا په اسلام کې مړ شوی نه دی[1].

•امام صادق رحمة الله علیه د «آیات بینات» په باب ویلي: مطلب، د «ابراهیم علیه السلام مقام»، «حجرالاسود» او «حجر اسماعیل» دی او امام يې وپوښت، له «من دخله» مراد کعبه ده یا حرم؟ ویې ویل: حرم[2].

•امام صادق رحمة الله علیه د « مَن دَخَلَهُ كَانَ آمِنًا » په اړه وپوښتل شو: ورته يې وويل: څوک چې ددې کور نیت وکړي او پوه شي چې دا هماغه کور دی، چې الله تعالی ورته د تګ حکم کړی او اهل بیت علیهم السلام څنګه چې دي، وپېژني؛ نو په دنیا او آخرت کې به په امان کې وي[3].

## حبل الله

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: قرآن، حبل الله دی[4]. او له امام صادق رحمة الله علیه روایت شوی چې ویلي يې دي: «نحن حبل الله[5]»، موږ اهل بیت حبل الله یوو. او په بل روایت کې راغلي: علي بن ابیطالب حبل الله دی[6].

## خپله غوسه کابو کول

•یوه ورځ د امام سجاد د یوه چوپړیال له لاسه، چې دده سر و مخ يې مینځه د اوبو لوښی ولوېد او د امام سر يې ټپي کړ. نوموړی پوه شو، چې امام خپه شو. بې درنګه یې وویل: «وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ »، امام وویل: خپله غوسه مې سړه کړه، هغه دویم ځل وویل: « وَالْعَافِينَ عَنِ

[1] (من لا یحضره الفقیه، ۴ ټ، ۳۶۸ مخ؛ کافي: ۴. ۲۶۵ مخ)
[2] (کافي: ۴ ټ، ۲۲۳ مخ)
[3] (کافي: ۴ ټ، ۵۴۰ مخ)
[4] نهج البلاغه، ۱۷۶ مه خطبه
[5] مجمع البیان تفسیر
[6] نورالثقلین تفسیر

النَّاسِ » امام وویل: ومې ښښلې. هغه وویل: « وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ » امام وویل: د الله په لار کې ازاد یې[1].

•امام صادق رحمة الله علیه ویلي: څوک چې خپله غوسه تېره کړي، الله تعالی یې په دنیا او آخرت کې عزت ورزیاتوي. الله تعالی ویلي: « وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ... وَاللّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ » دا د هغې غوسې د تېرولو بدله ده[2].

## توکل

په حدیث کې راغلي چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ، حضرت جبرئیل امین وپوښت: پر الله توکل څه دی؟ و یې ویل: داچې پوه شې، مخلوق، څه گټه و زیان دررسولای نشي او له غیر الله پوره نهیلی شې.

که انسان دې درجې ته ورسېد، یوازې الله تعالی ته کار کوي او له غیرالله نه ډارېږي او بې له الله چاته هیلمن نه وي او دا د توکل حقیقت دی[3].

## الهي سپکاوی او خوارونه

•امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «چې کله د انسان او گناه ترمنځ، څه خنډ پېښ نشو او انسان پر گناه اخته شو؛ نو دا الهي سپکاوی او خوارونه ده[4]».

## غل

•امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «په دوزخ کې د خائن (غل) سترگو ته د غلا مال او غلا شوی جنس انځورېږي، ورته ویل کېږي اور ته ورننوځه او راویې باسه[5]»

## چارواکي ته ډالۍ

د زکات راټولو یو چارواکی، رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته ورغی، و یې ویل: دا اندازه راټول کړي اموال زکات دی او په تاسې پورې اړه لري او دغه اندازه ماته د خلکو ډالۍ

[1] (تفاسیر: مجمع البیان او روح البیان)
[2] (کافي، ۲ ټ، ۱۱۰ مخ)
[3] (بحار: ۷۱ ټ، ۱۳۸ مخ)
[4] (برهان تفسیر: ۱ ټ، ۳۲۳ مخ)
[5] (نور الثقلین تفسیر)

ده. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم پر منبر وویل: که دا سړی په خپل کور کې کېناسته، چا ډالۍ ورکوله؟! پر الله قسم، دا به له همدې حرامو مالونو سره په قیامت کې محشور شي[١].

## د خلکو خولې

له امام صادق رحمة الله علیه روایت شوی، چې ویلي یې دي: «د خلکو رضایت نه ترلاسه کېږي او خولې یې کابو کېدونې نه دي[٢]».

## شهید او شهادت

١.په روایاتو[٣] کې راغلي، چې شهید ته الله تعالی اوه ځانګړنې ورکړې دي: د وینې لومړی څاڅکی یې د ګناهونو د ښنې لاملېږي. خپل سر د حورالعین په لمن کې ږدي. جنتي جامې وراغوستل کېږي، په خورا خوش بویه عطرونو معطرېږي، په جنت کې خپل مقام ویني، په ټول جنت کې د ورګرځېدو اجازه ورکول کېږي، پردې لرې کېږي او د الله تعالی مخ (وجه) ننداره کوي.

٢.پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم له چا واورېدل، چې په دعا کې وایي:

((اسئلک خیر ما تسئل» الله! بهترین څیز چې درنه غوښتل کېږي، راېې کړه، ویې ویل: که دا دعا قبوله شي، د الله په لار کې شهیدېږي[٤].

٣.په روایت کې راغلي دي: تر هرې نېکۍ اوچته نېکي نشته؛ خو شهادت، چې که څوک شهید شي، تردې اوچت کوم خیر ورته نه انځورېږي[٥].

۴.د قیامت پر ورځ، شهید شفاعت کړای شي[٦].

۵.له امام صادق رحمة الله علیه روایت شوی چې یې وویل: په قیامت کې د شهید ښویېدنې خپله همده ته هم نه ورښودل کېږي[٧].

٦.د برید د لومړی لیکې د شهیدانو، مقام برتر دی[٨].

---

١ (فرقان تفسیر)

٢ (نور الثقلین تفسیر)

٣. وسائل، یوولسم ټوک، ١٠ مخ.

٤ (مستدرک: ٢ ټ، ٢۴٣ مخ)

۵ (بحار: ٧۴ ټ، ٦١ مخ)

٦ (بحار: ٢ ټ، ١۵ مخ)

٧ (وسائل: ١١ ټ، ٩ مخ)

٨ (میزان الحکمة)

۷.مجاهدین جنت ته په ځانګړې ور ورننوځي[۱]. او تر ټولو مخکې جنت ته ځي[۲] او هلته ځانګړی مقام لري[۳].
۸.یوازې شهید نړۍ ته د بېرته راتلو هیله کوي، چې دویم ځلي شهید شي[٤].
۹.ډېر غوره او برترین مرګ، شهادت دی[٥].
۱۰.کوم څاڅکی وینه چې د الله تعالی په لار کې تویه شي، تردې بل کوم څیز الله تعالی ته ګران نه دی[٦].
۱۱.په قیامت کې، شهید وسلوال، جنګي جامې اغوستي وي، ښه بوی ترې خېژي، ډګر ته راځي او پرښتې درود پرې وایي[۷].
۱۲.د نبوي کورنۍ امامان شهیدان شوي، ډېر انبیاء او لارویان یې هم شهیدان شوي دي. «وَكَأَيِّنْ مِنْ نَبِيٍّ قَاتَلَ مَعَهُ رِبِّيُّونَ كَثِيرٌ[۸]»، « وَيَقْتُلُونَ النَّبِيِّينَ بِغَيْرِ الْحَقِّ[۹] ».
۱۳.حضرت علي کرم الله وجهه د لسګونو ځانګړو فضایلو په درلودو، چې د شهادت په درشل کې شو، یوازې یې همدا وویل: «فزت ورب الکعبه». دا لومړی تن و، چې ایمان یې راووړ، د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم پر ځای ویده شو، د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم رور شو، یوازې د همده کور نبوي جومات ته ور درلود، د امامانو پلار او د حضرت زهرا بي بي مېړه و. بوتماتی و، د خندق ورځې ګوزار یې د ثقلینو تر عبادت افضل او غوره شو؛ خو په هېڅ یوه مورد کې یې و نه ویل: «فُزت»

---

۱ (بحار: ۹۷ ټ، ۸ مخ)
۲ (بحار: ۹۷ ټ، ۱۱ مخ)
۳ (نور الثقلین تفسیر، ۲ ټ، ۲۴۱ مخ).
٤ (کنزالعمال، ۴ ټ، ۲۹۰ مخ)
٥ (بحار: ۱۰۰ ټ، ۸ مخ)
٦ (وسائل: ۱۱ ټ، ٦ مخ)
۷ (بحار: ۹۷ ټ، ۱۳ مخ)
۸ (آل عمران، ۱۴٦)
۹ (بقره، ٦۱)

۱۴.علي کرم الله وجهه به ویل: پر هغه الله قسم، چې د ابوطالب د زوی ساه یې په لاس کې ده، د الله په لار کې د تورو د زرو گوزارونو زغمل راته، په بستره کې تر پراته مرگه ډېر اسان دي[1].

## مرگ

* حضرت ابوذر غفاري (رض) وپوښتل شو: ولې له مرگه ډارېږو؟ و یې ویل: «انکم عمرتم الدنیا و خربتم الآخره فتکرهون ان تنتقلوا من عمران الی خراب۲» تاسې خپله دنیا ښېرازه او آخرت مو ویجاړ کړی؛ نو له ښېرازې ځنې ویجاړې ته له ورتگه ډارېږئ.

* حضرت علي کرم الله وجهه وویل: «و الله ابن ابیطالب آنس بالموت من الطفل بثدی امه۳»پر الله قسم، مرگ ته مې لېوالتیا، د مور تي ته د ماشوم تر لېوالتیا ډېره ده. او په کوفې جومات کې چې پر سر په زهرجنه توره ووهل شول؛ نو و یې ویل: «فزت و رب الکعبه»د کعبې پر پالونکي قسم، چې بریا مې ومونده.

* امام حسین (رض) په یوه مفصله خطبه کې وویل: «خط الموت علی ولد آدم مخط القلاده علی جید الفتاه٤» بنیادمو ته مړینه، د ناویو پر غاړه تر غاړه کیو ښکلې ده.

امام صادق رحمة الله علیه د « كُلُّ نَفْسٍ ذَآئِقَةُ الْمَوْتِ » په باب ویلي دي: ټول ځمکوال او آسمانوال مري او یوازې د مرگ پرښته (ملک الموت)، د عرش وړوونکې پرښتې، جبرئیل او میکائیل پاتېږي. بیا ملک الموت مؤظفېږي، د دوی ساه واخلي او یوازې همدا پاتېږي او الله تعالی ده ته وایي چې ومره؛ نو دا هم مري[5].

## د ام المؤمنین عایشې بي بي خاطره/ یادیزه

•حضرت عایشه ام المؤمنین وپوښتل شوه: له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم چې بهترینه یادیزه درياده ده، څه ده؟ ویې ویل: د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ټولې چارې هېښوونکې وې؛ خو تر ټولو راته خورا مهمه دا وه، چې پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم یوه شپه زما په کور کې استراحت کاوه، لا ارام شوی نه و، چې له ځایه راپاڅېد، اودس یې وکړ او

---

[1] (نهج البلاغه)

[2] ـ محجه البیضاء، ۸ ت، ۲۵۸ مخ

[3] - نهج البلاغه، خطبه ۵

[4] - مقتل خوارزمي، ۲ت، ۲۴۱ مخ

[5] (کافي: ۳ ت، ۲٥٦ مخ)

پر لمانځه ودرېد او دومره یې وژړل چې لمن یې لمده شوه، بیا پر سجده شو او دومره یې وژړل چې ځمکه لمده شوه.
ګهیځ چې حضرت بلال (رض) راغی، ددې ژړاګانو لامل یې وپوښت، و یې ویل: تېره شپه د قرآن ځینې آیتونه نازل شوي: بیا یې د آل عمران سورت له (۱۹۰) تر (۱۹۴) آیتونه ولوستل و یې ویل: پر هغه افسوس، چې دا آیتونه ولولي او فکر و نه کړي[۱].
•حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم تل له شپې لمانځه مخکې دا آیتونه لوستل او په احادیثو کې هم سپارښتنه شوې، چې موږ هم دا آیتونه ولولو[۲].
•د حضرت علي کرم الله وجهه له یوه ځانګړي ملګري حضرت «نوف بکالي» روایت شوی چې یوه شپه له علي کرم الله وجهه سره وم. امام له بسترې پاڅېد او دا آیتونه یې ولوستل. بیا یې وپوښتلم: ویده یې که ویښ؟ ومې ویل: ویښ. ویې ویل: پر هغوی دې خوشحالي وي، چې د ځمکې د ناپاکیو په شپول کې راګېر شوي نه وي او په اسمانونو کې ګرځي راګرځي.[۳]

### لمونځ

د امام باقر رحمة الله علیه په وینا، روغ رمټ وګړي دې لمونځ په ولاړه، رنځوران دې په ناسته او بېوسې دې پر اړخ وکړي[٤].

## د چارو پایلې ته ګورئ

له حضرت علي کرم الله وجهه روایت دی: «ما خیر بخیر بعدها النار[۵]» هغه خیر او خوشحالۍ کوم ارزښت نه لري، چې پایله یې اور وي. کافرانو ته لندمهالي خوندونه او ابدي عذابونه دي؛ خو مؤمنانو ته لندمهالې سختۍ او ابدي اسانۍ او ارامۍ دي.

[۱] (تفاسیر: فخر رازي کبیر، قرطبي او مراغي)
[۲] (تفاسیر: فخر رازي کبیر او مجمع البیان)
[۳] (تفسیر نمونه)
[٤] (تفاسیر: برهان او رهنما)
[۵] (بحار: ۸ ټ، ۱۹۹ مخ)

حضرت علي كرم الله وجهه وايي: «اذا رايت سبحانه يتابع عليک نعمه و انت تعصبه فاحذره[١]»
«كه و دې ليدل چې الله تل خپل نعمتونه درلوروي؛ خو ته گناه كوې؛ نو په هوښ وسه، چې ښايي دا لورنې ښه عاقبت و نه لري.
علي كرم الله وجهه وايي: «لا خير فی لذه من بعدها النار» د هغه خوند به څه خير وي، چې اور ورپسې وي[٢].

## زړه سوی

* حضرت علي كرم الله وجهه وايي: زړه سوی ولرئ، كه څه د يوه سلام په اچولو سره وي او الله تعالی وايي: ((اتَّقُواْ اللّهَ... وَالأَرْحَامَ....))[٣]

## د آدم عليه السلام د اولاد ودونه

د آدم عليه السلام د اولاد د ودونو په اړه روايتونه ډېر دي؛ خو كوم روايتونه، چې د قرآن له آيتونو سره اړخ لگوي، وايي چې د آدم عليه السلام اولاد يو له بل سره ودونه وكړل[٤].

## شتمني

* امام صادق رحمة الله عليه يو سړي ته وويل: شتمني دې وساته، چې شتمني د دين پايښت دی او بيا يې ورته دا آيت تلاوت كړ: ((وَلاَ تُؤْتُواْ السُّفَهَاء أَمْوَالَكُمُ الَّتِي جَعَلَ اللّهُ لَكُمْ قِيَامًا....[٥]))

### د پلار مړيو د شتمنيو د وركړې لايحه

* امام صادق رحمة الله عليه وايي: له (آنَسْتُم رُشْدًا) څخه مراد دادی: چې وكړای شي خپل مال او شتمني وساتي[٦].
او همداراز وايي: له (فَلْيَأْكُلْ بِالْمَعْرُوفِ) څخه مراد دا دی، هومره چې خېټه پرې مړه شي[٧].

[١] (نهج البلاغه، ٢٥ حكمت)
[٢] (بحار: ۴۱ب، ۱۰۴مخ)
[٣] (كافي ٢/ ١٥٠)
[٤] (الميزان تفسير)
[٥] وگورئ: وسائل ١٢٦/٧
[٦] من لا يحضر الفقيه ٢٢٣/۴.
[٧] (كافي ١٣٠/٥)

## میراث

* امام جواد وايي: پر ښځه هېڅ ډول ټولنيز او وګړيز لګښت نشته او سربېره پردې، چې د واده پر مهال مهراخلي او سړی مهر ورکوي او هم بايد د ښځې لګښت ورکړي او ښځه بې له کوم مسئوليته ارث اخلي او د ميراث او خپلې شتمنی د زېرمولو حق هم لري او بيا د سړي په برخه کې هم برخه لري[1].

* د ميراث احکام په تورات کې هم شته او په انجيل کې راغلي، چې حضرت عيسی عليه السلام وويل: " زه نه يم راغلی، چې د ارث په احکامو کې بدلون راوړم[2]."

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: مړي ته تر وصيت مخکې خپل پور ورکول پکار دي[3]. او که د مړي وصيت د شرع پر خلاف وي؛ نو بايد پلي نشي.[4]

## ګناه

*پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم له حنين غزا نه په راستنېدو کې په يوه ستره بېديا کې خپلو اصحابو ته وويل: وګرځئ او خس او خشاک راټول کړئ. اصحاب وګرځېدل او هر يو يې څه خس راوړل او د خسو ډېرى جوړه شوه. پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: «هكذا تجتمع الذنوب، اياكم و المحقرات من الذنوب» ګناهونه دا ډول ډېرېږي؛ نو له کوچنيو ګناهونو ځان وژغورئ۵.

* امام صادق رحمة الله عليه وايي: که انسان د علم له مخې ګناه هم وکړي؛ نو په حقيقت کې جاهل دی؛ ځکه ځان يې پر الهي عذاب ککړ کړی دی[6].

* حضرت علي د انسان او الله تعالی د اړيکې په اړه وايي: نه د ګناه کوونکيو ګناه، هغه ته تاوان رسولای شي او نه د عبادت کوونکيو عبادت، هغه ته ګټه رسولای شي[7].

---

[1] (نور الثقلين تفسير)
[2] تورات: سفر اعداد؛ ۲۷باب، ۸_۱۱ آيتونه.
[3] (نورالثقلين تفسير)
[4] (بحار ۲۱۰/۱۰ - قمي تفسير، اټ، ٦٥ مخ)
[5]. کافي/دويم ټوک، ۲۸۸ مخ.
[6] (برهان تفسير ۳٥٤/۱)
[7] نهج البلاغه: ۱۹۳ خطبه.

## شاهد

امام صادق رحمة الله علیه وایي: په هره پېړۍ (وخت) کې له موږ اهلبیتو څنې پر خلکو "شاهد یو امام" شته او د الله استازی پر موږ شاهد دی[1].

## شراب او مستي

په روایتونو کې سپارښتنه شوې، چې په مستۍ کې لمونځ مه کوئ[2]. او نور آیتونه هم د کسالت په حال کې لمونځ کول د منافقانو نښانه ګڼي[3].

## الهي اراده

* امام رضا رحمة الله علیه وایي: الله تعالی انسان ته وایي، چې اراده او غوښتنه دې هم زما په واک کې ده[4].

## خواله ساتل

* امام صادق رحمة الله علیه وایي: څوک چې زموږ اسرار او خوالې بربنډوي؛ نو د هغوی په څېر به وي، چې پر موږ یې د تورې وار کړی دی[5].

## د جهاد هومره ثواب

*په روایتونو کې دي: هغوی چې د رنځورۍ له لامله جهاد ته نشي تلای؛ خو زړه یې له مجاهدینو سره وي؛ نو ثواب یې د جهاد هومره دی[6].

## هجرت

* روایت دی: څوک چې د خپل دین د ساتلو لپاره ان یو ګام هجرت هم وکړي؛ نو جنتي دی او د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم او ابراهیم ملګری دی[7].

---

[1] (نورالثقلین ۳۹۹/۱)
[2] (کافي ۳ /۳۷۱)
[3] (نساء / ۱٤۲، توبه /٥٤)
[4] وګورئ: عیاشي تفسیر ۲٥۸/۱.
[5] وګورئ: وسائل ۱۹۷/۲۷.
[6] (صافي تفسیر)
[7] (صافي تفسیر)

## مستضعف

* امام باقر رحمة الله علیه وایي: هغه ښځې او سړي مستضعف دي، چې عقلونه یې د ماشومانو په څېر وي[1].

## تورنول

امام صادق رحمة الله علیه وایي: پر بې ګناه تور لګول، تر سترو غرونو درون وي[2].

## د غیبت او بهتان توپیر

* امام صادق رحمة الله علیه وایي: غیبت هغه ته وایي، چې ته د خپل دیني رور هغه څه ووایې، چې الله تعالی پټ کړي؛ خو که په اړه یې داسې څه ووایې، چې پکې نه وي؛ نو بهتان دی[3].

## خپلمنځي جوړجاړی

* امام صادق رحمة الله علیه وایي: ان په دروغو د خوش بینۍ پیدا کول او خپلمنځي جوړجاړی ستایل شوی عمل دی[4].

## د خپلو مېرمنو ترمنځ عدالت

* روایتونه وایي: پېغمبراکرم، ان په رنځورۍ کې په خپلو مېرمنو کې بستره وویشله او پر کومه ورځ به چې د کومې مېرمنې په کور کې و؛ نو په رنځورۍ کې یې همداسې وکړل او روایت وایي، چې د کومې ښځې نوبت به یې و؛ نو آنحضرت به ان د بلې ښځې په کور کې اودس هم نه کاوه[5].

## د مؤمن حق

* امام صادق رحمة الله علیه وایي: مؤمن پر مؤمن اوه حقه لري، چې ترټولو مهم یې د حق ویل دي، که څه په خپل یا د خپلوانو په تاوان یې وي[6].

---

[1] نورالثقلین: ۵۳۷/۱؛ معانی الاخبار: ۲۰۱ مخ.
[2] سفینة البحار: د بهت ماده؛ کافي: دویم ټوک: باب التهمة.
[3]. وسائل ۲۸۶/۱۳.
[4] (کافي ۳٤۱/۲)
[5] نمونه او تبیان تفسیرونه.
[6] (المیزان تفسیر)

## مېلمستيا

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: څوک چې چا ته مېلمستيا وکړي؛ خو که په ښه توگه يې مېلمستيا و نه کړي؛ نو ظلم يې کړی او مېلمه ته پروا نه لري، چې چا ته يې ووايي[1].

## د حضرت علي او عيسى عليه السلام ورته والى

* پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم حضرت علي ته وويل: ته د عيسى په څېر يې. ځينو د حضرت عيسى پر مور ناروا تور ولگاوه او ځينو گومان وکړ، چې خدای دی[2].

## د الله تعالى عبادت

* امام رضا رحمة الله عليه د خپل وخت د مسيحيانو مشر "جاثليق" ته وويل: د حضرت عيسى هر څه ښه وو؛ خو عبادت يې نه کاوه. "جاثليق" خپه شو، و يې ويل: هغه تر ټولو ډېر عبادت وکړ. امام وپوښتل: د چا عبادت يې کاوه؟ جاثليق چوپ شو؛ ځکه پوه شو د امام مراد دادی چې ((عابد)) په خپله ((معبود)) کېدای نشي.

* خلک د الله تعالى د عبادت په تراو درې حالته لري: ځينې کبرجن، ځينې تسليم او ځينې طالب دي. حضرت علي وايي: همدومره وياړ راته بس چې بنده دې يم[3].

## پر ژمنه وفا

پېغمبر اکرم صلى الله عليه و آله وسلم ويلي: «لا دين لمن لا عهد له[4]»، څوک چې وفا نه لري، دين نه لري.

د امام صادق رحمة الله عليه د يوه حديث له مخې، د فاجرانو پر تړون هم وفا لازمه ده[5].

د يوه بل روايت له مخې، که يو مسلمان ان په اشاره، کافر دښمن ته امان ورکړ، پر نورو مسلمانانو ددې اشاره ای ژمنې، رعايت الزامي دي.

*په رواياتو کې راغلي: «څوک چې با وفا نه وي او ژمنماتی وي؛ نو منافق دی، که څه لمونځ وکړي او روژه ونيسي[6]»

---

[1] (وسائل ۲۸۹/۱۲ مخ)

[2] (درالمنثور ۲۳۸/۲)

[3] (بحار ۹۲/۹۴)

[4] (بحار: ۱٦ ټ، ۱۴۴ مخ)

[5] (کافي: ۲ ټ، ۱٦۲ مخ)

[6] (کافي: ۲ ټ، ۲۹۰ مخ)

## په نېکیو کې مرسته

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: څوک چې له بل سره مرسته کوي، د مجاهد ثواب لري[1].
*تر هغې چې انسان له خلکو سره د مرستې په فکر کې وي، الله تعالی یې لاسنیوی کوي[2].
*د مسلمان لاسنیوی، له یوې میاشتې مستحبي روزې او اعتکافه غوره دی[3].
*څوک چې د ظالم مرسته وکړي، خپله هم ظالم دی[4].
*ان په جومات جوړولو کې، د ظالم مرسته مه کوئ[5].

## روستۍ الهي فریضه

امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «ولایت، روستۍ الهي فریضه ده، بیا یې د «الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ» آیت ولوست[6].

## له ایمانه وتل

امام صادق رحمة الله علیه په یوه روایت کې ویلي: خورا لږ څیز چې یو تن یې په پار له ایمانه وځي دادی، چې د حق پرخلاف یو نظر وومني او ټینګ پرې ودرېږي او دفاع ترې وکړي، بیا امام دا آیت ولوست: «وَ مَنْ يَكْفُرْ بِالْإِيمانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ[7]»

## اودس

په حدیث کې لولو: «لا صلاة الابطهور»؛ لمونځ بې له پاکۍ (اودس، غسل، تیمم) سم نه دی[8].
په حدیث کې لولو: «ابدأ بما بدء الله[9]» له هماغه ځایه یې پیل کړه، چې الله تعالی په قرآن کې پیل کړی دی؛ لکه څنګه چې په قرآن کې لومړی د مخ ورپسې د لاسونو وینځل ورپسې د سر او پښو مسح راغلې ده، د اوداسه ترتیب (اوډون) هم همدغسې دی.

---

[1] (وسائل: ۸ ټ، ٦۰۲ مخ)
[2] (وسائل: ۸ ټ، ۵۸٦ مخ)
[3] (وسائل: ۱۱ ټ، ۳۴۵ مخ)
[4] (وسائل: ۱۱ ټ، ۳۴۵ مخ)
[5] (وسائل: ۱۲ ټ، ۱۳۰ مخ)
[6] (کافي: ۱ ټ، ۲۸۹ مخ)
[7] (وسائل: ۲۷ ټ، ٦۰ مخ)
[8] (تهذیب: ۱ ټ، ۴۹ مخ)
[9] (نورالثقلین تفسیر)

•امام رضا رحمة الله علیه د اوداسه په فلسفه کې وايي:
*یکون العبد طاهراً اذا قام بین یدی الجبا= الله ته د پاځېدو پر مهال د پاکۍ زمینه ده.
*مطیعاً له فیما امره= د بندګۍ او اطاعت نښه ده.
*نقیا من الادناس والنجاسة= له چټلۍ د لرېوالي عامل دی.
*ذهاب الکسل و طرد النعاس= له لټۍ، کسالت او خوبولي حالته د لرېوالی عامل دی.
*و تزکیة الفواد للقیام= لمانځه ته چمتو کېدنه او روحي وده ده[1].

## بیت المقدس ته د بني اسرائیلو ورننوتل

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: الله (ج)، بیت المقدس ته د بني اسرائیلو ورننوتل په دې پار چې د موسی علیه السلام خبره یې ونه منله، پر دوی او اولاد یې بند کړل او بالاخره لمسي یې په ورننوتو بریالی شول (یعنې چې پلرونه او زامن یې ژوندي ول، ورننوتای نشو؛ خو لمسي یې ورننوتل)[2].

•په روایاتو کې لولو: مسلمانان به هم د بني اسرائیلو له ورته داستان سره مخ شي[3].

## هابیل او قابیل

په روایاتو کې راغلي چې هابیل، پووندګر و او قربانۍ ته یې خپل ښه پسه راووړ او قابیل، بزګر و او د الله تعالی په لار کې انفاق ته یې د خپلې کرنې بدترینه برخه (وراسته غنم) راوړل[4]. قرآن وايي: ((لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ حَتَّى تُنْفِقُوا مِمَّا تُحِبُّونَ[5]: هله خیر ته رسېدای شي، چې څه درته ډېر ګران وي، نفقه کړئ.))

•امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د قابیل د وژنې انګېزه هغه کینه وه، چې د هابیل د قربانۍ په منلو ورسره پیدا شوه[6].

امام باقر رحمة الله علیه د «فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ» آیت په تلاوت پسې وویل: ابلیس قابیل ته وویل: ستا قرباني قبوله نشوه او د رور هابیل دې قبوله شوه، که نوموړی ژوندی پاتې شي؛ نو د تاریخ

[1] (وسائل: ۱ ټ، ۳٦۷ مخ)
[2] (عیاشي تفسیر)
[3] (بحار، ۲۸ټ، ۱۴ او ۳۰ مخونه)
[4] (کافي: ۸ ټ، ۱۱۳ مخ)
[5] آل عمران، ۹۲
[6] (نور الثقلین تفسیر)

په اوردو کې به یې کهول ستا پر کهول ویاړي، چې زما د پلار قرباني قبوله شوه او ستا د پلار قبوله شوې نه ده؛ نوځکه ښه دا ده چې ویې وژنې، چې ځوځات دې ذلت و نه کاږي[1].

•امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «من قتل مؤمنا متعمدا اشبت الله علی قاتله جمیع الذنوب وبرو المقتول منها، و ذلک قوله تعالی: « إِنِّی أُرِیدُ أَنْ تَبُوءَ. . . » څوک چې یو مؤمن په لوی لاس ووژني، الله تعالی ټول ګناهونه په قاتل پسې لیکي او مقتول (وژل شوی) له ګناهونو پاکوي[2].

•د ګناهونو د بخشش په هیله، د ظالم په مقابل کې چوپتیا، د آیت مانا نه ده.

•له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه په یوه حدیث کې لولو: «د پیښې ځای، په دمشق کې د قاسیون غر دی[3]»

•امام سجاد ویلي: «ابلیس قابیل ته د وژلو طریقه وروښوده[4]».

•امام سجاد رحمة الله علیه ویلي: الله تعالی دوه کارغان ولیږل، چې سره جنګ شي او یو یې وواژه، بیا قاتل کارغه، په خپله ټونګه یو جغړوندی وایست او وژل شوی یې پکې ښخ کړ[5].

•امام سجاد رحمة الله علیه ویلي: «والذنوب التی تورث الندم قتل النفس» د بې ګناه انسان وژنه، له هغو ګناهونو ده، چې د پښېمانۍ لاملیږي[6].

## وژنه

•په روایاتو کې لولو: «د الله تعالی په نزد د ټولې دنیا فاني کېدل، د یوه مؤمن تر وژنې آسان تر دی[7]»

•د آیاتو او روایاتو له مخې، حق لارې ته، د خلکو هدایت او لارښوونه، یو ډول بیاژواکي ده او د خلکو بېلارې کول، یو ډول وژنه ده. د انفال سورت، ۲۴ آیت، د پیغمبر اکرم بلنه د خلکو د ژوندون لامل ګڼلې ده: « دَعاکُمْ لِما یُحْیِیکُمْ»

---

[1] (کافي: ۸ ټ، ۱۱۳ مخ)

[2] (نور الثقلین تفسیر)

[3] (درّالمنثور تفسیر).

[4] (نور الثقلین تفسیر)

[5] (تفاسیر: برهان او رهنما)

[6] (بحار: ۷۳ ټ، ۳۷۵ مخ)

[7] (بحار: ۱۰ ټ، ۳۸۲ مخ)

•امام صادق رحمة الله علیه هم ویلي: «من اخرجها من ضلال الی هدی فکانما احیاها و من اخرجها من هدی الی الظلال فقد قتلها» څوک چې یو بېلارې سمې لارې ته ورسیخ کړي؛ نو دا یې ژوندی کړی او څوک چې بل له لارې واړوي؛ نو وژلی یې دی[1]»
•امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «نجاها من غرق او حرق او سبع اوعدو» د نفس له بیاژواکۍ مراد، له ډوبېدو، سوځېدو او د داړونکیو او دښمن په منګولو کې د راګېرو شویو انسانانو ژغورنه ده[2]. په بل روایت کې راغلي: «څوک چې کوم وږي ته خواړه ورنه کړي؛ لکه چې وژلی یې دی او د خوړو ورکړه؛ لکه چې ژوندی کړی یې دی[3]»
•امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «مسرفان (پوله اوختي) هماغه کسان دي، چې حرام، حلال ګڼي او وینې تویوي[4]»

## تږی خړوبول

•امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «که څوک په داسې یوه ځای کې چې اوبه نه موندل کېږي، یو تږی خړوب کړي، د هغه چا په څېر دی، چې یو ساکښ یې ژوندی کړی وي[5]».

## الله تعالی ته د ورنږدېدو لارې چارې

•حضرت علي کرم الله وجهه وایي: الله (ج) ته د ورنږدېدو غوره وزلې دا دي: پر الله او پېغمبر یې ایمان، په لار کې یې جهاد، اخلاص، لمونځ، د زکات ورکړه، د رمضان میاشتې روژه نیول، حج و عمره، پر خپلوانو زړه سوی، پټې او ښکاره نفقې ورکونې او نېکې چارې[6].
•اهل بیت ټینګه رسۍ او الله تعالی ته د ورنږدېدو وزله ده= هم العروة الوثقی والوسیلة الی الله[7].

---

[1] (کافي: ۲ ټ، ۲۱۰ مخ)
[2] (برهان تفسیر)
[3] (کافي: ۲ ټ، ۲۰۴ مخ)
[4] (نور الثقلین تفسیر)
[5] (مکارم الاخلاق، ۱۳۵ مخ)
[6] (نهج البلاغه، ۱۱۰ مه خطبه)
[7] (صافي تفسیر)

•د توسل په اړه د اهل سنتو په ډېری کتابونو کې؛ لکه د ابن حجر په «صواعق»، د بیهقي په «سنن»، د دارمي په «صحیح» او «وفاء الوفاء» کې روایات راغلي دي. دغسې د نساء ۶۴ آیت، د یوسف ۹۷ آیت او د توبې ۱۱۴ آیت هم د توسل لاسوندېدای شي.

## آیا د توبې لار پرانستې ده

په حدیث کې راغلي: یو غل چې لاس یې پرې شوی و، پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم یې وپوښت: ایا د توبې لار راته پرانستې ده؟ و یې ویل: هو! ته نن چې حد درباندې عملي شوی د هغې ورځې په څېر یې، چې له موره زیږېدلی یې![1]

## رباني

له حضرت علي کرم الله وجهه روایت شوی چې ویلي یې دي: «أنَا ربّانیّ هذه الأُمّه» زه ددې اُمت، رباني (روزوونکی) یم[2].

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «ربانیون، د پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم اهل بیت دي[3]»

## قصاص

امام صادق رحمة الله علیه د المایده/۴۵ آیت په باب ویلي: «له قصاصه چې په کومه اندازه عفوه شي، الله تعالی یې گناهونه وربښي[4]»

•په «تورات» کې «دیه» نشته، مجرم یا قصاصېږي یا عفوه کېږي؛ خو په اسلام کې، دیه د درېیمې لارې په توگه مطرح ده[5].

## پر نېکیو امر او له بدیو منع

په یوه حدیث کې وایو: څوك چې د یوې بدۍ مخه ونه نیسي؛ نو مثال یې د هغه چا په څېر دی، چې یو ټیپي یې پر سړك یوازې پرېښې وي.[6]

د امام حسین پاڅون هم پر نېکیو امر او له بدیو منع ته و.[7]

---

[1] (المیزان تفسیر)

[2] (مراغي تفسیر)

[3] (صافي تفسیر).

[4] (کافي: ۷ ټ، ۳۵۸ مخ)

[5] (قرطبي تفسیر)

[6] (کنز العمال، ۳ ټ، ۱۷ مخ)

[7] (بحار، ٤٤ ټ، ۳۲۸ مخ)

په یوه حدیث کې راغلي: پر نېکیو امر او له بدیو منع له لارې، ټول واجبات پر ځای کېدای شي. ۱

قرآن وايي: په هره ناسته کې چې الهي آیتونو ته سپکاوی کېږي؛ نو بهر ترې ووځئ، چې بحث بدل شي. ۲

•حضرت علي کرم الله وجهه د قاصعه خطبې[۳] په روستیو کې وايي: الله تېر اقوام په دې پار لعنت کړل، چې پر نېکیو امر او له بدیو منع ته یې ورشا کړه. الله عوام، د ګناهونو په پار او پوهان له بدیو د نهې د پرېښودو له امله لعنت کړل.

•امام حسین (رض) د المایده/۶۳ آیت په توضیح کې ویلي: د عالمانو د چوپتیا او پر نېکیو د امر او له بدیو د منع دلیل، یا د ظالمانو ګټو ته تمه ده او یا ترې ډار. «رغبة فیما کانوا ینالون منهم او رهبة مما یحذرون[٤]»

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: چې کله دنیا د مسلمانانو په نظر کې وبرېښي، د اسلام هیبت ترې جلا کېږي او چې کله پر نېکیو امر او له بدیو منع پرېږدي، د وحې له برکته بې برخېږي. «و اذا ترکوا الامر بالمعروف و النهی عن المنکر حرمت برکة الوحی[٥]»

## لعنت شوي بني اسراييل

•حضرت داوود علیه السلام بني اسرائیل د شنبې ورځو د رخصتۍ له حکمه د سرغړونې په پار لعنت کړل او حضرت عیسی علیه السلام په دې پار چې د اسماني مائدې تر خوړو روسته، چې د آنحضرت په دعا او د دوی د زړګني ډاډ لپاره نازله شوې وه، بیا (هم) کفر خپل کړ؛ نو دوی یې لعنت کړل[٦].

•امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «د حضرت داوود ښېرا، دوی خوکان او د حضرت عیسی ښېرا، دوی بیزوګان کړل[٧]»

---

[١] (کا فی، ۵ټ، ۵۵ مخ)

[٢] (نسا ء- ١٤٠، او انعام ٦٧)

[٣] (نهج البلاغه، ۱۹۲ مه خطبه)

[٤] (رهنما تفسیر او بحار: ۱۰۰ ټ، ۷۹ مخ)

[٥] (صافی تفسیر)

[٦] (نمونه تفسیر)

[٧] (نور الثقلین تفسیر او کافي: ۸ ټ، ۲۰۰ مخ)

•امام صادق رحمة الله علیه وایي: «الله چې په المایده/۷۹ آیت کې کومه ډله بني اسرائیل رټلي، هغه کسان ول، چې د گناه ناستو ته نه ورتلل؛ خو گناهگارانو سره په مینه او موسکا چلېدل[۱]»

•د حضرت علي کرم الله وجهه په روایت کې راغلي: «داچې بني اسرائیلو له ظالمانو، بدې چارې لیدې؛ خو کومې گټې یې چې له دوی تر لاسه کولې، له بدیو منع نه کوله (چې گټې یې په خطر کې نشي او یا دوی ته کوم خطر وانه وړي) الله دوی په بدۍ یاد کړي دي[۲]».

•امام باقر رحمة الله علیه ددې آیت په توضیح کې ویلي: «دا ډله هغه کسان ول چې: «یتولّون الملوک الجبّارین و یزیّنون لهم اهواءهم لیصیبوا من دنیاهم» جباران یې ښه ایسېدل او د دوی ځاني کړنې یې په نظر کې ورته ښکلې برېښولې، چې له دنیا یې گټنه وکړي[۳]»

## شراب او جواري

امام باقر رحمة الله علیه د خمر په باب ویلي: «کل مسکر... اذا اخمر فهو حرام»: هر څه چې انسان نېشه کړي، حرام دی[٤].

*رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: جواري په هره وزله، چې وي حرامه ده، ان په غوزانو[۵].

*په حدیث کې راغلي: شارب الخمر کعابد الوثن: شرابخور، د بوتپالي په څېر دی[٦]»

*د شرابو په باب، په تولید، ویش او لگښت کې یې هر ډول همکاري حرامه ده. امام باقر رحمة الله علیه له پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم نه رانقلوي، چې آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم لس ډلې، چې په یوه ډول شرابخورۍ کې اغېزمنې دي، لعنت کړي دي: «غارسها و حارسها و عاصرها و شاربها و ساقیها و حاملها والمحمول الیه و بایعها و مشتریها و آکل ثمنها» هغه چې انگور کري، هغه چې تر مېوې یې پالنه کوي، جوړوونکی یې، څښونکی یې،

---

[۱] (نورالثقلین تفسیر).
[۲] (وسائل: ۱٦ ټ، ۱۳۰ مخ)
[۳] (نورالثقلین تفسیر).
[٤] (نورالثقلین تفسیر)
[۵] (کافي: ۵ ټ، ۱۲۳ مخ)
[٦] (بحار: ۲۷ ټ، ۲۳۴ مخ)

ویشوونکی (ساقی) یې، وړوونکی یې، ترلاسه کوونکی یې، پلوروونکی او پېرونکی یې او هر څوک چې په یوه ډول یې له عایداتو برخمنېږي، ملعون دي[1].

•رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې شراب وڅښي، څلوېښت ورځې یې لمونځ نه قبلېږي او وړ دی چې الله تعالی د دوزخ بد بویه اوبه پرې ور وڅښي[2].

## شفاعت

* په حدیث کې لولو: د قرآن تر ټولو هیلمنوونکی آیت د «وَ لَسَوْفَ یُعْطِیکَ رَبُّکَ فَتَرْضی» آیت دی، چې مراد ترې شفاعت دی۳.

* امام باقر رحمة الله علیه د یاد سوگند په اړه وویل: له ځانگړې ورکړې نه مراد، چې الله به یې رسول الله ته ورکوي، شفاعت دی. «و الله الشفاعه و الله الشفاعه٤».

او امام صادق رحمة الله علیه وویل: د نیکه خوښي مې په دې ده، چې یو مؤحد/یوپالی هم په اور کې پاتې نشي۵.

*د ابوذر (رض) په روایت، پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم یوه شپه تر گهیځه په رکوع او سجدو کې دا آیت ولوست. و مې پوښت څنگه دې تر گهیځه دا آیت لوست. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: له الله مې خپل امت ته شفاعت غوښته او په پای کې الله راکړ او امت مې، که شرک و نه کړي، شفاعت به یې پر برخه شي[6].

*په بل روایت کې راغلي: چې کله آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم دا آیت ولوست، مبارک لاسونه یې پورته کړل او په ژړا یې وویل: «اللّهم امّتی» او خپل امت ته یې دعا کوله. الله تعالی حضرت جبرئیل ورولېږه، و یې ویل: «انّا سنرضیک فی امّتک و لا نسوئک» موږ به دې خوشحال کړو او خپگان ته دې نه پرېږدو[7]»

په مجمع البیان تفسیر کې، روایات راغلي چې پاکلمني امامانو قسم خوړلی، چې د خپلو لارویانو شفاعت به کوي.

---

[1] (نورالثقلین تفسیر)

[2] (مجمع البیان تفسیر)

[3] - شواهد التنزیل، ۲ټ، ۴۴۶ مخ

[4]. بحار، ج۸، ص۵۷.

[5] - صافی تفسیر.

[6] (مراغي تفسیر)

[7] (ابن کثیر تفسیر).

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: مؤمن پر هغه ورځ خپل اهل بیت ته شفاعت کوي[1].
*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: پر الله قسم، د قیامت پر ورځ، د خپلو لارویانو دومره شفاعت کوو، چې د بېلاریو غبږ پورته شي. «فَما لَنا مِنْ شافِعِینَ وَ لا صَدِیقٍ حَمِیمٍ[2]»
*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: په قیامت کې، قرآن، د مؤمن کورنی، پېغمبر او اهل بیت شفاعت کوي[3].

## د الله تعالی ښښنه

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د قیامت پر ورځ الله دومره عفوه او بخشش کوي، چې د چا په ذهن کې نه تېرېږي، تردې چې مشرکان هم وایي: موږ مشرکان نه وو (چې په الهي عفوه کې راونغاړل شي[4])

## ظالم

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د چاچې ښه ایسي، ظالم پاتې وي. په واقع کې ښه یې ایسي، چې د الله تعالی سرغړونه وشي؛ خو الله تعالی ځان د ظالمانو د هلاکولو په پار ستایلی دی. «فَقُطِعَ... وَالْحَمْدُ لِلّهِ[5]»
په روایاتو کې لولو چې له ظالم سره مینه او ترې لاروي، پر ظالم د ډډې وهلو او رکون یو مصداق دی. په یوه روایت کې لولو: ظالم ته هیلمن مه وسه، که څه ستا خپلوان او دوست دې وي.«و ان کان حمیما قریباً[6]»
په کافي کې روایت راغلی، که ظالم د بخشش لپاره لاس جیب ته وروړي او ته همدومره وخت یې پر ژوندي کېدو خوښ یې؛ نو پر ظالم دې ډډه وهلې، چې الله تعالی نهې ترې کړې ده[7].

---

[1] (مجمع البیان تفسیر)
[2] (المیزان تفسیر)
[3] (کنز العمال)
[4] (عیاشي تفسیر).
[5] معانی الاخبار، ۲۵۲ مخ.
[6] (کنزالدقائق تفسیر)
[7] (کافي: ۵ ټ، ۱۰۸ مخ)

## چټک حسابي

*په روایاتو کې راغلي: الله تعالی د خپلو بندګانو حساب د مېږې لوشلو هومره او په ډېره لنډه موده کې کوي[1].

*امام علي کرم الله وجهه وپوښتل شو: «کیف یحاسب الله الخلق علی کثرتهم؟ فقال: کما یرزقهم علی کثرتهم. فقیل: کیف یحاسبهم ولا یرونه؟ فقال: کما یرزقهم ولا یرونه[2]»

الله څنګه ددې زیاتو مخلوقاتو حسابي ته ور رسي؟ و یې ویل: لکه څنګه چې روزي ورکوي.
وپوښتل شو: څنګه حسابي ورسره کوي، هغه خو نه ویني؟ و یې ویل: لکه څنګه چې روزي ورکوي خو هغه نه ویني.

## غوره دعا

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي دي: «غوره دعا، رو او پټه دعا ده او پر هغوی یې نیوکه وکړه، چې په لوړ غږ یې دعا کوله، و یې ویل: الله اورېدونی او نژدې دی. [3]»

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «په دعا کې تضرع او عاجزي، اسمان ته لاسونه پورته کول او دعا کول دي[4]». پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم هم دغسې دعا کوله او سلمان فارسي (رض) له رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم څخه روایتوي چې و یې ویل: «الله حیا کوي کوم لاس چې دعا ته پورته شي او بې برخې یې ستون کړي[5]»

*په حدیث کې دي: چې کله کوم بنده د الله تعالی پر ستاینې بوخت وي او د خپلو اړتیاوو له غوښتنو غافل شي؛ نو الله تعالی تر هغه څه ډېر چې په دعا ورکول، ورکوي[6].

## منع شوې ناستې او ملګرتیا

له پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم او امامانو په ګڼو روایاتو کې، له ګناهګارانو سره له ملګرتوب یا په هغې غونډې کې ګډون چې ګناه پکې کېږي او انسان یې مخه نیوای نشي،

---

[1] (تفاسیر: مجمع البیان او نور الثقلین)

[2] (نهج البلاغه، ۳۰۰ کلام)

[3] (نورالثقلین تفسیر)

[4] (کافی، ۲ټ، ۴۸۱ مخ)

[5] (قرطبي تفسیر)

[6] (روح المعاني تفسیر)

نهې شوې ده، ان که دې خپلوان هم وي. حضرت علي کرم الله وجهه خپل زوی ته وصیت وکړ: الله پر غوږونو لازم کړي، چې د ګناه او غیبت په اورېدو راضي نشي[1].
*د الله رسول صلی الله علیه و آله وسلم د الانعام/۶۸ آیت په لاسوند وویل: څوک چې پر الله او د قیامت پر ورځ ایمان لري، په هغې ناستې کې دې نه کېني، چې کوم امام (مشر) کنځل کېږي او یا د کوم مسلمان غیبت کېږي[2].
امام سجاد رحمة الله علیه خپل زوی ته په وصیت کې وايي: «ایاک و مصاحبه القاطع لرحمه، فانی وجدته ملعونا فی کتاب الله[3]» له هغو کسانو سره له دوستۍ او ملګرتوبه ډډه وکړه، چې قطع رحم (لورنه پرې) کوي؛ ځکه دوی مې په قرآن کې ملعون موندلي. (يَقْطَعُونَ... لَهُمُ اللَّعْنَةُ)

## د بدچاریو ملګرتیا

*حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «مجالسة الاشرار تورث سوء الظن بالاخیار» له بدچاریو سره ملګرتوب، پر نېکچاریو د بدګومانۍ لاملېږي[4].

## الله

*امام علي کرم الله وجهه وايي: نه یوازې سترګې يې نه ویني؛ بلکې وهم او فکر يې هم نشي رانغاړلای[5].
*امام حسین (رض) د عرفې په دعا کې الله تعالی ته عرض کوي:
« ما ذا وَجَد مَن فَقدک و ما ذا فَقَد مَن وجدک؟»؛ څوک چې تا نه لري؛ نو څه لري؟! او څوک چې تا لري؛ نو څه نه لري؟
*حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «اتّقوا معاصی اللّه فی الخلوات فانّ الشاهد هو الحاکم» په پټه او خلوت کې هم د الله له سرغړونې ډډه وکړئ؛ ځکه شاهد پخپله پرېکړه کوونکی، حاکم او منځګړی دی[6].

---

[1] (نورالثقلین تفسیر)
[2] (وسائل: ۱۶ ټ، ۲۶۶ مخ)
[3] (بحار: ۷۴، ۱۹۶مخ)
[4] (وسائل: ۱۶ ټ، ۳۶۵ مخ)
[5] (صافي تفسیر)
[6] (بحار: ۷۳ ټ، ۳۶۴ مخ)

## د ټولنې واکمني

*د رواياتو له مخې، هغوی چې پر نېکيو امر او له بديو منع پرېږدي، خمس و زکات نه ورکوي او د ظالمانو مرستندويان وي، ظالمان به پرې واکمن وي[1].

په حديث کې لولو: که الله تعالی د کوم قوم له چارو خوښ وي، چارې يې نېکانو ته ورسپاري او که راضي نه وي، چارې يې بدچارويو ته ورسپاري[2].

## د کروندو زکات

*امام باقر رحمة الله عليه تر الانعام/۱۴۱ لوستو روسته وويل: يو تن کرونده درلوده، چې ددې ټول محصول او يېبره يې خيراتوله، ځان او اولاد ته يې څه نه پاتېدل. الله دې کړنې ته اسراف ووايه[3].

امام صادق رحمة الله عليه تر همدې آيت لاندې ويلي: ان که مسلمان و نه موندل شو، د يېبرو - حاصلاتو حق مشرک فقير ته ورکړئ[4]. په بل روايت کې يې ويلي: د يېبرو دا حق، بې له زکاته دی[5].

*امام صادق رحمة الله عليه ويلي: مېوه د شپې مه وانېئ او د شپې لو مه کوئ، چې فقيران هم راشي او څه واخلي[6].

## حق لار پېژندل

*په رواياتو کې راغلي چې الله تعالی په قيامت کې انسان ته وايي: د حق لار دې پېژندلې وه که نه؟ که ووايي: پېژنده مې، پوښتي: ولې دې عمل پرې و نه کړ؟ که ووايي: نه مې پېژنده، پوښتي: ولې يې د پېژندو په لټه کې نه وې. دا پر خلکو د الله تعالی څرګند دليل (حجت بالغه) دی[7].

---

[1] (اطيب البيان تفسير)

[2] (کشف الاسرار تفسير)

[3] (نورالثقلين تفسير)

[4] (بحار: ۹۳ ټ، ۹٦ مخ)

[5] (برهان تفسير: ۱ ټ، ۵۵۷ مخ)

[6] (کافي: ۳ ټ، ۵٦۵مخ)

[7] (نورالثقلين تفسير).

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: « بدترین خوځنده هغه انسان دی، چې حق پېژني؛ خو په ځېل کفر خپلوي[1] »

## بدعت

پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: «لا ترکبوا ما ارتکب الیهود فتسحلوا محارم الله بادنی الحیل» یهودیانو چې څه کول، چې په خورا کوشنی مخونې او پلمې به یې د الله حرام، حلالول؛ نو تاسې یې مه کوئ[2].

*علي کرم الله وجهه وایي: چې کله کوم بدعت رامنځته شي؛ نو یو سنت له منځه ځي[3]. او د انبیاوو او عالمانو یوه له دندو، د بدعت منځه وړنه او د اړونو او تحریف مخه نیول دي[4].

*په روایاتو کې راغلي: د بدعتي توبه نه قبلېږي[5].

*د الله رسول صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: چې کله مې په امت کې اړېپچ شو، هر څوک دې زما د سنتو او وینا له مخې وچلي او د نورو په لارو او دودونو پسې دې نه ورځي؛ نو د سلو شهیدانو بدله به ولري[6].

امام باقر رحمة الله علیه ویلي: څوک چې په الهي دین کې بدعت رادبره کړي، په همدې دنیا کې ذلیل او خوارېږي[7].

## حق لار

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: خلکو! هغه نېغ لار چې لاروي ترې اړینه ده، زه یم، تر ما روسته علي کرم الله وجهه او ورپسې یې له نسله زما ځوځات، «ائمة یهدون بالحق و به یعدلون» هغه امامان چې خلک یې په حق هدایت کړي او په حق عدالت کوي[8].

---

[1] (درالمنثور تفسیر)
[2] (تفاسیر: فرقان او درالمنثور)
[3] (بحار، ۲ ټ، ۲٦۴ مخ)
[4] (الحیاة: ۲ ټ، ۳۴۴ مخ)
[5] (بحار: ۷۲ ټ، ۲۱٦مخ)
[6] (بحار: ۲ ټ، ۲٦۲ مخ)
[7] (نورالثقلین تفسیر)
[8] (نورالثقلین تفسیر)

*حضرت علي كرم الله وجهه ويلي: بني اسرائيل تر حضرت موسى عليه السلام روسته، يواويا (۷۱) ډلې شول، چې ټول په اور كې دي؛ خو بې له يوې ډلې يې او بيا يې د الاعراف سورت ۱۵۹ آيت ولوست[۱].

## ترلاس لاندېيو په اړه پوښتېدني يو

په درّالمنثور تفسير كې له رسول اكرم صلى الله عليه وآله وسلم نه يو روايت راغلى چې ويلي يې دي: (( كُلّكم راع و كُلّكم مسؤل عن رَعيّته فالامام يسأل عن النّاس والرّجل يسأل عن أهله و المرأه تسأل عن بيت زوجها و العبد يسأل عن مال سيّده= ټول د خپلو تر لاس لانديو په باب پازوال او پوښتېدوني دي؛ امام له خپل امته، مېړه له خپلې مېرمنې، مېرمن د خپل مېړه په كور كې له چلنه او مريى د خپل مولا (او خاوند) له مال و شتمنى.)) همداراز و يې ويل: ((الله تعالى ما هم پوښتي: چې رسالت مې ابلاغ كړى كه نه؟))

## تله/ ميزان

*امام صادق رحمة الله عليه د « وَ نَضَعُ الْمَوازِينَ الْقِسْطَ[۲]» آيت په تفسير كې ويلي: «ميزان، انبياء او اوصياء دي[۳]»؛ لكه چې د حضرت امير المؤمنين علي كرم الله وجهه په مطلقه زيارت كې لولو: «السلام على ميزان الاعمال» دوى، د نورو د كړنو د سنجونې كچه او ميزان دي.
حضرت علي كرم الله وجهه ويلي: «پر حسناتو ، تله درنېږي او پر سيّئاتو او گناهونو، سپكېږي[٤]»

## حضرت آدم عليه السلام

يو يهودي، حضرت علي كرم الله وجهه وپوښت: «الله پرښتو ته وويل: آدم ته سجده وكړئ، ايا اسلام، د خپل پېغمبر دغسې درناوى كړى دى؟» علي كرم الله وجهه ورته وويل: «الله، خپل پېغمبر صلى الله عليه وآله وسلم ته تردې اوچت فضليت وركړى دى، الله تعالى له هغه ستر

[۱] (نورالثقلين او عياشي تفاسير)
[۲] (الانبياء،۴۷)
[۳] (الميزان تفسير)
[٤] (بحار،۹۰ټ، ۱۴۱ مخ)

عظمت سره، چې لري يې، له ټولو پرښتو سره، پر محمد صلی الله علیه وآله وسلم صلوات (درود) وايي او پر پېغمبر يې د مؤمنانو صلوات خپل عبادت ګڼلی دی[1].

## کبر، غرور/ پېسمني او خاسمني

په حديث کې راغلي: څوك چې په تکبر پر ځمکه ځي، ځمکه، پر ځمکه او ورلاندې ټول موجودات لعنت پرې وايي. ۲

*حضرت علي کرم الله وجهه ويلي: «د ابليس له برخليکه پند واخلئ، سره له دې چې د عبادت شپږ زره کلنه [چې معلومه نه ده دنيوي کلونه (۳٦۵ ورځې) وو يا اُخروي (چې يوه ورځ يې دنيوي پنځوس زره کاله ده)] مخينه يې درلوده، څنګه په يوې شېبې کبر او وياړنې را پرېوت[3]»

*رسول اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ويلي: «کبرجن په قيامت کې، په خورا خوار حالت محشورېږي، محشريان يې لتاړي[4]»

په حديث کې وايو: که څوک د خپلو بوټانو په مزو هم تر نورو ځان غوره وګڼي؛ نو پر ځمکه به له کبرجنو ځنې وي.

په بل روايت کې يې ويلي: «څوک چې تواضع او عاجزي وکړي، الله تعالی يې اوچتوي او څوک چې کبر او سرغړونه وکړي، الله تعالی يې خوار او ټيټوي[5]»

همدغسې په روايت کې راغلي: حرص، کينه او کبر د کفر جرړې دي[6]»

*امام صادق رحمة الله علیه ويلي: څوک چې ځان تر نورو لوړ بولي، متکبر او کبرجن دی. امام ته يې وويل: کله انسان په دې پار چې نور پر ګناه بوخت دي؛ خو دی ګناه نه کوي؛ نو ځان لوړ بولي! ورته يې وويل: ښايي هغه توبه کړې وي او ښنل شوی وي؛ خو ته به ناخبره يې او تراوسه يې هماغسې وينې. ايا د پاډوګرو داستان دې اورېدلی نه دی، چې د موسی علیه السلام د ماتې په نيت ورغلي ول؛ خو توبه يې وکړه او هدايت شول او ښه پای يې درلوده[7].

---

[1] (طبرسي، احتجاج، ۱ټ، ۲۰۴مخ)
[2] (نورالثقلين تفسير)
[3] (نهج البلاغه: ۱۹۲ خطبه)
[4] (مراغي تفسير)
[5] (محجة البيضاء: ٦ ټ، ۲۱۵ مخ)
[6] (کافی: ۲۰ټ، باب اصول الکفر)
[7] (نورالثقلين تفسير)

## د تواضع بېلګې

۱- حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم به داسې کېناسته، چې له نورو یې هېڅکله ځان غوره نه باله او که ناپېژندګلو به راغی؛ نو پوښتل یې، چې پېغمبر کوم یو دی. ۱

۲- چې خلك د خوړو چمتو کولو ته وتل؛ نو پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم به هم یوه دنده پر غاړه اخسته او ویل یې چې د خسو راټولول پر ما. ۲

۳- چې پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم به ولیدل، تر ځینو لاندې فرش نشته؛ نو خپل څادر یې ورلاندې هوارو. ۳

د ساده جامو اغوستل، پر لوڅه سپرلۍ سپرېدل، د شیدو رالوشل، له مریانو سره ناسته پاسته، پر ماشومانو سلام اچول، د جامو او بوټانو ګنډل، د خلکو د مشورې منل، په کور کې جارو وهل، له ټولو خلکو سره روغبړ او لاس ورکول او خلکو ته په درنه سترګه کتل، د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم خوی او سیرت و. ٤

٤- ځینو مسلمانانو د امام صادق رحمة الله علیه درناوي ته حمام تش کړ؛ خو امام صادق اجازه ور نه کړه او و یې ویل: دې کار ته اړتیا نشته، د مؤمن ژوند ساده دی او تشریفاتو ته اړتیا نه لري. ۵

۵- ډېر کوښښ وشو، چې د امام رضا رحمة الله علیه دسترخوان له مریانو بېل کړي؛ خو امام ورسره ونه منله. ٦

٦ -یو سړي، په حمام کې امام رضا رحمة الله علیه و نه پېژنده او ترې یې وغوښتل، چې هغه کیسه کړي. امام رضا هم ورسره ومنله؛ خو چې سړي امام رضا وپېژند؛ نو بښنه یې وغوښته؛ خو امام رضا تسلي ورکړه. ۷

---

[۱] (بحار، ٤٧ ټ، ٤٧ مخ)
[۲] (بحار، ٤٧ ټ، سیره پېغمبر)
[۳] (بحار، ١٦ ټ، ۲۳۵ مخ)
[٤] (بحار١٦٦ ټ ١۵۵ مخ) (بحار، ۷۳ ټ ۲۵۸ مخ)
[۵] (بحار، ٤٧ ج و٤٧ مخ)
[٦] (کودك، فلسفی ۲ټ، ٤۵۷ مخ)
[۷] (بحار، ٤۹ ټ، ۹۹ مخ)

## الهي ازمېښت

*حضرت علي وايي: الله تعالی ګناهګاران د محصولاتو په کمولو، د برکاتو په نيولو او د خيرات د زېرمو او د ورونو په تړلو، امتحانوي، چې دا ورته يوه يادونه وي، چې متنبه شي او توبه وکاږي او ګناهونه پرېږدي[1].

حضرت علي کرم الله وجهه ويلي: «د الله پاک ازمېښت پوهېدو ته نه، بلکې د انسان غبرګون ښکاره کېدو ته دی، که کړنې يې ښه وي، بدله واخلي او که بدې وې، سزا ووينې»[2].

*حضرت علي کرم الله وجهه وايي: الله روزي په کمولو او ډېرولو اندازه کړه، چې هر څوک په تنګلاسۍ او پراخلاسۍ، په فقر او غنا کې په شکر او صبر و ازمايي[3].

*حضرت علي کرم الله وجهه د «نَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَ الْخَيْرِ» په باب ويلي: روغتيا او مړښت، خير دی او ناروغي او تنګلاسي، شر دی؛ خو دواړه د ازمېښت لپاره دي[4].

## بد فال

په رواياتو کې لولو: بدفال، له الله تعالی سره يو ډول شرک دی او چې کله مو بدفال ونيو، خپل کار ته دوام ورکړئ او اعتنا ورته و نه کړئ. امام صادق رحمة الله عليه ويلي: د بدفال، اغېز په هماغه اندازه دی، چې منې يې؛ که يې سپک ټيټ او ناڅيزه وبولې، اغېز به يې لږ وي او که ټينګ يې وګڼې؛ خورا اغېزمن به وي او که پروا يې و نه کړې، هېڅ اغېز به و نه لري[5].

## د شيطان وسوسې

* د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د وينا له مخې، هغه سوچونه او وسوسې، چې بېواکه انسان ته راځي، تر هغه انسان پرې پړ نه دی، چې کومه کړنه يې نه وي کړې. «وضع عن امتی ما حدثت به نفسها ما لم يعمل به او يتکلم»[6].

---

[1] (نهج البلاغه: ۱۴۳ مه خطبه)

[2] نهج البلاغه: ۱۴۴ مه خطبه

[3] نهج البلاغه/۹۱ خطبه

[4] (مستدرک، ۲ ټ، ۱۴۹ مخ)

[5] (نمونه او الميزان تفاسير)

[6] بحار الانوار، ۱۷ ټ، ۵۴ مخ

* پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: شیطان د انسان پر زړه ویده دی، چې کله انسان، الله یاد کړي، پټ شي او چې کله غافل شي، وسوسه کوي یې. (فاذا ذکر العبد الله خنس... و اذا غفل وسوس ۱)

*په روایتونو کې راغلي، شیطان خپه شو، چې الله د انسان توبه ومنله. خپل ملګري یې راټول کړل او مرسته یې ترې وغوښته. هر یوه یې یوه خبره وکړه؛ خو یوه یې وویل: زه به انسان وسوسه کړم او توبه به یې هېره کړم. شیطان دا د توبې هېرولو کړلار خوښه کړه۲.

*په حدیث کې لولو: هغه مهال چې شیطان قسم وکړ، چې له څلورو خواوو به انسان ته په کمین او څار کې وي، چې بېلارې یا تم یې کړي؛ نو پرښتو د زړه سواندۍ له مخې وویل: پالونکیه! انسان به څنګه خوشې شي؟ الله تعالی وویل: «د سر له پاسه او ښکته دوه لارې ورته پرانستې دي او چې کله هم لاس په دعا پورې کړي یا مخ پر خاوره کېدي؛ نو د اویا کالو ګناهونه یې ور ببښم[۳]»

*همداچې حضرت آدم پر انسان د شیطان له لاسبرۍ او تسلطه خبر شو، د الله تعالی درشل ته یې ورمخ کړ او چغه یې کړه. ورته وویل شول: «مه خپه کېږه؛ ځکه ګناه یوه او ثواب دوه ګرایه حسابوم او د توبې لار هم پرانستې ده[٤]»

*امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «مخامخ د ابلیس راتلل په دې بڼه دي، چې انسان ته د آخرت چارې ساده او سپکې برېښوي او له شانه دا دی چې د شتمنیو زېرمول، کنجوسي او اولادونو او وارثینو ته پاملرنه ورتلقینوي او له ښي خوا، شبهې ور پیدا کوي، چې دین څپڅپانده او تباه کوي او له کین لوري؛ خوندونه، شهوات او منکرات (بدۍ) لاسبروي[٥]»

امام صادق رحمة الله علیه ویلي دي: «په بنده پسې د ګناه وسوسه ورځي، بنده ته الله وریادېږي، ګناه ته یې ورپام شي او نه یې کوي[٦]»

---

۱ - بحارالانوار، ٦٧ ټ، ۴۹ مخ.
۲ – نورالثقلین تفسیر.
۳ (تفسیر:کبیر، فخر رازي)
٤ (تفسیر: نور الثقلین)
٥ (تفسیر: کنزالدقائق)
٦ (نورالثقلین تفسیر)

په ځینو روایاتو کې د «لا اله- الا الله» د ذکر ویل راغلي، چې شیطاني وسوسې لرې کوي[1].د شیطان وسوسې، کله له لرې دي، « فَوَسْوَسَ إِلَيْهِ [2]»، کله په روح کې د ورننوتو له لارې « فِي صُدُورِ النَّاسِ [3]» ، کله د ملگرتوب له لارې « فَهُوَ لَهُ قَرِينٌ [4]» او کله هم د اړیکې او تماس له لارې دي. « مَسَّهُمْ ».

## پرښتې غوره دي که انسان

امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: ایا پرښتې افضل او غوره دي، که بني آدم؟ د حضرت علي کرم الله وجهه یو روایت یې ورته ووایه. و یې ویل: «الله تعالی پرښتې بې شهوته، له عقل سره او ځاروی یې بې عقله بې شهوته وپنځول؛ خو انسان یې د عقل او شهوت له گډولې جوړ کړ، که د انسان عقل یې پر شهوت ورلاسبری شي، تر پرښتې اوچت دی او که شهوت یې پر عقل ورلاسبری شي؛ نو تر ځارویو بدتر دی» « فمَن غلب عقله شهوتَه فهو خير من الملائكه و من غلب شهوته عقله فهو شرّ من البهائم[5]»

### ښکلا

* په روایاتو کې، د جماعت عادل امام ، ظاهري ښکلا، د لمانځه پر مهال عطر وهل او ښکلې جامې اغوستل، د رکوع او سجدو پرمهال لاسونه پورته کول، د اخترونو او جمعې لمونځونو کې گډون، د ښکلا له مصادیقو گڼل شوي[6].

*امام حسن مجتبی رضی الله عنه، چې جومات ته د لمانځه لپاره تله؛ نو ښې جامې یې اغوستې او ویل یې: « انّ اللّه جميل يحبّ الجمال فاتجمّل لربّى »، الله ښکلی دی او ښکلا یې ښه ایسي او پالونکي ته مې د خپلې ښکلا جامې اغوندم او بیا یې الاعراف/۳۱ آیت لوست[7].

---

[1] اثنی عشری تفسیر
[2] (طه، ۱۲)
[3] (ناس، ۵)
[4] (زخرف، ۳٦)
[5] (وسائل، ۱۵ټ، ۲۰۹مخ)
[6] تفاسیر: نورالثقلین،منهج الصادقین او اثنی عشري
[7] (مجمع البیان تفسیر)

## اسراف

امام صادق رحمة الله عليه وايي: « اموال، د انسان په لاس کې الهي امانت دی او لګښت بايد له اسرافه لرې وي[1]»

*امام صادق رحمة الله عليه ويلي: «څوک چې د خپلې يوې ورځې رزق ولري؛ خو قانع نه وي او له خلکو سوال او ګدايي کوي، له مسرفانو څخه دی[2]»

*په خوړو کې اسراف او ګېډه ډکول، د ډېرو بدني او روحي رنځونو او د سخت زړی سرچينه او له عبادته د خوند نه اخستو لامل دی؛ لکه چې پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم ويلي: « المعده بيت کلّ داء » معده (نس) د هر رنځ مرکز دی. يو مسيحي طبيب ددې آيت او حديث تر اورېدو روسته وويل: ټول د طب علم، په دې آيت او ستاسې د پېغمبر په دې خبره کې نغښتل شوی دی[3].

امام صادق رحمة الله عليه ويلي: « هر هغه څه اسراف دی، چې د مال له منځه وړو او بدن ته د زيان رسونې لامليږي « انمّا الاسراف فيما أتلف المال و اضرّ بالبدن[4]» او په بل روايت کې لولو: څه چې د الله په لار کې ولګي، که څه ډېر زيات وي، اسراف نه دی او څه چې د الله د ګناه په لار کې ولګول شي، که څه ډېر لږ وي؛ اسراف دی[5]»

## ژوند به کوې

*حضرت عثمان بن مظعون (رض)، پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم ته ورغی، و يې ويل: هوډ مې کړی، ځان خصي کړم او له کورنۍ او ټولنې ګوښې شم. آنحضرت صلی الله عليه وآله وسلم په کلکه له دې کاره منع کړ، و يې ويل: «د شهوت کابو کونې ته، روژه ونيسه، د رياضت او مردود رهبانيت پرځای جومات ته ولاړ شه او د لمانځه انتظار ته کېنه او د بېديا ګرځېدنې پرځای، د جګړې په ډګر، حج او عمرې کې برخه واخله، له مېرمنې او عطرياتو کار واخله او بېوزليو ته له خپلو شتمنيو ورکړه او له حرامو ځان بچ کړه او هجرت ترې وکړه، دا مې

---

[1] (صافی تفسير)

[2] (فرقان تفسير)

[3] (مجمع البيان تفسير)

[4] (کافي،٦ت، ۴۹۹مخ)

[5] (منهج الصادقين تفسير)

لار او دود دی او څوک چې له دې دوده مخ واړوي او توبه و نه کاږي، پرښتې به يې د کوثر ډګر ته له ورتلو منع کړي[1]»

* حضرت عاصم بن زیاد هم هوډ وکړ، چې خپل ژوندود واړوي او حلالو او خوندونو ته ورشا کړي. حضرت علي کرم الله وجهه دا اندنه وغندله او چې حضرت علي وپوښتل شو: نو ولې پخپله دغسې ساده ژوند کوې؟ امام ورته وويل: زه د ټولنې مشر يم، الله پر مشرانو لازمه کړې، د خپل ژوند سطحه، د ټولنې د کمزوريو وګړيو له کچې سره سمه کړي او د نورو په غم کې شريک وي[2].

*حضرت علي کرم الله وجهه له متحجرو خوارجو سره د خبرو لپاره، خپل استازي، حضرت ابن عباس ته وويل: ښې جامې واغونده، ځان معطر او خوشبويه کړه او له ښکلي آس سره ورشه[3].

## بې پوهې مه ګړېږه

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ويلي: «څوک چې بې معلوماتو کوم حکم وکړي، د اسمان و ځمکې پرښتې لعنت پرې وايي[4]»

*زراره، امام صادق رحمة الله علیه وپوښت: پر خپلو بندګانو د الله حجت څه دی؟ و يې ویل: «أن يقولوا ما يعلمون و يقفوا عند ما لا يعلمون[5]= يوازې هغه څه دې ووايي، چې پوهېږي او که نه پوهېږي، چوپ دې شي»

*امام صادق رحمة الله علیه ويلي: الله سپارښتنه کړې: خلک چې پر کوم څيز نه پوهېږي، و دې يې نه وايي، بيا يې دا آيت ولوست: « أَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِم مِّيثَاقُ الْكِتَابِ أَن لاَّ يِقُولُواْ عَلَى اللّهِ إِلاَّ الْحَقَّ[6] »

---

[1] (تفسير:كبير فخر رازي)

[2] (کافي، ١ټ، ۴١٠مخ)

[3] (منهج الصادقين تفسير)

[4] (نمونه تفسير)

[5] (تفسير فرقان)

[6] (نورالثقلين تفسير او کافی: ١ټ، ۴٣ مخ)

## د اسمان دروازې

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «د مؤمنانو کړنې او ارواح اسمان ته وړل کیږي او د اسمان ورونه ورته پرانستلیږي؛ خو د کفارو کړنې او ارواح چې اسمان ته پورته وړي، ناڅاپه غږ کیږي «اهبطو الی السجین» کوز دوزخ ته یې یوسئ[1]»

*حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «د اسمان ورونه، په پینځو وختونو کې پرانستې دي: د اسلام د مجاهدینو د جګړې پر مهال، د اورښت پر مهال، د قرآن لوستو پر مهال، د سباوون پر مهال او د آذان پرمهال[2]»

## د دوزخ پوړونه

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم د الاعراف سورت ۴۱ آیت تر لوستو روسته وویل: «جهنم پورتني او کوزني پوړونه لري، څرګنده نه ده، چې پورتني یې ډېر دي که کوزني او کافران د پوړونو په منځ کې پراته دي او تل پرې دباو وي. همدغسې آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: په قبر کې د کافرانو لاندېستونی او اغوستونی، د جهنم اور دی[3]».

## مؤمن په جنت کې او کافر په دوزخ کې

*د احادیثو له مخې، هر مؤمن او کافر په جنت او دوزخ کې یوځای لري؛ خو مؤمن، د کافر جنتي ځای په میراث وړي او کافر د مؤمن دوزخي ځای[4]. له دې حدیثه ګټنه کیږي، چې ټولو ته د نېکمرغۍ او بدمرغۍ ورونه پرانستې دي او هېڅوک له پیله جنت یا دوزخ ته پیدا شوي نه دي؛ بلکې د هر چا ټاکنه او کړنه یې برخلیک ټاکي[5].

## د خلکو هدایت ته رالیږل شوی دی

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: « مثل ما بعثنی اللّه من الهدی و العلم کمثل الغیث الکثیر اصاب ارضاً.. » «خلکو ته د علم او هدایت لپاره رالیږل شوی یم؛ لکه پرېمانه اورښت چې پر ځینو ځمکو اغېز کوي او پر ځینو نه؛ لکه چې ځینې زما احکام اخلي، عالم او فقیه

---

[1] (مجمع البیان تفسیر)

[2] (نورالثقلین تفسیر)

[3] (نمونه تفسیر)

[4] (نورالثقلین تفسیر)

[5] (نمونه تفسیر)

کیږي او ځینې سر نه رااوچتوي او نه هدایتیږي[۱] ؛ نو طیب او پاک زړه، د پاکې ځمکې په څېر او خبیث او ناپاکه زړه، د خبېثې او ښوره زارې ځمکې په څېر دی.
*امام باقر رحمة الله علیه ویلي: «الله په پېغمبر او قرآن ځمکه اصلاح او سمه کړه، و یې ویل: تر سمونې روسته فساد مه کوئ[۲] » هو، د هر پېغمبر په راتلو سره، یو ستره ټولنیزه سمونه راغلې او د دوی له احکامو اوختل، په ټولنې کې د فساد او تباهۍ لامل دی.

## الهي ډار او هیله

*لقمان حکیم خپل زوی ته وویل: «زویکه! که د مؤمن زړه څېرې کړې؛ دوې رڼاوې به پکې وموميٍ؛ یوه د الهي ډار رڼا او بله د هیلې او لورنې رڼا، چې دواړه یو رنګ دي[۳]».
حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: « کُن لما لا ترجو أرجی منک لما تَرجو » کوم څیز ته چې هیلمن نه یې، تر هغه ورته ښه هیلمن وسه چې هیله پکې ده؛ لکه چې موسی علیه السلام وخوځېد، چې خپلې کورنۍ ته اور راوړي؛ خو د رسالت له مقام سره راستون شو. د سبا ملکه د حضرت سلیمان علیه السلام لیدو ته له ښاره ووته؛ خو با ایمانه (مؤمنه) راستنه شوه. کوډګر د فرعون دربار ته د مقام لپاره ورغلل؛ خو با ایمانه او مؤمنان ستانه شول[٤].

## د نورو پر کار خوښي لکه د هماغه کار کول

*امام رضا رحمة الله علیه ددې پوښتنې په ځواب کې چې ولې الله تعالی د حضرت نوح په پېر کې ټول نړیوال غرق کړل؛ خو په دوی کې کوشنیان او بې ګناه وګړي هم ول، وویل: «ماشوم پکې نه و؛ ځکه دوی ځلوېښت کاله شنډ شوي ول او داچې بې ګناهان هم د نور پر کار راضي ول او د نورو پر کار خوښي لکه د هماغه کار کول دي[٥]»

---

[۱] (تفسیر :منهج الصادقین)
[۲] (کافي، ۷ټ، ۵۸مخ)
[۳] (اثنی عشري تفسیر)
[٤] (اثنی عشري تفسیر او تحف العقول، ۲۰۸ مخ)
[٥] (اثنی عشري تفسیر)

## لواطت

*امام صادق رحمة الله علیه د لواط د تحریم په فلسفه کې ویلي: لواط، د مېړه و مېرمن ترمنځ کورنیزې اړیکې کموي، ځوځات او اولاده پرې کوي، طبیعي جنسي کوروالی له منځه وړي او ډېر زیات فسادونه راولاړوي[1].

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: پر هغو نارینه وو دې د الله تعالی لعنت وي، چې ځان یې د ښځو په څېر کړی وي او ځان هوسپالو نارینه و ته ور وړاندې کوي[2].

امام صادق رحمة الله علیه هم ویلي: د همجنسپالۍ پر مهال، د الله تعالی عرش لړزېږي او په قیامت کې ددې کار عامل ناپاک راپاڅي او د الله عذاب ورباندې وي او دوزخ یې هستوګنځی دی[3].

*په روایاتو کې هم په دې باب سخت ګواښونه لیدل کېږي؛ لکه: که له کوم هلک سره لواط وشي، الهي عرش لړزېږي او په قیامت کې الله تعالی خبرې ورسره نه کوي[4]. امام صادق رحمة الله علیه ویلي: که یو تن دویم ځل سنګسارېږي؛ نو دا تن به اهل لواط وي[5]. رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې له نورو سره پر لواط ټینګار ولري، له نړۍ نه مري؛ خو داچې خلک به له ځان سره لواط ته وبلي[6]. د لواط په عمل کې، فاعل او مفعول، دواړه اعدامېږي. او په روایاتو کې د حرمت دلیل، فساد او د نسل پرېکون ښودل شوی دی[7].

*په ګڼو روایاتو کې هغه ښځې چې ځانونه له نارینه وو سره ورته کوي او هغه نارینه چې ځانونه د ښځو په څېر کوي، او د لواط بدرنګ عمل ته لاراواری کوي، دا چارې سختې غندل شوي دي.

---

[1] (وسائل: ۱۴ټ، ۲۵۲مخ)

[2] (نمونه تفسیر او وسائل: ۱۴ټ، ۲۵۵مخ)

[3] (نمونه تفسیراووسایل: ۱۴ټ، ۲۴۹مخ)

[4] (بحار: ٧٦ ټ، ٦٣ مخ)

[5] (بحار: ٧٦ ټ، ٦٧ مخ)

[6] (بحار: ٧٦ ټ، ٦٧ مخ)

[7] (نهج البلاغه، ۲۵۲ حکمت)

## ګناه کول د د عا د قبلېدو مخه نیسي

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: کله یو بنده، له الله تعالی د خپلې اړتیاوو پوره کولو لپاره سوال کوي او الله یې دعا قبلوي او اړتیاوې یې لرې کېږي؛ خو روسته، بنده کومه ګناه کوي، چې دده د اړتیاوو د نه پوره کېدو لاملېږي[1].

## د مؤمن زړه

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د مؤمن زړه د سپینې پاڼې په څېر دی او په هرې ګناه یو تور ټکی پکې پیدا کېږي، که توبه وباسي، دا تور ټکی پاکېږي؛ خو که خپلې ګناه ته دوام ورکړي، دا ټکی زیاتېږي؛ تردې چې ټول زړه یې ونیسي او خیر ته یې د ور رسېدو خنډ شي او نېکمرغی ته بله کومه لار و نه لري؛ لکه چې الله تعالی وایي: «بَلْ رانَ عَلی قُلُوبِهِمْ[2]» ګناه او بدچار، د دوی روږد؛ خوی او طبیعت ګرځي[3].

## د یهودي نیوکه

*یوه ورځ یو یهودي د نیوکې په توګه مسلمانانو ته وویل: تاسې لا د خپل پېغمبر جنازه خاورو ته سپارلې نه وه، چې اړپېچ یا اختلاف مو وکړ! حضرت علي کرم الله وجهه په ځواب کې ورته وویل: اختلاف مو د پېغمبر صلی الله علیه وآله وسلم په خبره کې و، نه په خپله پېغمبر او نه الله کې؛ خو ستاسې پښې له سینده لا وچې شوې نه وې، چې له موسی علیه السلام مو بوت وغوښت[4].

## څلوېښت

*په «اربعین» او ۴۰ شمېره کې، ځینې خوالې پرتې دي. دا شمیره د ادیانو په فرهنګ او روایاتو کې، ځانګړی مقام لري؛ لکه چې لولو:

*د نوح علیه السلام په زمانې کې، د کفارو د عذاب لپاره، ۴۰ ورځې باران وورېد.

*۴۰ کاله په بېدیا کې د موسی علیه السلام قوم سرګردانه و.

---

[1] (اثنی عشري تفسیر)

[2] (مطففین، ۱۴)

[3] (اثنی عشري تفسیر)

[4] (نهج البلاغه، ۳۱۷ حکمت)

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ۴۰ ورځې له خدیجي بي بي جلا شو او اعتکاف یې وکړ، چې اسماني خواړه نازل شول او د حضرت زهرا بي بي د زوکړې سریزه چمتو شوه.
*د الله رسول صلی الله علیه وآله وسلم په ۴۰ کلنۍ کې مبعوث شو.
*انسان تر ۴۰ کلنۍ د روحي او مانیز (معنوي) کمال لاره چاره لري؛ خو تردې روسته سختیږي.
*په عمل کې څلوېښت ورځې اخلاص، له زړه نه پر خولې د حکمت بهیدو لاملیږي.
*پراخۍ راوستو او ستونزاوارۍ ته د ځینو سورتونو او دعاوو څلوېښت وارې لوستو سپارښتنه شوې ده.
*د ځینو ګناهونو له لامله د څلوېښت ورځو کړنې، چې له دې ځنې لمونځ هم دی، نه قبلیږي.
*که څلوېښت مؤمنان د یوه مړي په ښه توب شهادت ورکړي، الله تعالی یې ښښي[1]. ځینې کتابونه د څلوېښت شمېرې په چورلیځ لیکل شوي؛ لکه څلوېښت احادیث[2].

## خشوع او خضوع

*امام صادق رحمة الله علیه وایي: الله تعالی موسی علیه السلام ته وویل: ایا پوهیږې، ولې مې غوره کړې؟ ځکه زما درشل ته دې خضوع (ظاهري عاجزي) او خشوع (باطني عاجزي) ښسارې وه؛ چې کله هم لمانځه ته درېدې، خپل اننګي دې پر خاوره ایښودل[3].
*په بل حدیث کې راغلي، چې الله ویلي: ځکه زما په بندګانو کې دې ځان زما په باب خوار او ذلیل باله[4].

## ګناه ته مخونه مه ورکوئ

*حضرت علي کرم الله وجهه په دې چارو سخته نیوکه کوله: ګناه ته مخونه مه ورکوئ، د خرما له شیرې سره شراب مه ورته کوئ، چې حرامو ته د حلالو جامې واغوندئ، بډې ډالۍ مه ګڼئ او ربا (سود) ته راکړه ورکړه مه واست[5].

---

[1] (سفینة البحار: ۱ټ، ۵۰۴ـ۵۰۵ مخونه)
[2] (سید رضا، تفسیر فرقان او اربعین در فرهنګ اسلامي)
[3] (صافی تفسیر)
[4] (نورالثقلین تفسیر)
[5] (نهج البلاغه، ۱۵٦ مه خطبه)

## اندیز خواړه

*امام حسن (رض) ویلي: «عجب لمن یتفکر فی ما کوله کیف لا یتفکر فی معقوله فیجنب بطنه ما یوذیه و یودع صدره ما یرویه» له هغه حیراني ده، چې په خپلو بدني خوړو کې اندنه او سوچ کوي؛ خو د خپلو اندیزو خوړو په ټاکنه کې هېڅ سوچ نه کوي او هر څه ته په خپل زړه او گروهه کې ځای ورکوي[1].

## عالم ذر

الف: د روایاتو له مخې، د حضرت آدم تر پیدایښت روسته، د نړۍ تر پایه یې ټوله اولاده د خورو ورو ذرو په بڼه؛ لکه مېږیان دده له شا راووتل، الهي پوښتنه ترې وشوه او په الهي ځواک یې د الله تعالی پر ربوبیت منښته وکړه. ورپسې ټول د آدم صلب، تومنې او ختمې ته ورستانه شول، چې سوکه سوکه او په طبیعي توگه دې نړۍ ته راشي. دې عالم ته «عالمِ ذر» او هغې ژمنې ته د «ألست ژمنه» وايي[2].

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: په عالم ذر کې د آدم ځینو اولادونو په خوله منښته وکړه؛ خو زړگنی ایمان یې نه درلود[3]. له پیغمبر اکرم روایت شوی چې دا منښته، د عرفې پر ورځ شوې وه[4].

ب: له «عالم ذر» نه مراد، د فطرت او تکوین تړون دی؛ یعنې هغه مهال، چې د آدم اولاده د پلرونو له شا او صلب څنې وځي او د میندو زیلانځونو ته د ذراتو په بڼه ورننوځي؛ نو الله تعالی د دوی په ختة کې توحیدي او د حق پالنې فطرت ورږدي او دا الهي خواله د یوه دننني حس په بڼه د ټولو په ختة او فطرت کې، په امانت او ودیعت ایښودل کېږي؛ نوځکه فطرت او بشري عقل، د الله تعالی پر ربوبیت گواهي ورکوي. په ځینو روایاتو کې چې امام صادق رحمة الله علیه د فطرت په اړه پوښتل شوی؛ نو امام فطرت، «عالم ذر» گڼلی دی[5].

*په ځینو روایاتو کې، فطرت د «عالمِ ذر» اغېز (اثر) نه دی؛ خپله «عالم ذر»، «ثبت المعرفة فی قلوبهم و نسوا الموقف» دی؛ نوځکه انسانانو په وخت او موافقو کې منښته کړې؛ خو هېره

[1] (فرقان تفسیر او بحار: ۱ټ، ۲۱۸ مخ)
[2] (کافي: ۲ټ، ۱۳ مخ)
[3] (نورالثقلین تفسیر)
[4] (درّ المنثور تفسیر)
[5] (تفاسیر: نورالثقلین او برهان او پیام قرآن: ۳ټ، ۱۱۷ مخ)

کړي يې ده او اغېز يې د هماغه فطرت اقرار دی، چې ورته لېوالتيا لري. په هر حال، د آيت په باب متکلمينو، محدثينو او مفسرينو خبرې اترې کړي او موږ يې پوهه، په علم کې راسخانو او پخو ته ورپرېږدو[1].

## بَلعَم د باعور زوی

امام رضا رحمة الله عليه وويل: بَلعَم د باعور زوی، پر «اسمِ اعظم الهي» پوهېده او دعا يې قبلېده؛ خو د فرعون دربار ته ورغی او سره له دې چې په پيل کې، د موسی عليه السلام مبلغ و؛ خو په پای کې يې د موسی عليه السلام او دده د يارانو پر ضد اقدام وکړ او عاقبت يې بد شو[2].

## اسماء الحسنی

په قرآن کې څلور ځل د «اسماء الحسنی» عبارت راغلی دی[3].

* امام رضا رحمة الله عليه ويلي: چې کله د ستونزو درته مخه شوه؛ نو په موږ له الله مرسته وغواړئ او بيا يې وويل: «ولله الاسماء الحسنی فادعوه بها[4]»

د رواياتو له مخې، څوک چې د الله تعالی «اسم اعظم» وپېژني، دعا يې قبلېږي او په طبيعت کې تصرف کړای شي؛ لکه چې بلعم باعور (چې په ۱۷۵ آيت کې يې يادونه وشوه) د الله تعالی پر «اسم اعظم» پوهېده؛ خو دا «اسم اعظم» څه دی؟ ځينو ويلي: يو له الهي نامو دی، چې را نه پټ دی. ځينې وايي: اسم اعظم، په حقيقت کې لفظ او نوم نه؛ بلکې د الله تعال کمال او يو صفت دی، چې که څوک يې په خپل وجود کې يو څرک رادبره کړي، روحي ځواک يې تردې بريده رسي، چې په طبيعت کې تصرف کړای شي، که نه داسې نه چې يو تن، د لفظ په زده کړې او د يوې کلمې په ويلو «مستجاب الدعوه» شي او مثلاً پر نړۍ اغېز وکړي[5].

---

[1] (د بېلابېلو اقوالو او نظرياتو د پوهېدو لپاره وګورئ: مکارم شيرازي، «پيام قرآن» تفسير او شيخ سبحاني، «منشور جاويد» تفسير او (طيب البيان تفسير)

[2] (تفاسير: نورالثقلين او کنزالاقائق)

[3] (اسراء: ۱۱۰ او طه: ۸اوحشر:۲۴ او همدا آيت اسماء الحسنی درې مصداقونه لري: الهي صفات، الهي نومونه او الهي وليان (فرقان تفسير)

[4] بحار: ۹۱ټ، ۵مخ)

[5] (نمونه تفسير)

*امام رضا رحمة الله علیه ویلي: «ان الخالق لایوصف الا بما وصف به نفسه» پنځګر (خالق) یوازې په هماغه وصف کېږي (یادېږي)، چې ځان یې پرې (وصف او) یاد کړی»؛ یعنې له ځانه پر الله تعالی نامې ایښوداې نشو، چې مثلاً عفیف، مېړنی او... ورته ووایو[1].

## استدراج

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «هغوی چې په سوکالۍ او ارامۍ کې ژوند کوي، د استدراج د خطر په سوچ کې دې وي، هسې نه نعمتونه یې د غفلت او ویده توب وسیله شي[2]» همداراز ویلي یې دي: «څوک چې په ډېرو نعمتونو او امکاناتو کې ژوند کوي او د نعمت منندوینه نه کوي او دا استدارجي مجازات و نه ګڼي، د خطر له نښو غافل دی[3]»

*حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «چې کله الله کوم بنده ته د څه خیر اراده وکړي، د ګناه کولو پر مهال یې غوږونه تاووي (ګوشمالي کوي) چې توبه وکاږي؛ خو چې کله یې د کړنو په پار، بدي او شر ور مقدر شي، د ګناه پر مهال څه نعمت ورکوي، چې توبه او استغفار هېر کړي او ګناه ته دوام ورکړي، چې په رښتینه کې یو ډول پټ او سوکه سوکه عذاب دی؛ لکه چې الله تعالی وایي: « سَنَسْتَدْرِجُهُم مِّنْ حَيْثُ لاَ يَعْلَمُونَ [4]»

*حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «مخه ورکوونکي تحریف ګران (اړونکي) چې هره ورځ د یوه طاغوت مطیع او په چوپړ کې دي، په استدراج قانون کې رانغاړلېږي[5]»

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «الله تعالی، خپلو دوستانو ته په تراخو اخطار ورکوي او نا اهلان په سوکالۍ کې؛ خوشې کوي[6]»

*امام وپوښتل شو څنګه وپوهېږو چې راسره شته نعمتونه استدراج دی که نه؟ ورته یې وویل: که د نعمت شکر وباسې؛ نو مه اندېښمنېږه، استدراج نه دی[7].

---

[1] (فرقان تفسیر)

[2] (نورالثقلین تفسیر)

[3] (نمونه تفسیر)

[4] (تفاسیر: نمونه او برهان)

[5] (نورالثقلین تفسیر)

[6] (نمونه تفسیر)

[7] (اصول کافي: ۲ټ، باب: استدراج)

## عفوه

*چې کله د الاعراف سورت ۱۹۹ آیت نازل شو، پیغمبر صلی الله علیه وآله وسلم ددې آیت د عملي کولو څرنګوالی وغوښت. حضرت جبرائیل علیه السلام پیغام راووړ: «تعفو عمن ظلمک و تعطی من حرمک و تصل من قطعک[۱]» چاچې ظلم درباندې کړی، ترې تېر شه، چاچې بې برخې کړی یې، بخشش ورکړه او چاچې اړیکه درسره پرې کړې، اړیکه ورسره ونیسه.

## له جهاده تېښته

امام رضا رحمة الله علیه ویلي: «له جهاده تېښته، د دین د سپکاوي، د حق مشر د استخفاف او سپکاوي، د غلیم د جرأت او د دین د محوې لامل دی[۲]»

د حضرت علي کرم الله وجهه په فضایلو کې راغلي: «نوموړي په ټول عمر کې، ان یو ځل هم له جګړې او مورچله تېښته کړې نه ده[۳]» او خپله علي کرم الله وجهه ویلي: «خورا غوره مرګ، شهادت دی، پر هغه قسم چې د ابیطالب د زوی ساه یې په واک کې ده، په بسترې او کټ کې تر مرګه، د تورو د زرو ګوزارونو مرګ راته غوره دی[٤]»

## ښکاره ګناه او پټه ګناه

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: «که ګناه پټه وشي، الله تعالی عمومي خلک نه عذابوي؛ خو که یوه ډله ښکاره بدي کوي او خلک دوی تېپسوري نه کړي، دواړه ډلې د سزا وړکېږي[۵]»

## فتنه

حضرت علي کرم الله وجهه وایي: «په فتنو کې د اوښ د جونګي په څېر وسئ، چې نه پېټی درباندې وړای شي او نه مو لوشلی شي او نه ګټنه درنه کړای شي». « کن فی الفتنه کابن الّبون،لاظهر فیرکب و لاضرع فیحلب[٦]»

[۱] (مجمع البیان تفسیر او بحار: ۷۵ټ، ۱۱۴ مخ)

[۲] (نورالثقلین تفسیر)

[۳] (تفاسیر: نمونه او نورالثقلین)

[٤] (نهج البلاغه: ۲۱ مه خطبه)

[۵] (اثنی عشري تفسیر)

[٦] (نهج البلاغه، لومړی حکمت)

*حضرت علي کرم الله وجهه ويلي: « لا يقولنّ احدکم الّلهم انّی اعوذ بک من الفتنه لانّه ليس احد الاّ و هو مشتمل علی فتنه » ؛ هېڅوک دې له فتنې او ازمېښته لرېوالی و نه غواړي؛ ځکه بې استثناء ټول خلک پرې اخته کېږي؛ بلکې په ازمېښتونو کې دې له خدايه له ښو پېدونو او کړليچ نه لرېوالی وغواړي. بيا امام د الهي ازمېښتونو د علت او فلسفې په باب وويل: «چې راضي له ناراضي بېل شي او د هر چا د نېکمرغۍ او بدمرغۍ لاملونه يې په کړنو کې مشخص او معلوم شي[1] »

## امانت

امام باقر رحمة الله عليه ويلي: «د دين احکام، الهي فرايض او واجبات، امانت دي[2] »
پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم ويلي: «څوک چې په امانت کې خيانت وکړي، منافق دی، که څه روژه ونيسي او لمونځ وکړي » «امام صادق رحمة الله عليه ويلي: د خلکو لمونځ او روژه مو و نه غولوي؛ ځکه کله دا ټول د عادت له مخې دي. خلک په رښتيا ويلو او امانت امتحان کړئ او وپېژنئ[3] »

## د رباني علماوو د شتون برکت

په احاديثو کې راغلي چې الله تعالی د ځينو پاکانو او رباني عالمانو د شتون په پار، له نورو سختي او عذاب لرې کوي؛ لکه چې د لوط قوم په ځپلو کې، ابراهيم عليه السلام د عذاب مامورو پرښتو ته وويل: « إِنَّ فِيهَا لُوطًا »؛ يعنې په سيمه کې د يوه الهي نارينه له شتون سره سره، هغه ځای ځپئ؟! پرښتو وويل: پوهېږو چې لوط عليه السلام هلته دی او امر مو ورته کړی، چې له هغه ځايه ووځي[4].
علي کرم الله وجهه د پېغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم تر رحلت روسته وويل: «له دوو امانو يې يو را نه ولاړ، بل امان خوندي وساتئ، چې استغفار دی[5] »

---

[1] (نهج البلاغه، ۹۳ حکمت)
[2] (نورالثقلين تفسير)
[3] (کافي: ۲ ټ، ۱۰۴ مخ)
[4] (عنکبوت: ۳۱- ۳۲)
[5] (نهج البلاغه ، ۸۸ حکمت)

په روایاتو کې لولو، امام رضا رحمة الله علیه زکریا بن آدم ته وویل: «په قُم ښار کې پاتې شه! الله لکه څنگه چې د امام کاظم رحمة الله علیه په شتون، له بغداد مېشتو کړاو او عذاب لرې کړ، ستا په شتون به یې هم له دې ښاره لرې کړي[1]»

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم ویلي: «مرگ و ژوند مې درته خیر دی؛ پر ژوندون مې الله عذاب درنه لرې کوي او زما تر مرگ روسته هم راته ستاسې د کړنو په راوړاندې کولو، زما په استغفار او درته په ښېنې غوښتو، په خیر کې رانغاړېږئ. «امافی مماتی فتعرض علی اعمالکم فاستغفر لکم[2]»

## خوب لیدل

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه وآله وسلم وویل: «خوب درې ډوله دی: یا د الله له لوري، یو زېرى او خبر دی یا د شیطان له لوري یو غم و خپگان دی او یا د انسان ورځېنۍ ستونزې دي، چې په خوب کې یېویني[3]» د انبیاوو او اولیاوو خوب له لومړي ډوله دی؛ نوځکه حجیت لري. آنحضرت صلی الله علیه وآله وسلم په بل حدیث کې وایي: «د صالح وگړیو خوب، د الله له لوري یو زېرى دی او د نبوت له برخو یوه بر خه ده[4]»

## د نعمتونو د اوړېدو لاملونه

*په گڼو احادیثو کې ځینې لاملونه؛ لکه: ظلم و گناه، دالهي نعمتونو د ادلون بدلون لامل شوي؛ لکه چې له گناه او بېلارېتوب او پر حق لار حرکت، د ډول ډول نعمتونو د ورماتېدو موجب دی[5].

گناهونه او ظلمونه، انسان د الهي لورنو د برخمنۍ له وړتیا لرې کوي؛ لکه چې حضرت علي کرم الله وجهه په قاصعه خطبه (وینا) کې اشاره ورته کړې او په کمیل دعا کې لولو: « الّلهم اغفر لی الذنوب الّتی تهتک العصم...الّلهم اغفر لی الذّنوب الّتی تغیّر النّعم... »

---

[1] (بحار: ۵۷ ټ، ۲۱۷ مخ)

[2] (نورالثقلین تفسیر)

[3] (بحار: ۱۴ ټ، ۴۴۱ مخ)

[4] (بحار: ٦١ ټ، ۱۷۷ مخ)

[5] (نور الثقلین تفسیر)

*مالک اشتر ته د حضرت علي كرم الله وجهه په ليک کې لولو: «د ظلم و ستم په څېر هېڅ څيز، الهي نعمتونه نه اړوي؛ ځکه الله د مظلوم آه و فرياد اوري او ظالمانو ته په کمين کې دی[1]»

*امام صادق رحمة الله عليه ويلي: «تل د ورځې و شپې له سختيو او کړاوونو، چې ستاسې د ګناهونو سزا ده، الله ته پناه يوسئ[2]»

## غليم

*حضرت علي کرم الله وجهه مالک اشتر ته کاږي: « وَلاَ تَدْفَعَنَّ صُلْحاً دَعَاکَ إِلَيْهِ عَدُوٌّکَ وَلِلَّه فِيهِ رِضًى، فَإِنَّ فِي الصُّلْحِ دَعَةً لِجُنُودکَ وَرَاحَةً مِنْ هُمُومکَ وَأَمْناً لِبِلاَدِکَ، وَلَکِنِ الْحَذَرَ کُلَّ الْحَذَرِ مِنْ عَدُوِّکَ بَعْدَ صُلْحِهِ، فَإِنَّ الْعَدُوَّ رُبَّمَا قَارَبَ لِيَتَغَفَّلَ [3]» د غليم وړانديز شوې سوله مه ردوه؛ خو تر سولې روسته هوښيار وسه او د غليم له ټګۍ برګۍ ځان وساته؛ ځکه کله د غليم نژدې والی، د غافلولو لپاره دی!

## الهي نصرت

په ځينو رواياتو کې، الهي نصرت او ملاتړ، له پيغمبر اکرم صلی الله عليه وآله وسلم نه د علي کرم الله وجهه په ملاتړ تفسير شوی. د ارواښاد ابن عساکر په کتاب کې له حضرت ابوهريره روايت شوی، چې پيغمبر صلی الله عليه وآله وسلم وويل: «پر الهي عرش ليکل شوي: *لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنَا وَحْدِي لاَ شَرِيكَ لِي، وَ مُحَمَّدٌ عَبْدِي وَ رَسُولِي أَيدْتُهُ بِعَلِي*= بې له ما معبود (لمانځوړ) نشته، شريک او سيال نه لرم او محمد مې بنده او استازی دی او علي مې د ده مټ کړ» او دا د الله تعالی هماغه خبره ده چې و يې ويل: « هُوَ الَّذِيَ أَيَّدَكَ بِنَصْرِهِ وَبِالْمُؤْمِنِينَ «فکان النّصر عليّاً»[4]

## هجرت

*امام صادق رحمة الله عليه وايي: پر کومه ځمکه چې وسې، خو پکې ګناهونه کېږي؛ نو بل ځای ته هجرت ترې وکړه. «اذا عصی الله فی ارض انت فيها فاخرج منها الی غيرها» لکه چې

---

[1] (نهج البلاغه: ۵۳ ليک)

[2] (کافي: ۲ ټ، ۲۶۹ مخ)

[3] (نهج البلاغه، ۵۳ ليک)

[4] (درالمنثور تفسير: ۳ ټ، ۱۹۹ مخ. ملحقات احقاق الحق: ۳ ټ، ۱۹۴ مخ. بحار: ۲۷ ټ، ۲ مخ)

هجرت د علم د زده کړې او نورو ته ورزده کولو لپاره هم لازم دی: «فَلَوْلاَ نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ[١].»

## شرک

*امام باقر رحمة الله علیه ویلي: له شرکه د توبې لار، ایمان راوړل دي[٢].

* د امام صادق رحمة الله علیه وینا ده: په انسان کې شرک په توره شپه کې پر یوه توره تیږه د یوه تور میږي له حرکته هم پټ وي[٣].

امام باقر رحمة الله علیه وویل: خلک الله تعالی ته په عبادت کې موحد دي؛ خو له الله تعالی پرته د بل په لاروی کې په شرک کې ښکېلیږي[٤].

او په نورو روایتونو کې راغلي، چې په یوسف سورت، ١٠٦ آیت کې له شرکه مراد، د نعمت شرک دی؛ لکه څوک چې ووایي، چې پلاني مې کار جوړ کړ او که پلانی نه وای؛ نو پو پناه به وم[٥].

## جومات ته تګ

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: « *إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَعْتَادُ الْمَسَاجِدَ فَاشْهَدُوا* [٦]» همداچې جومات ته مو د چا تګ راتګ ولید؛ نو پر ایمان یې ګواهي ورکړئ.

*په احادیثو کې هغوی ته چې جومات ته ځي راځي، پربمانه ګټې ویل شوي؛ لکه: د دوست او دیني رور پیدا کول، ګټور معلومات، ارشاد او له ګناه لرېوالی، له الهي نعمت او لورنې برخمني[٧].

---

[١] توبه، ١٢٢

[٢].(کافي: ٥ ټ، ١٠ مخ)

[٣] (سفینة البحار ١/ ٦٩٧).

[٤] (کافی ٢ /٢٩٢)

[٥] (نمونه تفسیر).

[٦] درّالمنثور او وسائل تفسیر

[٧] درّالمنثور

## لاروي

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «من اطاع رجلا فی معصیة الله فقد عَبَدَه» څوک چې د الله د سرغړوني او معصیت په لار کې په بل پسې ولاړ شي؛ نو یې لمانځلی دی[1]».

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: کتابیانو خپلو عالمانو ته لمونځ نه کاوه او روژه یې نه نیوه؛ بلکې د دوی عالمانو حرام حلالول او حلال یې حرامول او خلکو هم لاروي ترې کوله[2].

## د ځمکې رڼا

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: الله ځمکوالو ته وکتل، زه یې غوره کړم، دویم ځل یې ولیدل؛ نو علي بن ابیطالب یې غوره کړ، دا تر ما روسته د ځمکې رڼا ده. بیا پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د توبه سورت، ۳۲ آیت ولوست[3].

## امام مهدي

یو حدیث له فجر نه مراد د مهدي علیه السلام راښکار کېدل ګڼلي دي «الفجر هو القائم علیه السلام» چې د ظلم او فساد تورتم به د حضرت مهدي د سهار په پاڅون راټول شي. [۱]

*په یوه حدیث کې راغلي دي: هغه مهال چې حضرت امام مهدي راښکاره شي؛ نو د نړۍ خلک به ډلې ډلې اسلام راوړي٤.

امام باقر رحمة الله علیه ویلي: داسې وخت به راشي چې څوک به پاتې نه وي، چې د حضرت مهدي پر رسالت یې منښته کړې نه وي[5].

له حضرت علي کرم الله وجهه روایت شوی، چې د امام زمان د راښکاره کېدو پر مهال به هر کور او کلي ته اسلام ورغلی وي، که زړه یې وي که نه وي، په هر کلي کې به هر ګهیځ و ماښام د اذان غږ واورېدل شي[6].

---

[1] (نور الثقلین تفسیر)

[2] (بحار: ۲ ټ، ۹۸ مخ)

[3] (بحار: ۲۳ ټ، ۳۲۰ مخ)

[۱]- برهان تفسر

[4] - نورالثقلین تفسیر

[5] (نور الثقلین تفسیر)

[6] (صافي تفسیر)

*په ګڼو روایاتو کې راغلي: هغه صالح بندګان چې د ځمکې پاتوړي به شي، د امام مهدي یاران دي[1].
*په روایتونو کې راغلي: کهف اصحاب به د امام مهدي له یارانو څنې وي. ۲
*امام کاظم رحمة الله علیه د «مَنْ أَصْحابُ الصِّراطِ السَّوِیِّ وَ مَنِ اهْتَدی» په باب ویلي دي: سیده لار، زموږ د قایم علیه السلام لار ده او هدایت شوی هغه دی، چې د هغه په اطاعت او لاروی ښیون شي[3].
په متواترو روایتونوکې لولو چې پر نورو اسماني ادیانو د اسلام بریا به د امام مهدي د راښکاره کېدو پر مهال وي.
حضرت علي کرم الله وجهه وویل:«فو الذی نفسی بیده حتی لا تبقی قریه الا و ینادی فیها بشهاده ان لا اله الا الله بکره و عشیا٤» پر الله چې ساه مې د هغه په لاس کې ده، داسې ښار او کلی به پاتې نشي، چې سهار ماښام به پکې د اذان او شهادتنیو غږ وا نه وربدل شي.

## پوه دې ګړېږي او ناپوه دې چوپ وي

*پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي[5]: نه دې عالم (پوه) چوپتیا او پټونه خپله کړي او نه دې ناپوه چوپ وي. لا ینبغی للعالم أن یسکت علی علمه و لا ینبغی للجاهل أن یسکت علی جهله و قد قال الله تعالی: فَسْئَلُوا أَهْلَ الذِّکْرِ...

## د حضرت محمد (ص) پوهه

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: بېشکه پر پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د قرآن په نزول، د تېرو پیغمبرانو پوهه، د وصیانو پوهه او څه چې تر قیامته پېښېږي، پوهه یې ورکړای شوې ده.
بیا امام دا آیت ولوست چې الله تعالی خپل استازي ته وایي[6]: «هذا ذِکْرُ مَنْ مَعِیَ وَ ذِکْرُ مَنْ قَبْلِی... » نوځکه قرآن د «ما کان و ما یکون »علم رانغاړونکی دی.

[1] (نور الثقلین تفسیر)
[2]. منتخب الاثر، ۴۸۵ مخ.
[3] (تاویل الایات، ۳۱۷ مخ)
[4] - مجمع البیان، کنزالدقائق او برهان تفسیرونه
[5] (درّالمنثور تفسیر)
[6] (فرات تفسیر، ۲۶۱ مخ)

## زکات

امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: په څومره اندازه مال کې زکات فرضیږي؟ ویې ویل: د ظاهر یا باطن زکات؟ ویې ویل: دواړه. امام لومړی د ظاهري زکات نصاب ووایه او د باطني زکات په باب یې وویل: «فلا تستأثر علی اخیک بما هو احوج الیه منک: څه چې ستا دیني رور تر تا ورته خورا اړمن دی، غوره یې کړې[1]».

امام په بل روایت کې ویلي: «انّما اعطاکم اللّه هذه الفضول من الأموال لتوجّهوها حیث وجّهها اللّه تعالی و لم تُعطِّلوها لتکنِزوها: الله دا اضافي مالونه درکړي، چې د هغه د رضا په لار کې یې ولگوئ، نه داچې احتکار او زېرمه یې کړئ[2]».

*د روایاتو له مخې، چې امام زمان راښکاره شي، زېرمې حراموي او ټولې خپلو مبارزو ته لگوي.

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «اِنّ اللّه فرض علی اغنیاء المسلمین فی اموالهم القدرَ الّذی یَسَعُ فقرائهم..الا انّ اللّه یحاسبهم حساباً شدیداً و یعذّبهم عذابا الیم: الله د شتمنو مسلمانانو په مالونو کې هومره زکات فرض کړی چې د فقیرانو کفایت او بسیایینه ورپوره کړي، باخبر! که دوی خپله دنده عملي نه کړي؛ نو الله سخته حسابي ورسره کوي[3]».

*رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: د هر مال زکات چې ور نه کړای شي، (کنز او) زېرمه ده، که پټ هم نه وي یا بې له سرو سپینو وي[4].

*په روایاتو کې راغلي: الله تعالی د شتمنو په مالونو کې د اړمنو د ستونزاواري هومره حق ټاکلی او که پوهېده، چې دوی ته بسیا نه دي، ورزیاتاوه یې. که خلکو، د فقیرانو حقوق دوی ته ورکول، ټولو به ښه ژوند درلود او که مړو (غنیانو) زکات ورکاوه؛ نو فقیر به نه وای[5].

---

[1] (صافی تفسیر)
[2] (صافی تفسیر)
[3] (صافی تفسیر)
[4] (کنز الدقائق تفسیر)
[5] (وسائل: ٦ ټ، ۴ مخ)

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: فقیر هله صدقه اخلي، چې الله تعالی یې واخلي. بیا یې د التوبه سورت ۱۰۴ آیت ولوست[۱].

*امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو، د زکات اخستنه یوازې په پیغمبر پورې تړاو لري، یا تر حضرت صلی الله علیه و آله وسلم روسته هم غځېږي؟ و یې ویل: هو، دوام لري[۲].

## زېرمووونکي

*په یوه روایت کې ابوذر غفاري (رض) وایي: رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د کعبې ترڅنګ دوه ځل وویل: «هم الاخسرون و رب الکعبة» د کعبې پر الله قسم! دوی خورا زیانمن دي. و مې پوښتل: موروپلار مې درځار! منظور مو څوک دي؟ و یې ویل: زېرمووونکي[۳].

## شکمن

حضرت علي کرم الله وجهه وایي: څوک چې شکمن پاتې شي؛ نو شیطان یې لتاړي[٤].

## د اهلبیتو ځورول

پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «مَن آذانی فی عترتی فعلیه لعنه اللّه: څوک چې زما ځوځات (اهل بیت) وځوروي، د الله لعنت دې پرې وي» د حضرت فاطمې (س) په باب یې هم ویلي دي: «من آذاها فقد آذاني» چا چې فاطمه وځوروله، زه یې ځورولی یم[٥].

## د خلکو خوشحالولو ته خدای خپه کول

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «مَن التمسَ رضی اللّه بسخطِ الناسِ رضیَ اللّه عنه و ارضی عنه الناسَ و من التمس رضی الناس بسخطِ اللّهِ سخط اللّه علیه واسَخَط علیه الناسَ - څوک چې د خلکو د خپګان په بیه، د الله د رضا په لټه کې وي، الله ترې راضي کېږي او خلک هم ترې راضي کوي او څوک چې د الله په خپګان، د خلکو رضایت په لټه کې وي، الله ترې ناراضي کېږي او د خلکو زړونه هم اړوي او ناراضي کوي[٦]»

---

[۱] (برهان تفسیر)

[۲] (نور الثقلین تفسیر)

[۳] (کنز الدقائق تفسیر)

[٤] (نهج البلاغه: ۳۱ حکمت)

[٥] (ملحقات احقاق الحق: ۱۸ ټ، ۴۵۸، ۴۳۹ مخونه)

[٦] (نور الثقلین تفسیر)

## ژوره دیني پوهه

*په حدیث کې راغلي: « تفقّهوا فی الدّین فانّه مَن لم یتفقّه فی الدین فهو اعرابی » دینپوه شئ، ځکه څوک چې ژوره دیني پوهېدنه و نه لري، باندېوال (اعرابی) دی. په بل حدیث کې لولو: « نحن بنوهاشم و شیعتنا العربُ و سایر الناسِ اعرابٌ » عرب زموږ یاران او لارویان دي او نور اعراب (باندېوال) دي[1].

## د بدن بیه

امام صادق رحمة الله علیه وایي: ستاسې بدنونو ته، بې له جنته بله بیه نشته؛ نو ځانونه تر جنته په ټیټه بیه مه پلورئ[2].

### فقه

* فقه دومره مهمه ده، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم یمن ته د علي کرم الله وجهه په بدرګه کې، امر ورته وکړ، چې خلکو ته فقه ورزده کړه ((فقهم فی الدین[3])) او دعا یې ورته وکړه: ((اللهم فقهم فی الدین[4]))؛ سره له دې چې حضرت علي کرم الله وجهه، په خلکو کې تر ټولو فقیه و.

لکه چې علي کرم الله وجهه خپل زوی ته سپارښتنه کوي: «تفقه فی الدین فان الفقهاء ورثة الانبیاء[5]» امام حسین رضی الله عنه هم الله تعالی د عاشورا پر شپه په ځینو جملو کې، الله تعالی دغسې وستایه: د هغه الله ستاینه چې په دین کې یې فقیه کړو[6].

*امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: که امام ته کومه پېښه وشوه، د خلکو مکلفیت څه دی؟ امام د التوبه سورت، ۱۲۲ ولوست، چې له هر ښاره او ټبره دې د امام پېژندو لپاره حرکت وکړي[7].

---

[1] (نور الثقلین تفسیر)

[2] (مجمع البیان تفسیر)

[3]. مستدرک الوسائل، ۳۶۳۶۹ ګڼه حدیث.

[4]. بحار، ٦٦ ټوک، ۹۲ مخ.

[5] (بحار: ۱ ټ، ۲۱٦ مخ)

[6] (موسوعة کلمات الامام)

[7] (نور الثقلین تفسیر

له امام باقر رحمة الله علیه او امام جعفر صادق رحمة علیها نه روایت شوی، چې د «وَ الشُّعَراءُ یَتَّبِعُهُمُ الْغاوُونَ» آیت په باب یې وویل: هغوی چې فقه د «غیر دین» لپاره زده کړې وي یا یې ژوره زده کړې نه وي، هم بې لارې دي او هم نور بې لارې کوي او قصه ویوونکي هم په دې ټپسورۍ کې ورنغاړلېږي[1].

## په قیامت کې د کړنو انځور

*په حدیث کې راغلي: انسان چې په قیامت کې له خپل قبره راپاڅي؛ نو د ده صالح عمل د نوزېږي په بڼه ورانځورېږي او جنت ته یې ورسېخوي[2].

## د دین نعمت

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: ایمانوال دې پوه شي، د دین نعمت د کافرانو تر ټولو اموالو غوره دی او باید پرې ښاد وي[3].

## د مؤمن روح

*او په یوه روایت کې امام باقر رحمة الله علیه ابوحمزه ثمالي ته وویل: د مرګ په شېبه کې محمد صلی الله علیه و آله وسلم او علي کرم الله وجهه مؤمن ته ورحاضرېږي او وایي: خوا ته مو راشه، چې ګانده دې له تېره غوره ده او روح دې د الله له روح سره یو ځای کېږي[4].

## حضرت یونس علیه السلام

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: یونس علیه السلام له دېرش کلنۍ تر ۶۳ کلنۍ تبلیغ وکړ، یوازې دوو تنو ایمان پرې راووړ. آنحضرت، خلکو ته ښېرا وکړه او ترې ولاړ. یو له دې دوو تنو مؤمنانو چې پوه حکیم و، د پېغمبر د ښېرا او له سیمې یې د وتو په لیدو، یوې لوړې ته ورغی او په چغو یې خلکو ته ګواښنه وکړه. خلک اغېزمن شول او د ده په لارښوونه، له ښاره ووتل او خپل اولادونه یې پرېښودل او د الله تعالی درشل ته یې زارۍ او توبې وکړې، چې

---

[1] (نورالثقلین تفسیر)
[2] (نمونه تفسیر)
[3] (صافی تفسیر)
[4] (نورالثقلین تفسیر)

وبښل شول. یونس علیه السلام چې راستون شو، و یې لیدل چې قوم خو هلاک شوی نه دی، سبب یې وپوښت؛ پېښه یې ورته شرح کړه[1].

## هود سورت

پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د هود سورت بوډا کړم[2]. ځکه په سورت کې د ځوار - استقامت او زغم آیت نازل شوی: «فَاسْتَقِمْ کَما أُمِرْتَ وَ مَنْ تابَ مَعَکَ[3]» لکه څنگه چې امر درته شوی، زغم خپل کړه او باید درسره ملگري دې هم زغم خپل کړي؛ خو پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم د یارانو بې صبری ځوراوه.

## د حضرت نوح علیه السلام بېړۍ

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: نوح علیه السلام په اتیا کالو کې خپله بېړۍ جوړه کړه[4].او د بېړۍ جوړولو ځای، د کوفې جومات[5]، د بېړۍ اوږدوالی ۴۰۰ متره او پلنوالی یې شاوخوا ۴۰ متره و[6].

په روایاتو کې راغلي، بېړۍ د رجب میاشتې پر لومړۍ[7] او د کوفې له جوماته حرکت پیل کړ[8].

*په روایاتو کې راغلي چې د نوح بېړۍ شپږ میاشتې پر اوبو وه او د مکې او حجاز له سیمې تېره شوه، چې په پای کې د الله تعالی په حکم اوبه کېناستې. (په تهذیب الاحکام کې دیوه حدیث له مخې، اوبه په هغه ځای کې کېناستې، چې نن د کوفې جومات دی) امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د نوح بېړۍ د نوروز پر ورځ پر غره کېناسته[9].

د ځینو روایاتو له مخې، نوح علیه السلام پر څارویو سربېره، ونې هم له ځان سره بېړۍ ته وړې وې[10]، چې دا مطلب ددې په پامنیوي دی، چې زوجیت (جوړه) او نر و ښځینه توب یوازې

---

[1] (تفاسیر: مجمع البیان او صافی)
[2] (نمونه تفسیر؛ بحار: ۹۲ ج، ۱۹۸ مخ)
[3] (هود، ۱۱۲)
[4] (برهان تفسیر)
[5] (نورالثقلین تفسیر)
[6] (نورالثقلین تفسیر)
[7] (نورالثقلین)
[8] (کافي: ۳ ټ، ۴۹۲ مخ)
[9] (بحار: ۱۱ ټ، ۳۴۲ مخ)
[10] (روح المعاني تفسیر)

په څارویو پورې اړوند نه دی، له آیت«مِنْ کُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ» سره اړخ لگوي؛ يعنې له هر موجوده يوه جوړه؛
*البته په يوه روايت کې لولو چې له «مِنْ کُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ» څخه مراد دا دی چې په بېړۍ کې له هر نر و ښځينه دوه جوړې (يعنې اهلي نر و ښځينه او وحشي نر و ښځينه) سپرې کړه[1].
*د روح المعاني تفسير په وينا، نوح عليه السلام څلور زامن درلودل: کنعان چې هلاک شو، سام د عربو پلار، حام د سودان پلار او يافِث د ترکانو پلار وو.
*په يوه روايت کې راغلي، چې نوح عليه السلام يوه مؤمنه لور درلوده، چې له پلار سره په بېړۍ کې سوره شوه[2].
*په حديث کې راغلي چې کله الله تعالی وغوښتل، د نوح قوم د عذاب اراده وکړي؛ نو تر څلوېښت کلونو يې ښځې شنډې کړې چې اولاد ونه زيږوي[3].
*د حضرت پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ستر صحابي؛ حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه د کعبې د وره کړۍ په لاس کې نيولې وه، په لوړ غږ يې ويل: په دواړو غوږونو مې واورېدل، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم وويل: «مَثل اهل بيتی کمثل سفينه نوح، مَن رَکبها نَجی و مَن تَخلّف عنها هلک»اهل بيت مې د نوح د بېړۍ په څېر دي، چې څوک پکې ورسپور شو، وژغورل شو او چاچې ډډه ترې وکړه هلاک شو.
* البته دا حديث د صدر اسلام نورو مشرانو؛ لکه حضراتو ابوسعيد خدري، ابن عباس، عبدالله بن زبير او انس بن مالک (رضی الله عنهم) هم روايت کړی او د اهلسنتو په مشهورو کتابونو کې راغلی دی. [طبري په معجم کبير، حاکم نيشابوري په مستدرک، ابن کثير په خپل تفسير، سيوطي په تاريخ الخلفاء، ابن قتيبه په عيون الاخبار، طبري په ذخائر العقبی، خطيب بغدادي په بغداد تاريخ، ابونعيم په حلية الاوليا، ابن ابی الحديد د نهج البلاغې په شرح، آلوسي په روح المعاني او نورو کتابونو کې چې اوږده شرح يې په احقاق الحق (۹ټ، ۲۷۰ مخ روسته) کې راغلې ده]
که دا متواتر حديث د بل متواتر حديث په څنگ کې کېدو، چې پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم ويلي دي: مسلمانان ۷۳ ډلې (فرقې) کېږي او يوازې يوه ډله يې ژغورندوی دي، «فرقة

[1] (نورالثقلين تفسير)
[2] (نورالثقلين تفسير)
[3] (بحار: ۱۱ ټ، ۳۱۲ مخ)

ناجیة»؛ نو په ډاگه ده چې خپله پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم خپل اهلبیت د ناجیه (ژغورندوی) ډلې مصداق معرفي کړي او ویلي یې دي: «من رکبها نجی» چې د «نجی» کلمه د «ناجیه» تفسیروونکې (مفسره) ده.
*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د حضرت نوح په توپان کې، بې د کعبې له خونې، گرده نړۍ اوبو نیولې وه[1].

## د مسلمانانو چوپړ

پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په بل حدیث کې ویلي دي: « مَن اصبح و لم یهتمّ بامور المسلمین فلیس بِمسلم » څوک چې هر گهیځ مسلمینو ته د چوپړ په فکر کې نه وي، مسلمان نه دی.

## د سلام ځواب

*یوه ورځ امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه پر یوې ډلې سلام وکړ، دوی په ځواب کې وویل: «علیک السلام و رحمة الله و برکاته علیکم اهل البیت و مغفرته و رضوانه»، علي کرم الله وجهه ورته وویل: د سلام په ځوابونه کې له هغه څه مه ورزیاتوئ، چې پرښتو ابراهیم علیه السلام ته وویل؛ نو ځکه د «ورحمة و برکاته» غونډله - جمله بسیا ده[2].

## نېکۍ بدۍ له منځه وړي

*یو تن له خپلو ناوړو کړنو خپه و؛ نو له لمانځه روسته یې په جومات کې له پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم وغوښتل چې سزا ورکړي، آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ورته وویل: داچې تر ناوړه چار روسته دې په جماعت لمانځه کې گډون کړی؛ نو الله بښلی یې[3].
*امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: یوه تن د طاغوت له لارې څه عایدات تر لاسه کړي او «إِنَّ الْحَسَناتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّئاتِ» آیت ته په هیلمندۍ له فقیرانو سره مرسته کوي او حج ته ځي؟ امام ورته وویل: «انّ الخطیئه لا تکفر الخطیئه»گناه په گناه پوښلای نشو[4]. څه یې چې ترلاسه کړي، د خلکو مال دی او د خلکو په مال کې په هره بڼه تصرف حرام دی.

[1] (نورالثقلین تفسیر)

[2] (مجمع البیان تفسیر)
[3] (مجمع البیان تفسیر)
[4] (کنزالدقائق تفسیر)

# د قرآن خورا اسره منی آیت

حضرت علي کرم الله وجهه یوې ډلې ته ورغی او ترې یې وپوښتل: د قرآن خورا اسره منی - هیلمنونکی آیت کوم یو دی؟! هر یوه د خپلې پوهېدنې له مخې یو آیت وښود:
*ځینو وویل: «إِنَّ اللّهَ لا یَغْفِرُ أَنْ یُشْرَکَ بِهِ وَ یَغْفِرُ ما دُونَ ذلِکَ[1]»
*ځینو وویل: «وَ مَنْ یَعْمَلْ سُوءاً أَوْ یَظْلِمْ نَفْسَهُ ثُمَّ یَسْتَغْفِرِ اللّهَ یَجِدِ اللّهَ غَفُوراً رَحِیماً[2]» = او څوك چې بد (کار) یا پر خپل ځان تېری وکړي او بیا له الله ښښنه وغواړي؛ نو الله به لورین ښښونکی ومومي.
*ځینو وویل: «یا عِبادِیَ الَّذِینَ أَسْرَفُوا عَلی أَنْفُسِهِمْ لا تَقْنَطُوا مِنْ رَحْمَهِ اللّهِ إِنَّ اللّهَ یَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَمِیعاً[3]» = زما هغو بندگانو، چې تاسې د خپلو ځانونو په اړه له پولې اوښتي یاست! د الله له رحمته مه نهیلیږئ؛ (ځکه) چې الله [د توبې په شرط ] د ټولو (گناهونو) آثار ښبي، یوازې هغه لورین ښښونکی دی.
*ځینو وویل: «وَ الَّذِینَ إِذا فَعَلُوا فاحِشَهً أَوْ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ ذَکَرُوا اللّهَ فَاسْتَغْفَرُوا لِذُنُوبِهِمْ وَ مَنْ یَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ اللّهُ[4]» = او هغوی چې کله کوم سپک چار وکړي یا پر ځانونو تېری وکړي (؛ نو) خدای وریادېږي او د خپلو گناهونو ښښنه غواړي او بې له الله لا بل څوك دی، چې گناهونه وښبي؟
امام چې د ټولو نظریات واورېدل، و یې ویل: له خپل دوست رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم مې واورېدل چې و یې ویل: د قرآن خورا اسره منی آیت دا دی: «أَقِمِ الصَّلاهَ طَرَفَیِ النَّهارِ وَ زُلَفاً مِنَ اللَّیْلِ إِنَّ الْحَسَناتِ یُذْهِبْنَ السَّیِّئاتِ»
پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم زیاته کړه: یا علي! پر هغه الله قسم چې الله خلکو ته زیرگندی گواښنگندی رالېږلی یم، چې کله انسان لمانځه ته اودس وکړي، گناهونه یې رژېږي او چې مخ پر قبلې شي، پاکېږي. یا علي! د ورځېنې لمونځونو د کوونکیو بېلگه، د هغه په څېر ده، چې د خپل کور د مخ په روانې ویالې کې د ورځې پینځه وارې ځان وینځي[5].

[1] نساء- ۴۸
[2] نساء- ۱۱۰
[3] زمر- ۵۳
[4] آل عمران- ۱۳۵
[5] (تفاسیر: مجمع البیان او کنزالدقائق)

## په انصاف چلن

*پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: ابن مسعوده! له خلکو سره په انصاف چلېږه، خیرغواړی یې وسه او پرې ولورېږه. که دغسې وسې او الله د کوم ښار پر خلکو غوسه شي، چې ته پکې وسې؛ نو درته گوري او ستا په پار، پر خلکو لورېږي[1].

## د انسان د پنځون فلسفه

*امام صادق رحمة الله علیه ویلی: الله تعالی انسان پیدا کړ، چې چارې وکړي او د لورونې وړ شي[2].

امام حسین (رض) وویل: «ان الله ما خلق العباد الا لیعرفوه فاذا عرفوه عبدوه فاذا عبدوه استغنوا بعبادته عن عباده من سواه» الله خپل بندگان ځکه پیدا کړي، چې و یې پېژني او چې هغه یې وپېژانده، عبادت یې وکړي او چې د الله عبادت یې وکړ؛ نو د هغه په عبادت او لمانځنه د نورو له عبادت او نمانځنې مړه خوا شي[3].

## له اولاد سره مینه

امام باقر رحمة الله علیه ویلي: زه که له خپلو ځینو اولادونو سره مینه کوم، پر زنگانه یې کېنوم؛ خو د دومره مینې بخره وړ - مستحق نه دي، هسې نه له نور اولاد سره مې کینه وکړي او د حضرت یوسف کانه پرې و نشي[4].

## د حضرت محمد او حضرت یوسف ورتوالی

* د مکې د سوبې پر ورځ، مشرکانو کعبې ته پناه یووړه؛ نو حضرت عمر (رض) وویل: موږ به نن غچ اخلو. پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: نن د ښښې ورځ ده او مشرکان یې وپوښتل: نن زما په اړه ستاسې څه خیال دی؟ و یې ویل: خیر دی، ته مو لوراند رور یې. پیغمبر اکرم وویل: نن زما خبره هماغه د یوسف خبره وه (لاَ تَثْرَیبَ عَلَیْکُمُ الْیَوْمَ)؛ نو حضرت عمر (رض) وویل: زه له خپلې خبرې خپجله یم[5].

---

[1] (بحار: ۷۴ ټ، ۱۰۹ مخ)

[2] (نور الثقلین تفسیر او صدوق، توحید: ۴۰۳ مخ)

[3] بحار، ج۵، ص۳۱۲.

[4] وگ: تفسیرنمونه، چې د بحار له ٧٤ ټوک، ٧٨مخ نه یې راخستی دی.

[5] تفسیر قرطبي

*د حضرت علي كرم الله وجهه وينا ده: چې كله پر دښمن لاسبرى شوې؛نو ښښنه د بري شكرانه ده[1].

په حديث كې راغلي: د ځوان زړه نرى وي او د همدې آيت تر لوستو روسته يې وويل: داچې حضرت يوسف تر خپلو رونړو ځوان و؛ نو سملاسي يې خپل رونړه وبښل[2].

## بنيادم له يوې ختې دي

امام محمد باقر رحمة الله عليه وپوښتل شو: كله بې دليله خپگان راباندې راشي، چې شاوخوا خلک هم راباندې پوهېږي. امام وويل: مسلمانان په پنځونه كې له يوې ختې دي، همدا چې يوه ته كومه پېښه ورپېښه شي؛ نو پر هغه بل هم خپگان راځي[3].

## گواښگرندى او لارښود

•له ابن عباس رضى الله عنه روايت شوى، چې پېغمبر اكرم صلى الله عليه و آله وسلم خپل مبارک لاس پر سينې كېښود، و يې ويل: «انا المنذر» بيا يې علي بن ابيطالب ته اشاره وكړه، و يې ويل: «انت الهادى، بک يهتدى المهتدين بعدى[4]»

## غيب او شهادت

•امام صادق رحمة الله عليه د «عالِمُ الْغَيْبِ وَ الشَّهادَهِ» په باب ويلي: «الغيب ما لم يكن و الشهاده ما قد كان» غيب؛ يعنې هغه څيز چې نه و او شهادت يعنې هغه څيز چې و[5].

## نعمت اړوونكي

•امام سجاد وويل: هغه گناهونه چې نعمتونه اړوي، دا دي: پر خلكو ظلم او تېرى، د الله تعالى ناشكري او د خيريه چارو پرېښودنه، چې انسان پرې روږدى و[6].

[1] (نهج البلاغه/۱۱حكمت).
[2] (بحار۱۲/۲۸۰)
[3] (نمونه تفسير)
[4] (تفسير كبير فخر رازي: ۱۹ټ، ۱۴مخ، طبري، ابن كثير او احقاق الحق (۳ټ، ۸۷مخ) هم ترى اخستى دى.
[5] (برهان تفسير)
[6] (نورالثقلين تفسير)

## صله رحم

•په روایاتو کې راغلي: څه چې الله تعالی یې د تړون او نښلون حکم کړی، صله رَحم (د زړه سوي تړون) دی؛ یعني د کورنیزو اړیکو او همدارازد ښوونځیزو اړیکو ساتنه ده؛ یعني آسماني مشرانو سره ژورې همېشنۍ اړیکې درلودل دي[1].

•امام صادق رحمة الله علیه له نړۍ د رحلت په درشل کې، امر وکړ چې هغو خپلوانو ته چې دده په باب یې جسارت او سپین سترګي کړې وه، ډالۍ ورکړي. چې کله پر امام ددې کار له وجهې نیوکه کېږي؛ نو د رعد سورت، ۲۱ آیت لولي[2]. او په دې توګه رایادوي چې د صله رحم شرط له مور سره د دوی خوشویني، مینه، علاقه او اړیکه نه ده.

## جنت

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې غواړي، ژوند و مرګ یې زما د ژوند و مرګ په څېر وي او «جَنّاتُ عَدْنٍ» ته چې زما جنت دی، ورننوځي؛ نو باید علي بن ابیطالب او څوځات یې، خپل مشر او امام کړي، چې دوی په علم او پوهېدنه کې، برترین انسانان او د ښیون پر لور د خلکو لارښودان دي[3].

*پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: جنت سل درجې لري، چې غوره یې ((فردوس)) دی، هر مهال چې دعا کوئ؛ نو له الله تعالی فردوس غواړئ. ٤

[حضرت علي کرم الله وجهه وایي: «اذا اشتغل اهل الجنه بالجنه اشتغل اهل اللّه باللّه» چې کله جنتیان د جنت له نعمتونو ګټه اخلي؛ نو اهل الله، د الله پر ذکر بوخت دي (او خواله ورسره کوي)]

په حدیث کې لولو: چې جنتیان په جنت کې مېشت شي، ورته ویل کېږي، ایا بله اړتیا لرئ؟ وایي: «ربنا رضاک» پالونکیه! ستا رضا مو موخه ده[5].

---

[1] (صافي تفسیر)

[2] (نورالثقلین تفسیر)

[3] (نورالثقلین تفسیر)

[4]. مجمع البیان تفسیر.

[5] (اطیب البیان تفسیر)

*حضرت علي كرم الله وجهه د نهج البلاغې په (۱۸۳) خطبه کې وايي: الله تعالی، جنتيان دومره عزتمن کړي، چې ان غوږونه يې د دوزخ د اور غږ او د دوزخيانو چغې نه اوري[1].
*په يوه حديث کې له رسول اكرم صلی الله عليه و آله وسلم څخه راغلي: د جنتي نعمتونو څرنگوالی، نه کوم غوږ اورېدلی او نه کومې سترگې ليدلی دی[2].
پاک نبي صلی الله عليه و آله وسلم وويل: ((له يوې ډلې سره په قيامت کې حساب کتاب نه کيږي او بې له سوال و ځوابه جنت ته ځي، بيا پيغمبر اكرم صلی الله عليه و آله وسلم ((د إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ)) آيت ووايه۳.

## منافق

په احاديثو کې لولو: منافق درې نښه لري: په امانت کې خيانت، په خبرو کې دروغ او ژمنماتي[4].

## د طوبی ونه

چې کله څېنيو پر پيغمبر صلی الله عليه و آله وسلم نيوکه وکړه، چې ولې فاطمه زهرا(س) دومره ډېره ښکلوې؟ آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم وويل: چې کله يې د معراج پر شپه جنت ته بوتلم، د طوبې ونې مېوه مې وخوړه او د فاطمې شتون ترې راولاړ (رامنځته) شو اوس مې چې کله، د جنت بوی ته شوق وشي؛ نو لور مې فاطمه بويوم[5].

## د حضرت محمد ځوځات

امام صادق رحمة الله عليه ويلي[6]: موږ د حضرت محمد صلی الله عليه و آله وسلم اولاد يو، مور مو فاطمه (س) ده او الله تعالی چې ټولو پيغمبرانو ته څه ورکړي، موږ ته يې هم راکړي. وريسې يې دا آيت ولوست: «وَ لَقَدْ أَرْسَلْنا رُسُلاً... »
•په رواياتو کې لولو: امام باقر رحمة الله عليه وويل: موږ د رسول الله اهل بيت، د ابرهيم د ځوځات پاتې شوني يو، چې د خلكو زړونه رامات دي، بيا يې دا آيت ولوست: « رَبَّنا إِنِّي أَسْكَنْتُ... فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِنَ النّاسِ»

---

[1] (نمونه تفسير)
[2] (الفقيه: ۱ ټ، ۲۹۵ مخ)
[3] تفسير نورالثقلين
[4] (نور الثقلين تفسير)
[5] (بحار: ۸ټ، ۱۸۸مخ)
[6] (بحار: ۲۴ټ، ۲۶۵)

په روایاتو کې راغلي: ((جعلهم الله ارکان الارض ان تمید باهلها[1]= الله د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم اهل بیت، د ځمکې ارکان وګرځول، چې ځمکوال له اندېښمنۍ وژغوري.))
*امام صادق رحمة الله علیه د «أَتَتْکَ آیاتُنا» په باب ویلي: پاکلمني امامان، د الله تعالی آیتونه دي او څوک چې ورشا کړي، د قیامت پر ورځ به په اور کې ورخوشې شي[2].
*په ځینو روایاتو کې لولو: د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم اهل بیت به د ځمکې پاتوړي شي او بد وګړي به دویم ځل ژوندي شي[3].

## ایام الله

په روایاتو کې، د حضرت مهدي د راښکاره کېدو ورځ، د رجعت ورځ او د قیامت ورځ، د «ایام الله» مصادیق ښودل شوي دي[4].

## شکر / مننه

امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د نعمت شکر، له ګناه لرېوالی دی او هم یې ویلي: شکر هغه دی چې انسان، نعمت له الله تعالی وبولي (نه له خپلې ځیرکۍ، پوهې، عقل، هڅو یا نورو) او د الله تعالی په ورکړه راضي وي او الهي نعمتونه، د ګناه وزله نه کړي، رښتونی شکر هغه دی، چې انسان د الله تعالی نعمت، د الله تعالی په لار کې کېدي[5].
په حدیث کې لولو: الله تعالی، حضرت موسی علیه السلام ته وحې وکړه: د شکر حق مې پر ځای کړه. موسی علیه السلام وویل: دا کار ناشونی دی؛ ځکه د هرې کلمې شکر ته بل شکر هم لازم دی. وحې راغله: ستا همدا منښته او اعتراف او داچې پوهېږې، څه چې دي، له ما ځنې دي. زما غوره شکر دی[6].
د روایاتو په وینا: څوک چې له خلکو مننداوینه و نه کړي، له الله تعالی یې هم شکر نه دی کړی. «من لم یشکر المنعم من المخلوقین لم یشکر الله[7]»

---

[1] (نور الثقلین تفسیر)
[2] (کافي: ۱ ټ، ۴۳٦ مخ)
[3] (قمی: ۲ ټ، ۲۹۷ مخ)
[4] (نورالثقلین تفسیر)
[5] (نمونه تفسیر)
[6] (نمونه تفسیر)
[7] (بحار: ۷۱ت، ۴۴مخ)

•که د الله تعالی نعمتونه په ناحقه لار کې ولګوو، د نعمت کفران او د کفر لاره چاره ده. «لَئِنْ کَفَرْتُمْ»، «بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللّهِ کُفْراً[1]» هغوی چې د الله نعمت پر کفر واړو.

## توکل

امام رضا رحمة الله علیه ویلي: د توکل پوله داده، چې پر الله تعالی باندې په ایمان، له هیچا و نه ډار شې[2].

## نعمت

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وایي: ((من لم یعلم ان للّٰه علیه نعمه الاّ فی مطعم او ملبس فقد قصر عمله و دنی عذابه = څوک چې د الله نعمت یوازې په خوراک څښاک کې بولي؛ نو هم یې په عمل کې لنډون کړی او هم د الله عذاب ته ورنژدې شوی دی[3]»
په ډېرو روایاتو کې لولو: د اهل بیتو امامانو ویلي: «نحن و الله نعمه الله التی انعم بها علی عباده» پر الله سوګند، کوم نعمتونه چې واړول شول، زموږ شتون و، خلکو موږ خوشې کړو او په نورو مشرانو پسې ولاړل. [4] «بَدَّلُوا نِعْمَتَ اللّهِ»
*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: «نحن و الله نعمت الله التی انعم بها علی عباده و بنا یفوز من فاز » پر الله قسم، هغه نعمت چې الله بندګانو ته ورکړی، موږ یو او خلک یوازې په موږ بریمنېږي[5].

## د حضرت محمد لاروی

حضرت علي کرم الله وجهه ویلي: « ان ولی محمد من اطاع الله و ان بعدت لحمته و ان عدو محمد من عصی الله و ان قربت لحمته » «بېشکه د محمد دوست هغه دی، چې د الله اطاعت وکړي، که څه د کورنۍ او نسب له اړخ لرې وي او د محمد دښمن هغه دی چې د الله سرغړونه وکړي، که څه د پېغمبر خپلوان وي[6]. »

---

[1] (ابراهیم، ۲۸)
[2] (نور الثقلین تفسیر)
[3] (نور الثقلین تفسیر)
[4] (مجمع البیان)
[5] (بحار: ۸ ټ، ۲۴۵ مخ)
[6] (بحار: ٦۷ټ، ۲۵مخ)

## دوزخیان

پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: له شرابخورو سره ناسته پاسته مه کوئ؛ ځکه د دوزخ سپي دي. بیا یې دا آیت تلاوت کړ[1]. ((قالَ اخْسَؤُا فِيها. )) په یوه حدیث کې راغلي، چې دوزخیان د «اخْسَؤُا» تر اوریدو روسته بوټي غوښه شي او یوازې ساه اخستای شي.[2]
امام صادق وویل: دوزخیان په خپلو کړنو بدمرغه شوي دي[3].
*په طبري او مجمع البیان تفاسیرو کې د حجر سورت تر ۲ آیت لاندې یو حدیث راغلی، چې په قیامت کې کفار، دوزخي مسلمانانو ته وایي: تاسې هم زموږ په څېر دوزخیان شوئ او اسلام و نه ژغورلئ. حال دا چې گناهگار مسلمانان له څه مودې روسته، ژغورل کېږي؛ خو کفار تل په دوزخ او د جهنم په اور کې پاتېږي او وایي: کاش موږ هم مسلمانان وای.

## اوږدې هیلې

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: پر تاسې له دوو څیزونو ډارېږم؛ یو له هوسونو او ځاني غوښتنو لاروي، چې له حقه مو اړوي او بل اوږدې هیلې، چې له آخرته مو غافلوي.
*په کمیل دعا کې لولو: اوږدې هیلې، انسان خیر ښېگڼو ته له ور رسېدو بې برخوي. «و حبسنی عن نفعی بعد آمالی »

## اصحاب الایکه او مدین اصحاب

*له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نه په یوه روایت کې راغلي چې د «مدین اصحاب» او «اصحاب الایکه» دوه امتونه ول، چې شعیب علیه السلام د دواړو پیغمبر و او دواړو کفر خپل کړ او پر دوه ډوله عذاب اخته شول؛ یو په «يَوْمِ الظُّلَّةِ» عذاب او بل په «صیحة» عذاب[4].

---

[1] بحار، ج۷٦، ص۱٤۷
[2] - درّالمنثور تفسیر
[3] توحید صدوق، ص۳٥٦

[4] (فرقان تفسیر له درالمنثور: ۴ټ، ۱۰۳مخ اخستی دی)

## د خپگان لامل

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: څوک چې د نورو شتو ته سترگې ونیسي، غم یې ډېرېږي او خپگان یې نه رغېږي[1].

## غرونه

*حضرت علي کرم الله وجهه د غرونو په هکله وایي: الله، د ځمکې خوځېدا، په لویو لویو گټونو او ولاړو غرونو، ودروله[2]. د غرونو بېخونه یې په ځای ځای کې وردننه شوي او په سوریو کې یې ورپرېوتي دي.

## مساوات

*حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه له پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم روایتوي چې حضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د خپلو مریانو په اړه مساوات خپل کړئ، دوی ستاسې رونه دي، کومې جامې چې اغوندئ، دوی ته یې هم ورواغوندئ او کوم خواړه چې خورئ، پر دوی یې هم وخورئ. «انما هم اخوانکم فاکسوهم مما تکسون و اطعموهم مما تطعمون[3]»

## په الهي ارادې خوښي

*په روایاتو کې لولو: ځیني وگړي یوازې په غنا او مړښت او ځیني وگړي یوازې په فقر او تشلاسۍ سمېږي؛ نو ځکه د حکیم الله په ارادې خوښ وسئ. «وَ اللّٰهُ فَضَّلَ بَعْضَکُمْ عَلی بَعْضٍ فِی الرِّزْقِ»

## بېړه

پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د انسان ډېرې تباهۍ د بېړې له لامله ده[4].

[1] (صافی تفسیر)
[2] (نهج البلاغه، ۹۱ مه خطبه)
[3] (تفسیر: کنز الدقائق)
[4] -بحار۱۷/۳٤۰

## کړنلیک

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: د قیامت پر ورځ انسان خپل کړه په کړنلیک کې دومره ځرګند وینې، چې ته وا همدا اوس یې کړي دي[1].
*امام صادق رحمة الله علیه وویل: د قیامت پر ورځ چې کله انسان ته یې کړنلیک په لاس کې ورکړ شي؛ نو تر لیدو روسته یې چې ټولې شېبې، کلمې، حرکتونه او کړنې پکې ثبت ولیدې؛ نو ټول هغه څه ورياد شي، چې کړي یې دي؛ نو وايي: ((يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لاَ يُغَادِرُ صَغِيرَةً....))۲

روایتونو سپارښتنه کړې، چې انسان دې د قیامت تر راتګه مخکې خپل حساب پاک کړي[3]؛ نو په همدې دنیا دې خپل کړنلیک ولولو، چې خپل بد جبران او خپل نېک کړه زیات کړو، چې دا ډول حساب د انسان د ویښتیا لار اواری کوي او نښتون یې د غفلت نښه ده.
په حدیث کې راغلي: څوک چې په همدې دنیا کې له ځان سره حساب کتاب وکړي؛ نو په آخرت کې به یې حساب کتاب اسان وي؛ نو باید په همدې دنیا کې د خپل ژوند کړنلیک ولولو، چې د خپلو کړنو کمزوري ټکي جبران او ښې کړنې مو زیاتې کړو او له بدیو توبه وباسو[4].

## عقل

پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د جنت درجې د جنتیانو د عقل هومره دي[5].

## موروپلار

په حدیثونو کې راغلي: ان که و یې وهلې؛ نو ورته ((اوف))هم مه وایه. یوازې په مینه ورته ګوره، لاس پرې مه اوچتوه، پر لار ترې مخکې مه ځه. په نامه ورته غږ مه کوه، داسې څه ونه کړې، چې خلک یې وکنځي، مخکې ترې مه کېنه او تر غوښتو مخکې ورسره مرسته وکړه[6].

---

[1] -نورالثقلین تفسیر
[2]. المیزان تفسیر
[3] -بحار ۷۳/۷۰
[4] -کشف الاسرار تفسیر
[5] -نورالثقلین تفسیر
[6] - نورالثقلین تفسیر

*یو سړي خپله مور پر اوږو کېنولې وه او طواف یې ورکاوه، چې پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم یې ولید؛ ورته یې وویل: ایا د مور حق مې ادا کړی دی؟
پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم : ان ستا د زوکړې پر مهال د هغې د درد د یوې چغې حق دې هم نه دی ادا کړی[1].
*پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وپوښتل شو: تر مړینې روسته هم د والدینو لپاره احسان شته؟ پیغمبراکرم ورته وویل: لمونځ کول او ثواب یې ورښل، ورته ښنه غوښتل، ورسره پر کړیو ژمنه عمل، پور یې ورکول او د دوستانو یې درناوی، ورسره احسان دی[2].
*یو سړي له خپل پلاره پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته شکایت وکړ. پیغمبراکرم یې پلار راوغوښت او و یې پو ښت. سپین ږیري پلار یې وویل: هغه مهال، چې غښتلی او شتمن وم؛ نو له زوی سره مې مرسته کوله؛ خو نن چې هغه شتمن دی؛ نو مرسته راسره نه کوي. رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم پر ژړا شو، و یې ویل: داسې کانې او شګه به پیدا نه کړې، چې ددې خبر په اورېدو و نه ژاړي او بیا یې زوی ته وویل: ته او شتمني دې د پلار ده[3].
*په حدیث کې راغلي: که ان مورو‌پلار خپل اولاد وواهه؛ نو اولاد دې ووایي: الله تعالی دې تاسې وبښي، چې دا هماغه ((کریم قول)) دی[4].
په روایتونو کې راغلي: له والدینو سره احسان په هر حال کې پکار دی؛ که هغوی ښه وي که بد، که مړه وي که ژوندي.
ولیدل شو، چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خپل رضاعي رور په پرتله د خپلې رضاعي خور ډېر درناوی کاوه. ددې کار دلیل ترې وپوښتل شو؟ پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: ځکه دا خور د والدینو ډېر درناوی کوي. ۵
پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم: په اول وخت کې تر لمونځ کولو روسته د مورو‌پلار له درناوي بل غوره چار نشته. ٦

---

[1] -نمونه تفسیر
[2] - مجمع البیان تفسیر
[3] -فرقان تفسیر
[4] -کافي ۱۵۷/۲
[5] (کافی، ۲ټ، ۱٦۱ مخ)
[6] (میزان الحکمه)

## مبذر

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: څوک چې هر شی د الله تعالی د لارې پر ځای په بله لار ولګوي؛ نو مبذر دی[1].

امام وپوښتل شو: په حلال لګښت کې هم اسراف شته ؟

امام: هو! څکه شتمن که خپله شتنمي داسې خلکو ته وروبښي، چې په خپله ورته هېڅ هم پاتې نشي؛ نو په حلالو کې یې اسراف کړی دی[2].

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: په باطل لار کې بخشش او ورکړه اسراف دی، (که څه لږ وي) او په حق لار کې کنجوسي، اقتار دی. [۱۰۹]

*امام صادق رحمة الله علیه یو څه شګې له څمکې راپورته کړې او خپل لاس یې موټی کړ او و یې ویل: دا اقتار (سختګیري او کنجوسي)ده او بیا یې بل موټی راواخست او خپل موټی یې داسې پرانست، چې ټولې شګې پر څمکه تو یې شوې او بیا یې وویل: دا اسراف دی.

دریبم ځل یې بل موټی راډک کړ او خپل موټی یې لږ پرانست، چې لږې شګې ترې تو یې شوې او یو څه یې په لاس کې پاتې شوې، بیا امام وویل: دا قَوام، اعتدال او منځچاري ده.[۱۱۱]

## د شیطان ملګری

په روایتوتونو کې راغلي: هغه د شیطان ملګری دی، چې پروا نه لري، څه وایي او څه ورپسې ویل کېږي، هر چار ته لاس اچوي او ښکاره ګناه او غیبت کوي[3].

او همداراز حرام خوړل، زنا او د فاسد او بېلارې نسل منځ ته راوړل، له شیطان سره ملګرتوب دی[4].

---

[1] -بحار۳۰۲/۷۵

[2] - نورالثقلین تفسیر

[۱۰۹] - نمونه تفسیر

[۱۱۱] - کنزالدقائق تفسیر

[3] - نورالثقلین تفسیر

[4] -بحار۱۳٦/۱۰۱

## شیطان شړونکي

په یوه حدیث کې راغلي دي: اذان او لمونځ د شیطان شړلو وزلې دي[1].

## پاک رزق

امام باقر رحمة الله علیه وویل: پاک رزق هماغه ګټور علم دی[2].

## کهف اصحاب

*یهودو، په سمڅه کې د کهف اصحابو د وخت تېرولو په باب، حضرت علي وپوښت. آنحضرت وویل: ۳۰۹ کاله. ورته یې وویل: زموږ په کتاب کې ۳۰۰ کاله راغلي دي. آنحضرت وویل: ۹ کاله یې د لمریز او سپوږمیز کال د توپیر په پار دي. ۳

## نشتمن مؤمنان

*د تاریخ په ترڅ کې، شتمنو او مړو کافرو، تل د ایمان راوړو شرط، د بېوزلیو او نشتمنو پرېښوول ایښی دی؛ لکه څنګه چې له حضرت نوح نه یې هم داسې غوښتنه کړې وه او آنحضرت وویل: (وَمَآ أَنَاْ بِطَارِدِ الَّذِينَ آمَنُواْ٤) زه مؤمنان د هغوی د نشتمنۍ له کبله نه پرېږدم. د حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم په پېر کې یې هم له آنحضرته وغوښتل، حضرات سلمان، ابوذر، عمار او خباب او... نشتمن له ځانه وشړه، چې درباندې ایمان راوړو او درسره یوځای شو. دا آیت دا ډول اند او کړنه ردېي.

## له آفتونو او خپګانونو د نعمت ژغورل

رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د شتمنۍ او اولاد هر نعمت چې الله تعالی خپل بنده ته ورببښي، که ووایي: (مَا شَاء اللَّهُ لاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ)؛ نو الله به یې آفتونه او خپګانونه لرې کړي، چې خپلې هیلې ته ورسي. ۵

---

[1] -بحار۲۶۸/۶۳ او ۱۸۲/۵۳

[2] -د کنزالدقایق تفسیر

[3]. مجمع البیان تفسیر.

[4]. هود/۲۹ آیت.

[5]. درالمنثور تفسیر.

همداراز په روایتونو کې راغلي دي: د ((لا حول ولا قوة الا بالله)) غوندله د بلا د لرې کېدو او د نعمتونو د دوام لاملېږي او د جنت له زېرمو ځنې یوه زېرمه ده. ۱

## کورنی اړیکې

د روایتونو له مخې، د الله تعالی لورنه او پېرزو یوازې بې واسطه اولادونو ته ځانګړې نه؛ بلکې پر راروسته ځوځات هم اغېز لري او د پلار نیکونو نېکچاري، د دوی پر ځوځات هم د الله تعالی د لورنې لاملېږي. ۲

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: الله (ج) موسی علیه السلام ته وحې وکړه: زه اولاد ته د پلرونو د نېکچاریو او ښېګڼو په پار ثواب ورکوم. بیا یې وویل: که د خلکو له ناموس سره خیانت وکړئ، له ناموس سره مو خیانت کېږي. (کما تدین تدان۳)

*ځینو پر امام حسن، له حضرت معاویه بن ابي سفیان سره د سولې په باب نیوکه وکړه؛ نو آنحضرت وویل: مګر نه پوهېږئ، چې خضر علیه السلام د مصلحت په پار بېړۍ سورۍ کړه، یو ژېۍ یې وواژه او چارو یې د موسی علیه السلام غوسه راوپاروله؟ ای خلکو! که سوله مې نه وای منلې؛ نو د ځمکې پر مخ به مې ټول لارویان له منځه تللي وای. «لو لا ما اتیت لما ترک من شیعتنا علی وجه الارض احد الا قتل»٤

## ذوالقرنین

امام باقر رحمة الله علیه وویل: ((ذوالقرنین)) پېغمبر نه و؛ خو صالح انسان و، چې د الله تعالی خوښ و او خپل قوم ته یې د تقوا سپارښتنه کوله. خلکو د سر پر یوه اړخ وواهه او څه موده ورک شو، روسته خلکو ته ورستون شو او خپله بلنه یې تکرار کړه، خلکو د سر پر هغه بل اړخ هم وواهه. پردې مهال امام باقر رحمة الله علیه وویل: په تاسې کې هم دداسې ځانګړنو یو څښتن شته. ۵ نو ددې دوو ګوزارونو خوړولو په پار په ((ذوالقرنین)) مشهور شوی دی.

---

۱. کنزالدقایق تفسیر.

۲. نورالثقلین تفسیر.

۳. نورالثقلین تفسیر.

٤. نورالثقلین تفسیر.

۵. نورالثقلین تفسیر؛ کمال الدین صدوق.

*په یوه دعا کې چې حضرت علي کرم الله وجهه یو بلخي ځوان ته ورزده کړه (دعای مشلول) لولو: «یا من نصر ذی القرنین علی ملوک الجبابره» ای هغه خدایه چې ذوالقرنین دې پر ظالمو پاچایانو لاسبری کړ.
او په یوه روایت کې حضرت علي کرم الله وجهه ، ذوالقرنین هغه کس بللی، چې د پاچاهی او نبوت نښه یې درلوده او پر هر هغه څه پوهېده، چې حق له باطله بېل کړي او الله تعالی ښارونه او زړونه ورتسلیم کړي وو. ۱
*ذوالقرنین او حضرت سلیمان دوه مؤمنان وو، چې د ځمکې واکمنان وو او بخت النصر او نمرود دوه کافران وو، چې پر ځمکه واکمن شول. ۲
په یوه روایت کې له امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه رانقل شوي: ذوالقرنین یو قوم ومونډ، چې ده ته یې وویل: د یاجوج او ماجوج قوم ددې غره تر شا دي او د مېوو فصل چې راورسي؛ نو یرغل وکړي، لوټ یې کړي یا یې له منځه یوسي. آیا موږ کلنی لګښت درته وټاکو، چې یو بند راته جوړ کړې؟۳

## تقیه

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: تقیه، ستاسې او مخالفانو ترمنځ یو ډال دی، چې نه پرې څوک ورختای او نه یې سوری کولای شي. ٤

## صالح اولاد

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: له مؤمن بنده د الله میراث، صالح اولاد دی، چې تر مرګ روسته یې، د الله عبادت وکړي[5].

## په جنت او دوزخ کې هرڅوک خپل ځای لري

*په یوه حدیث کې لولو: هر انسان په جنت او دوزخ کې یو ځای لري؛ که جنتي وي، دوزخي ځای یې دوزخیانو ته په میراث کې پاتېږي او که دوزخي وي، جنتي ځای یې جنتیانو ته[6].

---

[1]. نورالثقلین تفسیر.
[2]. نورالثقلین تفسیر.
[3]. نورالثقلین تفسیر.
[4]. نورالثقلین تفسیر.
[5] (نورالثقلین تفسیر)
[6] (نور الثقلین: ۲ ټ، ۳۱ مخ)

## حاتم طی

*عّدی بن حاتم (رض) وایي: امیرالمؤمنین علي کرم الله وجهه په صفین کې له مقابل لوري سره په مخامخېدو کې په لوړ غږ وویل: پر الله قسم د مقابل لوري له لښکر سره به یې جګړه وکړم؛ خو ورپسې یې رو ویل: ان شاء الله. و مې ویل: علي! په جیګ غږ د جګړې خبره کوئ؛ خو انشاء الله رو وایئ؟ و یې ویل: جګړه ټګي ده او زه دروغجن نه یم، له دې کاره مې مطلب جګړې ته د خپلو یارانو هڅونه ده، چې خواره نشي. روسته یې خپل کار ته دا آیت راووړ، چې الله تعالی موسی علیه السلام ته وویل: « فَقُولا... لَعَلَّهُ یَتَذَکَّرُ » الله پوهېده چې فرعون پند نه اخلي؛ خو فرعون ته د ورتلو لپاره یې د موسی علیه السلام هڅونې ته دغسې خبره وکړه[1].

## «اولی اَلنُّهی»

*پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وپوښتل شو «اولی اَلنُّهی»څوک دي؟ آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وویل: ((هم اولوا الاخلاق الحسنه... و البرره بالامهات و الآباء، و المتاعاهدین للفقراء و الجیران و الیتامی، و یطعمون الطعام و یفشون السلام فی العالم، و یصلون و الناس نیام غافلون= هغوی چې ښه خوی لري...، له موروپلار سره نېکي کوي، بېوزلیو، اړمنو ګاونډیانو او پلارمړیو سره مرسته کوي، وږي مړوي، په نړۍ کې سولې او آرامۍ ته لمن وهي او هغوی چې په داسې حال کې لمونځ کوي، چې خلک ویده او ناخبره دي[2].))

## د سجدو خواله

*علي کرم الله وجهه د لمانځه د سجدو خواله د طه سورت، ۵۵ آیت ته په اشارو ګڼلې او ویلي یې دي: د لومړۍ سجدې مانا دا ده چې یا الله! زه له پیله له دې خاورې وم، چې له سجدې سر راپورته کوي، دې ته اشاره ده چې له خاورې دې پیدا کړی یم. دویمه سجده دا مفهوم رارسوي چې ته مې خاورې ته ورستنوې او ترې راجیګېدل؛ یعنې ته به مې بل ځل په قیامت کې له خاورې راژوندی کوې[3].

---

[1] (کافي: ۷ ټ، ۴۶۰ مخ)

[2] (نورالثقلین تفسیر)

[3] (بحار: ۸۵ ټ، ۱۳۲)

امام کاظم رحمة الله علیه ویلي: د سجدې حکم او د ابلیس سرغړونه، د اسلام پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ته یو ډول تسلي او ډاډمني ده؛ که ستا پر حکم عمل ونشو؛ نو مه اندېښمنېږه، چې ابلیس هم زما حکم ته غاړه کېنښوده[1].

## توبه

*په یوه حدیث کې له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم روایت شوی چې ویلي یې دي: یو پیغمبر هم د آدم علیه السلام په اندازه ژړلي نه دي[2]، چې له سرغړونې روسته توبه وکړي.

## قبر

*امام سجاد، د (مَنْ أَعْرَضَ... ضَنْکاً) آیت تر لوستو روسته وویل: پر الله قسم! په رښتینه کې قبر، د جنت د باغونو یو باغ یا د جهنم له کندو یوه کنده ده[3]. نوځکه د تنگ ژوند او معیشت لمن تر برزخه هم غځېږي.

## قیامت

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په خپل لمانځه کې دا دعا ویله: «اللهم لا تخزنی یوم القیامه» پالونکیه! په قیامت کې مې خوار او رسوا نه کړې[4].

*گڼو روایاتو، په قیامت کې له ړوندوالي مراد، د حق لارې او خیر نه لیدل بللي دي[5].

## عاشق

*امام صادق رحمة الله علیه د عاشق بڼه ښودلې ده: لېوال، څوبمن او مشتاق انسان تر هغه وخته چې خپل مینه وړي - محبوب ته رسېدلی نه وي، د خوړو، جامو، هستوگنځي په فکر کې نه دی او نه ارامي او قرار لري؛ لکه څنگه چې موسی علیه السلام د وحې موندنې په مینه، خوب او خوراک نه درلود، و یې ویل: الله! ځکه له خپل قومه ژر راغلم، چې را نه راضي او خوښ شې[6].

---

[1] (کافي: ۱ ټ، ۴۱۲ مخ)
[2] (تفسیر کبیر فخر رازي)
[3] (بحار: ۷ ټ، ۱۰۴ مخ)
[4] (فرقان تفسیر)
[5] (من لا یحضره الفقیه، ۲ ټ، ۴۴۷ مخ)
[6] (صافي تفسیر)

## هره ورځ زده کړه

په حدیث کې راغلي، چې رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: که ورځ راباندې تېره او په پوهه کې مې زیاتوالی ونشي؛ نو دا ورځ راته مبارکه نه ده[1].

## حضرت داود او حضرت سلیمان

یوه رمه د شپې د یوه چا تاکستان (انګوربڼ) ته ورننوځې او خرابوي یې. بڼوال داوود علیه السلام ته ګیله کوي او آنحضرت د خسارې د جبران لپاره حکم کوي، چې رمه دې بڼوال ته ورکول شي؛ خو زوی یې سلیمان علیه السلام ، پلار ته بله وتلار وړاندیزوي او هغه داچې رمه دې شاکي ته ورکړل شي، چې له منافعو یې ګټنه وکړي او بڼ د رمې خاوند ته وسپارل شي، چې یې ورغوي او د خسارت تر جبران روسته، هر یو خپل اصلي مال بېرته واخلي[2].

ښکاره ده چې دواړه پېغمبران د خسارې د جبران په لټه کې ول؛ خو پلار (داوود علیه السلام) د رمې په ورسپالو کې ګڼله؛ خو زوی (سلیمان علیه السلام) د رمې د ګټو له لارې.

*الله تعالی وایي: که څه دواړو ته مې علم و حکمت ورکړی و؛ خو په دې اړه د سلیمان علیه السلام قضاوت غوره و.

*په یوه حدیث کې راغلي، چې کله به داوود علیه السلام «زبور» اسماني کتاب لوسته؛ نو غر، ډبرې او مارغان د حضرت داوود علیه السلام له غږ سره همغږي کېدل[3].

* په یوه حدیث کې وایو: الله تعالی، حضرت داوود ته وویل: « ته ښه بنده یې که له بیت الماله یې مصرف نه کړې! هغه څلویښت ورځې وژړل تردې چې الله تعالی یې په لاس کې اوسپنه پسته کړه او د زرې پر جوړولو بوخت شو او هره ورځ یې یوه زرې په زر درهمو جوړوله او تر درې سوه شپېتو زرو یې جوړې کړې». [١٤]

---

[1] (نور الثقلین تفسیر)

[2] (الفقیه، ۳ ټ، ۵۷ مخ)

[3] (تفاسیر: صافي او نورالثقلین)

[١٤] – کافي ۵ټ، ۷۴ مخ، او نورالثقلین تفسیر، ۳ټ، ۴۴۶ مخ له راهنما تفسیر اخستل شوی

## ژوندی امام

*امام رضا رحمة الله علیه په نیشابور کې د زرگونو تنو مینوالو په غوښتنه، د سلسلة الذهب قدسي حدیث ووایه، چې توحید الهي کلا او سنگر دی، چې څوک پکې شو، له هرې خوا خوندي دی، بیا یې وویل: ددې توحید شرط، د ژوندي امام منل او لاروي ده. «کلمة لا اله الا الله حصنی فمن دخل حصنی امن من عذابی و انا من شروطها[1]»

## حج سورت

د اسلام گران پېغمبر صلی الله علیه و آله وسلم ویلي:

((څوک چې د حج سورت ولولي، الله یې د هغو کسانو په شمېر، چې په تېر او گانده کې یې حج و عمره کړې او کوي او د حج و عمرې ثواب ورکوي[2].))

## مجوس

یو تن حضرت علي کرم الله وجهه وپوښت: ولې له مجوسو جزیه (یو ډول مالیه) اخستل کېږي، حال داچې پېغمبر او کتاب یې نه درلود او جزیه اخستل خو یوازې په کتابیانو پورې تړاو لري؟ امام ورته وویل: مجوس هم اسماني کتاب لري او هم الهي پېغمبر[3].

## د مسجدالحرام چارسمبالي

*امام صادق رحمة الله علیه وویل: څوک چې په مسجدالحرام کې غیرالله ونمانځي او یا غیر اولیاء الله ددې سپېڅلي ځای چارسنبالي کړي؛ نو پر ظلم او الحاد اخته شوی دی[4].

## واده

* په روایتونو کې لولو: یوازې له عفیفو ښځوسره واده وکړئ او هغه چې په خپل مال کې امین نه گڼئ، کوروالی ورسره مه کوئ. [5]

امام صادق رحمة الله علیه وایي: د ژوند پراختیا په واده کې ده.

روایت دی: پر الله تعالی ایمان نه لري، هغه چې د بېوزلۍ له وېرې واده نه کوي.

---

[1] (بحار: ۳ ټ، ۷ مخ)

[2] (مجمع البیان تفسیر)

[3] (نور الثقلین تفسیر او صدوق، توحید، ۳۰۶ مخ)

[4] (نور الثقلین تفسیر او کافي: ۱ ټ، ۳۳۷ مخ)

[5]. نورالثقلین تفسیر؛ کافی، ج۵، ص۴۵۳

حدیث: د واده والا دوه رکعته، د نه واده والا تر اویا رکعتونو غوره دي[1].
نبوي حدیث: څوک چې غواړي د قیامت پر ورځ الله تعالی په داسې حال ملاقات کړي، چې پاک وي؛ نو واده دې وکړي[2].
امام صادق وايي: که څوک له یوې انجلۍ سره د ښکلا او شتمنۍ له لامله واده وکړي؛ نو یوازې هماغه به ورکړل شي؛ خو که څوک د الله تعالی لپاره واده وکړي؛ نو مال او جمال به هم ورکړل شي[3].
له امام رضا یو سړي مشوره وغوښته، چې له یوې داسې انجلۍ سره د واده هوډ لرم، چې ښکلې ده؛ خو ښه خوی نه لري. امام ورته وویل: واده ورسره مه کوه[4].
نبوي حدیث: خلکو! پر ډېران له راټوکېدلیو گلانو ځان وساتئ. خلکو وپوښت: مراد مو څه دی؟ و یې ویل: ښکلې ښځې، چې اخلاق نه لري[5].
روایتونه هغه سړي ته غل او زناکار وايي، چې د مهر نه ورکولو نیت ولري[6].
په روایتونو کې راغلي: واده د نیم دین د ساتلو لامل دی. د واده شوي انسان دوه رکعته لمونځ د ناواده شوي انسان له اویا رکعتونو سره برابر دی. د واده شوي انسان د خوب ثواب د ناواده شوي انسان تر روژې ډېر وي[7]. ډېری خلک واده د بېوزلۍ لامل بولي؛ خو د الله رسول وايي: واده رزق پراخوي او همداراز وايي: څوک چې د تنگ لاسۍ له وېرې واده نه کوي، له موږ څخه نه دی او پر خدا شکي شوی دی[8].
په نورو روایتونو کې راغلي: څوک چې د یو مسلمان رور واده ته لاس پورته کوي؛ نو الله تعالی به پرې د قیامت پر ورځ ځانگړې پېرزوینې وکړي[9].

---

[1] (نورالثقلین تفسیر)
[2] (النوادر راوندي، ۱۲ مخ)
[3] (کافي ۳۳۳/۵)
[4] کافي ۵٦۳/۵
[5] (کافي ۳۳۲/۵)
[6] (وسایل ۱۵ /۲۱)
[7] (میزان الحکمه)
[8] (میزان الحکمه)
[9] (کافي ۵/ ۳۳۱)

بیا روایتونه وایي: واده ته بیره وکړئ، د یوې انجلۍ، چې د واده وخت راورسید؛ د هغې پخې او رسېدلې مېوې مثال لري، چې که له ونې را ونشوکېږي؛ نو ورسته به شي ۱.
د مېرمنې ټاکنې ته په عمومي توګه د خلکو کچې دا وي: شتمني، ښکلا، حسب و نسب؛ خو په حدیث کې راغلي: ستا دې د مېرمنې د ټاکنې چورلیځ ګروهه، اندنه او لیدانه وي. ۲
په یوه حدیث کې راغلي: ډېرى داسې ښکلاوې دي، چې د هلاکت لاملېږي او هم شتمنۍ دي، چې د ګناه لامل دي۳.
د الله رسول وویل: که د لور پر مرکه مو درغلل، که د هغه دین او امانتوالي مو خوښه وي؛ نو منفي ځواب مه ورکوئ؛ ګنې پر ستره فتنه او فساد به اخته شئ. ٤
د لور د واده په اړه یو چا له امام حسن سره مشوره وکړه؛ نو ورته یې وویل: لور دې متقي ته ورکړه، چې که ستا لور یې خوښه وي؛ نو درناوی به یې کوي او که خوښه یې نه وي؛ نو د تقوا له لامله به پرې ظلم او تېرى نه کوي. ۵ روایتونه وایي: هغوی ته لور خور مه ورکوئ، چې الکلي مشروبات څښي، بد اخلاقه وي او سمه اندیزه لیکه ونه لري او په سمه کورنۍ کې نه وي لوی شوی٦.

## له شره ځان خوندي کول

* په یوه حدیث کې راغلي دي: رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت علي کرم الله وجهه ته وویل: هر مهال چې یو ځای ته ورننوتې؛ نو د مؤمنون سورت **۲۹** آیت[7] لوله، چې الله دې د هغه ځای له خیره برخمن کړي او شر یې درځنې لرې کړي[8].

---

[1] (میزان الحکمه)
[2] (کنزالمعال/ ٢٤٦٦٠٢).
[3] (میزان الحکمه)
[4] (بحار۱۰۳/۳۷۲)
[5] (مکارم لاالخلاق.۱/ ٤٤٦).
[6] (میزان الحکمه).
[7] وَ قُلْ رَبِّ أَنْزِلْنِی مُنْزَلاً مُبارَکاً وَ أَنْتَ خَیْرُ الْمُنْزِلِینَ
[8] - کنزالدقائق تفسیر

## حرامه مړی

* په حدیث کې راغلي دي: «ان الله لا یقبل عباده من فی جوفه لقمه من حرام» چاچې یوه مړی هم حرامه خوړلې وي، الله یې عبادت نه مني[1].
* په حدیث کې راغلي دي: (العبادة مع اکل الحرام کالبناء علی الرمل و قیل علی الماء) په حرامه مړی عبادت داسې دی؛ لکه پر شګو یا اوبو د ودانی جوړول[2].

## ځان وپېژنه

حضرت علي کرم الله وجهه وویل: «رحم الله امرء عرف قدره[3] = الله دې پر هغه ولورېږي، چې پر خپل ارزښت او اعتبار پوه شي» او پوه شي، چې له کومه راغلی، اوس چېرته دی او چېرته به ځي.

## دنیا

حضرت علي کرم الله وجهه وویل: «الدنیا خلقت لغیرها و لم تخلق لنفسها[4]» دنیا نورو ته پنځول شوې او د ځان لپاره نه ده پنځول شوې (دنیا د آخرت لپاره یوه وسیله ده)
حضرت علي وایي: « فی حلالها حساب و فی حرامها عقاب = د دنیا په حلالو کې حساب او په حرامو کې یې عذاب دی۵. »

## زنا

* رسول الله صلی الله علیه و آله وویل: د زناکار موروپلار ګناه د هغه اولاد پر غاړه نه وي چې د زنا له کبله زېږېدلی وي او بیا یې د (أَلاَّ تَزِرُ وازِرَةٌ...) آیت تلاوت کړ . [۸۲]
امام رضا رحمة الله علیه د یوې وینا٦ په ترڅ کې د زنا یو شمېر مفاسد ښوولي دي:

[1] مراغي تفسیر.
[2] بحار ج ۸۱ ص ۲۵۸
[3] غررالحکم
[4] نهج البلاغه، حکمت ٤٦٣
[5] (نهج البلاغه/۸۲)
[۸۲] – تفاسیر: راهنما و درّالمنثور.
[6] (بحار: ۷۹ ټوک، ٢٤ مخ)

۱_ د ماشوم په غورځولو قتل کول.
۲_د کورني او خپلويز نظام له منځه تلل.
۳_د ماشوم نه روزل کېدل.
٤_ د ميراث د کچو له منځه تلل.
حضرت علي د زنا نه کول د کورنيو د بنسټ د غښتليتا او د لواط نه کول، د نسل د پاينې لامل بولي۱.
پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وويل: زنا اخروي او دنيوي تاوانونه لري۲.
دنيوي تاوانونه: د انسان ښکلا او د څېرې رڼا له منځه وړي او ناڅاپه مرگ راوړي او روزي پرې کمېږي.
اخروي تاوانونه: د قيامت پر ورځ د حساب کتاب اوږدېدل او په دوزخ کې همېشنی الهي عذاب.
نبوي حديث دی: چې کله زنا ډېره شي؛ نو ناڅاپي مرگونه هم ډېرېږي۳.
څوک چې د نورور پر ناموس تېری وکړي، پر ناموس به يې تېری وشي. څنگه چې له نورو سره چلئ، دغسې به هم له تاسې سره وشي. [4]
زنا مه کوئ چې ښځې مو هم پر زنا ککړې نشي۵.
څلور څيزه دي، چې له کوره برکت وړي او ويجاړوي يې.
۱_خيانت. ۲_غلا. ۳_ شراب څښل. ٤_ زنا.
زنا تر ټولو ستره کبيره گناه ده٦.
امام صادق وايي: څلور گناوې څلور کړاوونه راوړي:
۱_ چې زنا ډېره شي؛ نو زلزلې به هم ډېرې شي.
۲_ چې زکات ور نه کړ شي؛ نو څاروي به مري.
۳_ چې قاضيان ظالمان شي؛ نو وچکالي به شي.

---

[1] (نهج البلاغه/۲۵۲ حکمت)
[2]: (بحار ۷۷ /۱۹)
[3]: (بحار ۷۳ /۳۷۲)
[4]. بحار ۲۷/۷٦
[5] (بحار ۷٦ /۲۷)
[6] (بحار۷٦ /۱۹)

٤_ژمنه ماتول، چې ډېره شي؛ نو مشرکان به پر مسلمانانو واکمن شي١.
*امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: ولې د قتل لپاره دوه شاهدان په کار دي؛ خو د زنا لپاره څلور؟امام وویل: د قتل په جوتېدو یو کس سزا وینې؛ خو د زنا په جوتېدو دوه کسانو ته سزا ورکول کېږي٢.
*روایت دی: هغوی چې پر پاکلمنو ښځو د زنا تور لګولی او دوی یې بې پته کړي؛نو توبه یې داده، چې د خلکو په مخ کې، خپل لګولی تور دروغ وبولي٣.

## د نورو خلکو کور یا خونې ته د ننوتو پرمهال کړنه

*د ((استیناس)) کلمه د ورننووتو لپاره اجازې غوښتو ته وایي، چې د روایتونو په رڼا کې یا د الله تعالی د نامې په یادولو، پښې دربولو، ټوخي کولو او یا په سلام کولو او په څېر یې وي٤.
*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وپوښتل شو: آیا د مور کور ته د ورننووتو لپاره اجازه پکار ده؟ و یې ویل: هو! ورته یې وویل: په کور کې بې له ما څوک ورسره نشته او بې له ما بل خادم نه لري. پېغمبر اکرم: آیا خوښ یې مور دې پر نامناسبه جامه کې وګورې؟ و یې ویل: نه! پېغمبر: نو اجازه غواړه.
*په یوه روایت کې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نارینه د هغو ښځو کورونو ته له ورننووتو منع کړې، چې اولیا یې په کور کې نه وي٥.
*روایتونه سپارښتنه کوي: د بل کور ته د ورننووتو پر مهال درې وارې اجازه وغواړئ، چې په کور کې وګړي ځان سمبال کړي او د لګېدلي اور مړه کولو او په اوبو کې د ډوب شوي راایستل اجازه نه غواړي٦.
*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم به د خلکو کور ته د ورننووتو د اجازې د غوښتو پر مهال د وره مخ ته نه درېده؛ بلکې ښي یا کیڼ لوري ته درېده، چې سترګې یې د کور په دننه خلکو و نه لګي٧.

---

١ (بحار٧٦ /٢١)
٢ (کنزالدقایق تفسیر)
٣ (کافي ٢٤١/٧)
٤ (نورالثقلین تفسیر)
٥ (نورالثقلین تفسیر)
٦ (د فخر رازي کبیر تفسیر)
٧ (کبیر او ظلال تفسیرونه)

## "کتل"

*حضرت علي كرم الله وجهه: لومړی کتنه پروا نه لري؛ خو د کتو دوام د فتنې لامل دی۱.

*روایت دی: په قیامت کې له دریو سترګو پرته ټولې ژاړي: هغه سترګې چې د الله تعالی له ویرې ژاړي، هغه سترګې چې له ګناه پټې شوې وي او هغه سترګې چې د الله تعالی لپاره ویښې وي۲.

*په صحیح بخاري کې راغلي: پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د خلکو په لار کې مه کېنئ. ځینو ورته وویل: که له کېناستو ناچاره یو؛ نو بیا؟ رسول الله: نو حق یې ادا کړئ. ورته وویل شول: حق یې څه دی؟ د الله تعالی استازي وویل: سترګې ښکته اچول، د خلکو نه ځورول، سلام اچول، پر نېکیو امر او له بدیو منع.

*حضرت عیسی علیه السلام وایي: نامحرم ته له کتو ځان وژغورئ، چې په زړه کې د شهوت تخم شیندي او همدا بس دی، چې انسان پر فتنې اخته کړي۳.

*حضرت علي كرم الله وجهه وایي: سترګې زړه راکاږي. سترګې د شیطان پټنځی دی. د سترګو ښکته کول، له شهوته د لرې کېدو غوره لار ده٤.

* بد لیده کاته، د شیطان له غشیو څنې یو دی. که چا د الله تعالی له وېرې سترګې ښکته کړی؛ نو الله به داسې خوږ ایمان ورکړي، چې په خپله به یې په خوږلني پوه شي٥.

*رسول اکرم وایي: که چا سترګې پر حرامو ډکې کړی؛ نو د قیامت پر ورځ به له اوره ډکې شي؛ خو چې توبه وباسي٦.

* امام صادق، د نامحرمو ښځو د مجاز کتو په باب ویلي: ((الوجه، والکفین والقدمین))؛ یعنې (بې شهوته) یې مخ، ورغیو او پښو ته کتل جایز دي[٧].

[١] (تفسیر کنزالدقایق)

[٢] (تفسیر کنزالدقایق)

[٣] (روح البیان تفسیر)

[٤] (غرر الحکم)

[٥] (بحار: ١٠٤ټوک، ٣٨مخ)

[٦] (بحار٧٦/ ٣٣٦)

[٧] (کنزالدقائق تفسیر)

## تسبیح

په روایتونو کې دي: امام صادق، چې کله د مرغۍ غږ واورېد؛ نو و یې ویل: دا مرغۍ د الله تعالی پر عبادت او تسبیح بوخته ده۱.

* امام صادق رحمة الله علیه له رسول الله صلی الله علیه و آله رانقلوي، چې آنحضرت وویل: چې کله یو بنده «سبحان الله» ووایي؛ نو څه چې تر عرش لاندې دي، ورسره یوځای تسبیح وایي او دې تسبیح ویوونکي ته لس ګرایه ثواب ورکول کېږي او چې کله «الحمد لله» ووایي، الله دنیوي نعمتونو وروړاندې کړي، تر هغه چې له الله سره ملاقات وکړي او بیا د آخرت نعمتونو وروړاندې کېږي۲

* په روایت کې لولو: یو سړی د امام صادق رحمة الله علیه کور ته ورغی او امام یې پر لمانځه ولید، چې شپېته ځل یې «سبحان الله» ووایه او په بل حدیث کې راغلي: امام صادق رحمة الله علیه په سجده کې پینځه سوه ځل «سبحان الله» وویل۳.

*په حدیث کې لولو: رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم به چې له کومې غونډې پاڅېده، د «سبحانک اللهم و بحمدک» ذکر به یې وایه او ویل یې چې دا کلمه د غونډې کفاره ده. (انه کفاره المجلس)

په بل حدیث کې راغلي دي: چې کله انسان «سبحان الله» وایي، ټولې پرښتې پرې درود وایي. «صلی علیه کل ملک٤»

* یو وګړي له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله نه معجزه وغوښته. آنحضرت له ځمکې یو څه شګې راپورته کړې، په لاس کې یې ونیوې او د آنحضرت په غوښتنه او الهي اجازه یې د شګو د تسبیح غږ واورېد۵.

[1] (د فخر رازي کبیر او روح البیان تفسیرونه)
[2] – المیزان تفسیر، ج۱۰، ص۳۰.
[3] - وافی، ج ۲، ص ۱۵۷.
[4] - بحار، ج ۹۳، ص ۱۷۷.
[5] - المیزان تفسیر، ج۱۳، ص۹٦

* رسول اکرم صلی الله علیه و آله وویل: ډېرې دي داسې سپرلی، چې پرې تر سپرو غوره دي؛ ځکه د الله ذکر کوي۱. او څاروی به پر مخ نه وهئ؛ ځکه د الله تسبیح وایي، « نهی رسول اللّٰه عن ان توسم البهائم فی وجوهها، و ان تضرب وجوهها لانها تسبح بحمد ربها۲»

## پر کورنۍ سلام

* اما باقر رحمة الله علیه ویلي: همدا چې څوک کور ته ننوځي او پر کور والا سلام واچوي او دوی یې ځواب ورکړي؛ نو دا پر ځان سلام اچول دي. ۳

## ملګری

* پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وپوښتل شو: غوره ملګری څوک دی؟ و یې ویل: هغه چې په لیدو یې الله دریاد شي، وینا یې ستاسې پوهه ډېره کړي او کړنې یې په تاسې کې د قیامت یاد راژوندی کړي. [٤٨]

*حضرت علي کرم الله وجهه وویل: هغه مهال چې دې ځواک له منځه ولاړ؛ نو واقعي ملګري به دې له دښمنانو وپېژندل شي. [٤٩]

*حضرت علي کرم الله وجهه وویل: غوره ملګری، غوره کورنۍ ده. [٥٠]

*په حدیث کې راغلي دي: ملګری په غوسه، درهم، دینار او مسافرت کې وازمېیه، که په دې ازمېینو کې بریالی شو؛ نو ښه ملګری دی. [٥١]

## انفاق

*امام رضا رحمة الله علیه د منځنې انفاق اندازه هماغومره ښوولی، چې په بقره سورت کې ده: «عَلَی الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَ عَلَی الْمُقْتِرِ قَدَرُهُ مَتاعاً بِالْمَعْرُوفِ»[١٠٧]؛ یعنې شتمن دې د خپلې وسې هومره او بېوزله دې د خپلې وسې او په عرف کې د منل شویو هومره انفاق وکړي. [١٠٨]

---

۱ - المیزان تفسیر

۲ نورالثقلین تفسیر

۳ نورالثقلین تفسیر

[٤٨] - قرطبي تفسیر

[٤٩] - غرر الحکم

[٥٠] - غررالحکم.

[٥١] - بحار، ج ٧٤، ص ١٨٠

[١٠٧] - بقره، ٢٣٦

[١٠٨] - کافی، ج ٤، ص٥٦

* امام صادق رحمة الله علیه یې وپوښت: څه چې انفاق شي الله تعالی یې تشه ډکوي، څومره چې انفاق کوم، ولې یې تشه نه ډکېږي؟! امام: « که مال حلال وي او حلال مصرف ته انفاق شي، هرومرو به جبران شي ». [٦٧]
* رسول الله صلی الله علیه و آله وايي: «هره شپه غږ کوونکی غږ کوي: «هب للمنفق خلفاً و هب للمسک تلفا» (خدايه!) انفاق کوونکي ته بدله ورکړې او د بخيل شتمني توی کړې».[٦٩] الله تعالی غوره رازق دی. «خَيْرُ الرّازِقِينَ» څکه :

## جاري صدقه

په رواياتو کې لولو: چې انسان ومري؛ نو د کړنو دوسيه يې تړل کيږي؛ خو هغه چې جاري صدقه يې پرېښې وي؛ لکه: وقف يا ګټور کتاب، يا صالح اولاد چې دعا ورته کوي[١].

## روغ زړه

په حديث کې لولو: سليم زړه، هغه زړه دی چې شرک پکې نه وي[٢].

## پر عربو د ناعربو غوراوی

امام صادق رحمة الله علیه ويلي: د ناعربو ارزښت او فضليت دا دی، چې دوی هغه قرآن ته چې په عربي و، ور مات شول؛ خو که قرآن په ناعربي و؛ نو څينو عربانو ايمان نه راوړه[٣].

## ذکر

*د رواياتو په وينا: «ذکرِ کثير»، د پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم د لور حضرتِ فاطمې (س) تسبيحات دي؛ يعنې: ۳۴ وارې (الله اکبر)، (۳۳) وارې «الحمد لِلِه) او (۳۳) وارې «سبحان الله»

---

[٦٧] - نورالثقلين تفسير او کافي ۲ټ، ۴۸٦ مخ

[٦٩] - مجمع البيان

[١] (وسائل: ٦ټ، ۲۹۳ مخ)

[٢] (نورالثقلين تفسير)

[٣] (تفسير: کنزالدقايق)

*په حدیث کې راغلي: د الله ذکر یوازې په خوله نه؛ بلکې د گناه پرېښودو پر مهال الله یادول او عبادت کول. «ذکَرُوا اللّهَ[1]»
* رسول اکرم صلی الله علیه و آله وایي: چې څوک ذاکره ژبه ولري، د دنیا و اخرت خیر ورکړ شوی دی.
امام صادق رحمة الله علیه وایي: هر څه حد و برید لري؛ خو بې د الله له ذکره.
* په حدیث کې راغلي: زړه او روح د اوسپنې په شان زنگ نیسي او د الله تعالی ذکر یې د ځلا او روښانه کولو وزله ده.
* په روایاتو کې راغلي: د الله تعالی ذکر یوازې په ژبه نه دی، رښتینی ذکر هغه دی چې د حلال او حرامو پر مهال الله تعالی رایاد او له گناه ډډه وکړو. [٤٥]

## شعر او شاعر

*په روایاتو کې، ښه شعر چې له حق پلوي وکړي، په توري تر جهاده برتر گڼل او ستایل شوی دی[2].
*رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: ځینې ویناوې لکه کوډې او ځینې اشعار حکمت دی[3].
*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ژمن شاعر «حَسّان» ته وویل: روح القدوس درسره دی[4].
*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم په یوه سفر کې «حَسّان»وباله، چې شعر ووایي: هغه شعر وایه او پېغمبر ورته غوږ و؛ آنحضرت امر وکړ، چې په جومات کې دې «حَسّان» ته ځانگړی ځای وي[5].
*امام صادق رحمة الله علیه خپلو یارانو ته ویل: خپل کوشنیان د «عَبدی» له شعر سره اشنا کړئ، چې هغه پوه او دیني شاعر دی[6].

---

[1] (کنزالدقأیق تفسیر)
[٤٥] - میزان الحکمه او سفینه البحار (ذکر).
[2] (کنزالدقأیق تفسیر)
[3] (المنیر تفسیر)
[4] (تفسیر کنزالدقأیق)
[5] (روح المعاني تفسیر)
[6] کنزالدقایق تفسیر)

*امام صادق رحمة الله علیه ویلي: څوک چې زموږ د حقانیت لپاره یو بیت شعر ووایي، الله په جنت کې یو کور ورکوي[1].
*امام صادق ویلي: روژتي ته او څوک چې د احرام پر حال یا د حرم په سیمې کې وي د شعر ویل مکروه دي او هم د جمعې پر شپه یا ورځ د شعر ویل کراهت لري[2].
*په روایاتو کې لولو: په جاهلیت پېر کې ډېر رښتونی شعر دا و:
الا کلّ شیء ما خلا اللّه باطل ــو کلّ نعیم لا محاله زائل[3]
((یعنې یوه شئ، بې له الله هر څیز باطل دی او هر نعمت به ژر یا روسته له منځه ولاړ شي))
*په روایت کې راغلي: همداچې د والشعراء یتبعم. آیت رانازل شو، یو ډله مسلمان شاعران اندېښمن شول او پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته ورغلل آنحضرت ورته وویل: «ان المؤمن مجاهد بسیفه و لسانه»؛ یعنې مؤمن په خپله توره او خوله جهاد کوي[4].

## مهالویش

امام رضا رحمة الله علیه وویل: مؤمن دې خپل وخت پر څلورو برخو وویشي: کار، عبادت؛ خوند، د دوستانو لیدو او د ژوند د چارو ترسره کولو ته. که داسې و نه کړي؛ نو انسان به پر یوه حریص عنصر واوړي، چې پر حرص ډېرې زیاتې نیوکې شوي دي.

## کار

*اسلام ته د کارځنګوالی ارزښت لري، نه څومره والی۵.
*په هر حال اسلام کار ته خورا ارزښت ورکړی؛ په یوه حدیث کې راغلي: د الله تعالی بېکاره او ډېر خوبولي نه خوښېږي٦.

---

[1] (بحار: ۷۹ټ، ۲۹۱ مخ)
[2] (وسائل: ۷ټ، ۱۲۱مخ)
[3] (مواهب العلیه تفسیر)
[4] (منهج الصادقین تفسیر)

[5] (هود/ ۷)
[6] (وسائل ۳۷/۱۲)

امام باقر رحمة الله علیه وویل: څوک چې د دنیا په چار کې ناغېږی وي؛ نو د آخرت په چار کې خو به ډېر ناغېږی وي. ۱
په حدیث کې لولو: یو نشتمن او بېکاره پېغمبراکرم ته ورغی او مرسته یې وغوښته. پېغمبر اکرم وویل: څوک په کور کې تبر لري؟ یوه وویل: زه یې لرم؛ هغه تبر راووړ او پېغمبر اکرم ورته له هغه لرګي لاسکی جوړ کړ، چې ورسره وو او ور یې کړ او ورته یې وویل: دا د کار وزله؛ خو کوښښ پر تا دی.

## وجه الله

امام رضا رحمة الله علیه ویلي دي: ((وجه الله)) د الله استازی او پر ځمکه د الله حجتونه دي، چې په دوی مو، الله، دین، پوهې او د هغه معرفت ته پام واړوي۲.

## لمونځ

حضرت علي کرم الله وجهه خپل والي ته وايي: خپل غوره وخت دې لمانځه ته بېل کړه او پوه شه، چې ټولې چارې دې د لمانځه تر سیوري لاندې قبلېږي. ۳
امام صادق رحمة الله علیه وايي: که څوک غواړي، چې پوه شي، لمونځ یې قبول شوی که نه؛ نو و دې ګوري، چې لمانځه له بدیو او فحشاء ژغورلی که نه؟ او بیا امام وویل: « فبقدر ما منعته قبلت منه » څومره چې لمونځ انسان له بدیو ژغوري؛ نو هومره یې لمونځ قبول شوی دی٤.
پېغمبر اکرم ته وویل شول: پلانی هم لمونځ کوي او هم ګناه. رسول الله ورته وویل: بالاخره یوه ورځ به یې دا لمونځ وساتي٥.
* په یوه روایت کې راغلي: چې د لمانځه وخت به رارسېده، حضرت علي به په لړزه شو او ویل یې: د لمانځه وخت دی، لمونځ هماغه الهي امانت دی چې آسمانونو او غرونو یې له منلو ډډه وکړه.[٦]

---

[١] (وسائل ۳۷/۱۲).
[٢] (توحید صدوق۱۱۷ مخ)
[٣] (نهج البلاغه، ۲۵۲ حکمت)
[٤] (مجمع البیان تفسیر)
[٥] (مجمع البیان تفسیر)
[٦]. نوراالثقلین تفسیر

## حکمت

امام باقر رحمة الله علیه وایي: حکمت هماغه پوهه، معرفت او د ژوند پېژندګلوي ده. هغه پوهه، چې انسان د الله تعالی بندګی ته رابولي او له سترو ګناهونو یې ژغوري.
امام صادق رحمة الله علیه ویلي: د الله تعالی عبادت، د حکمت زړه دی. ۱
د روایتونو له مخې، حکمت یوه رڼا ده، چې په بدن کې ځای نیسي، چې نښې یې د انسان په خبرو او کړو وړو کې څرګندیږی. ۲
حکمت هغه لید او لیدانه - بصیرت دی، چې که په بېوزلۍ کې وي؛ نو هغه به په ټولنه کې تر شتمنه محبوب کړي. که په کوم کوشني کې وي؛ نو هغه به تر لویانو غوره او لوړ شي. ۳
حکمت د مؤمن ورکه ده. ٤
د حکمت لاس ته راوړو لپاره ډېره سپارښتنه شوې؛ لکه چې ویلي یي دي: مرغلره، چې په خورا سختی تر لاسه کوئ؛ نو حکمت هم لاس ته راوړئ، که څه له دښمنه وي. ۵

## موعظه

په یو شمېر روایتونو کې راغلي، چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم به کله کله حضرت جبرائیل ته ویل: موعظه راته وکړه. ٦
حضرت علي کرم الله وجهه به هم کله کله ځینو یارانو ته ویل: موعظه راته وکړئ. په اورېدو کې، چې کوم اغېز وي؛ په پوهېدو کې نشته.

## تهجد لمونځ

*امام صادق رحمة الله علیه وایي: «د هر نېک کار ثواب په قرآن کې بیان شوی؛ خو د شپې لمونځ چې بې له الله یې بل له بدلې خبر نه دی. بیا یې د السجده سورت، اوولسم آیت ولوست». [۱۷]

---

[۱] (امالي صدوق ۲۸۷ مخ)
[۲] (بحار، ۴۱ټ، ۳۱٦ مخ)
[۳] (بحار، ٦۷ ټ، ۴۵۸ مخ)
[٤] (نهج البلاغه، ۸۰ حکمت)
[۵] (بحار، ۲ټ، ۱۹۷ او ۹۹ مخونه)
[٦] (مواعظه صدوق، ۹٤)
[۱۷] – تفاسیر: مجمع البیان والمیزان

## له رسول الله سره مینه

* په یوه حدیث کې راغلي: رسول الله صلی الله علیه و آله وویل:
«والذّی نفسی بیده لا یؤمن احدکم حتّی اکون احَبَّ الیه من نفسه و ماله و ولده والناس اجمعین» پر هغه الله قسم چې زما ساه یې په لاس کې ده، تر هغه به ستاسې د یوه ایمان هم کامل نشي؛ خو داچې تر ځان، مال او اولادونو او تر ټولو خلکو ډېره مینه راسره ولري [۵]

## رښتین او دروغجن

* امام صادق رحمة الله علیه وویل: « داچې رښتیني د خپلو رښتیاوو په اړه پوښتل کېږي، چې په کوم نیت و او له مخې یې بدله ورکول کېږي؛ نو د دروغجن به څه حال وي؟!»[۱۰]

## ټول به مرو

* حضرت علي کرم الله وجهه وایي: «فلو ان احدا یجد الی البقاء سلما او الی دفع الموت سبیلا لکان ذلک سلیمان ابن داود الذی سخر له ملک الجن و الانس مع النبوه و عظیم الزلفه[۳۱]= که د همېشه ژوند لپاره، څه لاره چاره یا له مرگه تېښته وای؛ نو هرومرو سلیمان بن داوود علیهما السلام دغسې کول، هغه ته خدای پر پیریانو او انسانانو پر واکمنۍ سربېره، نبوت او لوړ عزتمن مقام ورکړی و.

## الهي مهلت

* امام سجاد په خپلو مناجاتو کې وایي: «کان جزائی فی اول ما عصیتک النار» [٦٤] یا الله! سزا مې په هماغه لومړۍ کړې گناه کې اور و، او څومره چې ژوندی پاتې یم، ما ته ستا پېرزوینه او مهلت دی، چې شونې ده توبه وکړم.
* حضرت علي کرم الله وجهه وایی: ابلیس ته د الله مهلت ورکول یې د لوښې او پیمانې ډکېدل او د ازمېینې یې بشپړېدل وو۱.

---

[۵] - نمونه تفسیر له فی ظلال نه په نقل

[۱۰] – تفاسیر: مجمع البیان و برهان

[۳۱] - نهج البلاغه، ۱۸۲ مه خطبه

[٦٤] -صحیفه سجادیه، دعا: ١٦

۱ - نهج البلاغه،خطبه ۱.

## پینځه

*په حدیث کې راغلي دي: پینځه څیزه د پینځه څیزونو تر راتلو مخکې غنیمت وګڼه: تر بوډاتوب مخکې ځواني، تر رنځورۍ مخکې روغتیا، تر نشتمنۍ مخکې مړه خواتوب، تر مرګ مخکې ژوند او تر بوختیا مخکې فراغت[1].

## د پرښتو دندې

* پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وایي: د معراج پر شپه مې یوه پرښته ولیده، چې د خبرو/استخباراتو د غلا کوونکیو د څارنې او تعقیب دنده یې درلوده او اویا زره پرښتې یې تر لاس لاندې وې، چې هرې یوې یې اویا زره پرښتې تر لاس لاندې درلودې[2].

## سلیم زړه

* امام صادق رحمة الله علیه وویل: قلب سلیم، هغه زړه دی، چې یوازې په الله تعالی پورې تړلی وي.[3]

## حضرت یونس علیه السلام

* په یوه روایت کې له امام باقر رحمة الله علیه لولو، چې حضرت یونس څو ورځې د کب په نس کې بندي و، وېښتان یې رژېدلي او د بدن پوټکی یې نری شوی و. د کب له نسه تر راوتو روسته یې د کدو بوټی روه او له سیوري یې ګټنه کوله[4].

## د مشرکانو ځېل

* له امام باقر رحمة الله علیه نقل شوي، چې د مکې مشرکانو او د قریشو کفارو، یهودو او نصاراوو ته ښېراوې کولې، چې څنګه یې خپل پیغمبران دورغجن کړل او ویل یې: پر خدای قسم، که یو پخوانی آسماني کتاب هم له موږ سره و؛ نو موږ پرې ایمان راووړ؛ خو همداچې حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم مبعوث شو، سرغړونه یې ترې وکړه او کفر یې خپل کړ.[5]

---

[1] (نمونه تفسیر)
[2] - نورالثقلین او برهان تفسیرونه
[3] - مجمع البیان تفسیر
[4] - قمي او نورالثقلین تفسیرونه
[5] - نورالثقلین تفسیر.

## حضرت داوود علیه السلام

* امام رضا رحمة الله علیه وویل:الله تعالی دوې پرښتې (د عدالت غوښتوونکیو په څېره کې) داود علیه السلام ته ولیږلې او داوړه د تمبې له لارې ور دننه نشوې؛ بلکې د محراب له دېواله وروختې او ناڅاپه ورغلې.۱

## حضرت یسع علیه السلام

له امام رضا رحمة الله علیه نه په یوه روایت کې راغلي، چې «الْیَسَعَ» پیغمبر هم د عیسی علیه السلام په څېر، مړي راژوندي کول.

## حضرت ذوالکفل علیه السلام

* امام جواد رحمة الله علیه د عبدالعظیم حسني په خوب کې وویل: ذوالکفل، تر حضرت سلیمان روسته، د هغو ۳۱۳ پیغمبرانو له ډلې څخه یو پیغمبر و، چې د حضرت داوود په څېر یې قضاوت کاوه او یوازې د الله تعالی لپاره غوسه کېده۲.

## رحمان

امام صادق رحمة الله علیه وایي:

((رحمان «لوراند» د الله عام صفت دی، چې مؤمن او کافر دواړه پکې رانغاړي؛ خو رحیم یوازې د الله لپاره ځانګړی دی، چې یوازې مؤمنان پکې رانغاړي۳.))

## اخلاص

پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته وویل شول: موږ بېوزلیو ته مال او ورکړه ددې لپاره کوو، چې نامه مو په نېکه یاده شي. رسول الله وویل: ((الله یوازې د اخلاص له مخې کارونه قبلوي.)) او بیا یې ورته د (أَلَا لِلَّهِ الدِّینُ الْخَالِصُ) آیت ولوست٤.

---

[1] - عیون اخبار الرضا، ۱ټ، ۹۴ مخ، ۱ حدیث. موږ له راهنما تفسیر راخستی دی.

[2] - بحار،ج ۱۲،ص ۳٤۸

[3] (تفسیر مجمع البیان)

[4] (تفسیر: درالمنثور)

حضرت علي کرم الله وجهه وایي: الله ته د نږدېدو لارې، پر الله او استازي یې ایمان، جهاد، اخلاص، لمونځ، روژه، زکات، حج یا عمره، صله رحم، پر خپلوانو زړې سوی او په پټه او ښکاره د نیکو کارونه کول دي[1].

## د الله تعالی بندګي

روایت دی: ((من اصبح و همومه هم واحد کفاه الله هموم الدنیا و لاخرة - د چا چې ټولې هلې ځلې او کوښښ د الله تعالی بندګي وي؛ نو الله تعالی یې د دنیا او اخرت غوښتنې پوره کوي[2].))

## حوامیم سورتونه

په حدیث کې لولو: «حوامیم» د قرآن تاج او خوشبویه ګلان یې دي او الله تعالی ددې سورتونو پر لوستوونکي (قاري)، ګاونډیانو، خپلوانو او دوستانو یې پېرزوینې لوروي او عرش او کرسي استغفار ورته کوي.[3]

## د قرآن کریم مقطعه توري

*د روایتونو له مخې، مقطعه توري یو تأویل لري، چې بې الله تعالی هېڅوک هم پرې نه پوهېږي. [۲]؛ خو د ځینو نورو روایتونو له مخې، (په دې توریو پسې آیتونه، چې د قرآن نزول په هکله دي) الله تعالی خپل مخالفین ننګوي، چې ما قرآن له همدې توریو چې ستاسې په واک کې دي، تالیف کړی؛ تاسې هم که کولای شئ، ورته یې راوړئ.
* مقطعه توریو ته ډېرې ماناوې ویل شوي، چې شونې ده غوره یې دا وي؛ قرآن، دا ستره الهي معجزه، له همدې توریو جوړه شوې ده؛ لکه څنګه چې په شوری سورت کې تر (حم عسق) توریو روسته وایي: «کَذٰلِکَ یُوحِي» موږ په دې توګه وحې کوو؛ البته په ځینو روایتونو کې راغلي، چې دا توري خواله ده او بې له الله تعالی هېڅوک هم نه پرې پوهېږي[4].

---

[1] (نهج البلاغه ۱۰۹ خطبه)
[2] (تفسیر روح البیان)

[3] نمونه تفسیر
[۲] -مجمع البیان تفسیر
[4] - نورالثقلین تفسیر،ج۱،ص ۳۰.

## گناهکاران

* امام کاظم رحمة الله علیه وویل: داسې مؤمن به نه وي، چې تر گناه کولو روسته خپه نشي او که خپه نشو، مؤمن نه دی او شفاعت ورته نشته او ظالم دی. بیا یې د «ما لِلظّالِمینَ مِنْ حَمِیمٍ وَ لا شَفِیعٍ یُطاعُ» آیت تلاوت کړ.[۸۹]

## د حضرت ابراهیم علیه السلام ځوځات

* حضرت علی کرم الله وجهه وایي: رسول الله صلی الله علیه و آله د ابراهیم له نسله دی او موږ اهل بیت هم د ابراهیم او محمد [ص] له نسله یو.۱

## په زړه کې د الله تعال ذکر

* رسول اکرم صلی الله علیه و آله وویل: هغه مهال چې انسان په خپل زړه کې الله یاد کړي، الله یې په کتاب کې لیکي او پرښتو ته یې یادونه کوي، هغوی وایي: موږ ترې خبر نه یو. الله وایي: زه یې په زړه کې ذکر ثبتوم۲.

په کمیل دعا کې هم لولو: «و الشاهد لما خفی عنهم» پالونکیه! له هغه څه خبر یې چې له پرښتو پټ دي.

## ځلکدن

حضرت علي کرم الله وجهه د انسان د ساه ورکولو د څرنگوالي په اړه وایي: انسان د خپل ژوند په روستیو شېبو کې سوچ کوي، چې له خپل ژوند سره یې څه کړي او څنگه یې وخت تېر کړی دی. «یفکر فیم افنی عمره و فیم اذهب دهره[٦٥]

## نس/ خېټه

*حضرت علي وایي: ((چاچې خپل ټول زور خېټې ته لگولی وي؛ نو ارزښت یې هماغه دی، چې ترې بهر وځي۳.))

---

[۸۹] - نورالثقلین تفسیر

۱ برهان تفسیر

۲ برهان تفسیر.

[٦٥] - نهج البلاغه، خطبه: ۱۰۹.

۳ (غرر الحکم/ ۱۹)

## قیامت

* امام سجاد وویل: قسم پر الله! د قیامت پېښه د الله دښمنان دوزخ ته ورکوزوي «خافِضَةٌ» او الهي اولیاء به جنت ته پورته کړي. «رافِعَةٌ۱»هو! پر هغه ورځ واقعي عزّت او ذلّت، لوړپوړي او پرېوتي معلومېږي، چې مشرانو ویلي دي: «الفقر و الغنی بعد العرض علی الله»۲، واقعي نشتمني او شتمني به الله ته د کړنو تر وړاندې کېدو روسته معلومېږي.

*حضرت ابن عباس(رض) وايي: به "حجة الوداع" کې حال دا چې سلمان فارسي تر ټولو پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ته نږدې ناست و، ویې ویل: ((اضاعة الصلوات و اتباع الشهوات و المیل مع الأهواء و تعظیم أصحاب المال و بیع الدین بالدنیا -ایا د قیامت له نښو مو خبرکړم؟)) او بیا یې وویل: ((لمونځ ته پام نه کول، له ځاني غوښتنو لاروي، د شتمنو درناوی او دین پر دنیا پلورل. ۳))

په ځینو روایاتو کې، قیامت جوړېدو ته تر سلو ډېرې نښې شمېرل شوي دي٤.

## پر الله تعالی بدګوماني

* په حدیث کې لولو: الله تعالی هېڅ بنده تر توبې او استغفار روسته نه عذابوي؛ خو پر الله د بدګومانۍ او هغه ته د نه هیلمنۍ په پار.

## د دروغو خبر

د: پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د خپل عمر په روستي کال په حج کې وویل: ډېر وي داسې کسان، چې له ما څخه به درته د دروغو خبرونه وايي او نور به هم زیات شي او چاچې آګاهانه په ما پورې دروغ وتړل؛ نو ځای به یې په دوزخ کې وي او له ما یې چې هر څه دروړل؛ نو له قرآن او سنتو سره یې پرتله کړئ، که له هغو دواړو سره یې سمون درلود؛ نو و یې منئ که نه، مه یې منئ.)) ۵

---

[1] نورالثقلین تفسیر

[2] غررالحکم.

[3] (برهان تفسیر)

[4] (برهان تفسیر)

[5] (بحار۲/۲۲۵)

هه: امام صادق رحمة الله علیه پر هغه لعنت وایه، چې د دروغو خبر یې د ده په پلار امام باقر پورې وتاړه، ویې ویل: څه یې چې له موږه درته وویل؛ له قرآن او زموږ له نورو خبرو سره یې وسنجوئ، که ورسره یې اړخ لګاوه، و یې منئ؛ ګنې مه یې منئ[1].

د: امام رضا رحمة الله علیه: زموږ د خبرو سند قرآن او د پېغمبراکرم سنت دي[2].

ز: په اسلامی علومو کې یو مهم علم "د رجالوعلم" دی، چې دا علم د هغوی په باب دی، چې حدیثونه روایتوي، چې سم حدیث له ناسمه وپېژندل شي.

## دروغ

دروغ چې کبیره ګناه ده، که د سولې او روغې لپاره وویل شي؛ نو ګناه نه لري ((لا کِذبَ علی المُصلِح[3]))

*اسلام ان په ټوکو کې هم خلک له دروغو منع کړي دي. ٤

*دروغ د ډېرو ګناهونو پیل دی٥.

*دروغ انسان د ایمان له خونده بې برخې کوي٦. او د ایمان د خرابی لاملېږي. ٧

امام باقر رحمة الله علیه وایې: تر دروغو نور څه ناوړه نشته.

حضرت علي وایي: له دروغجن سره له ملګرتیا ډډه وکړئ، چې هغه د شرابو په څېر دی.

## مینه

*په روایتونو کې راغلي: د خپلې پېژندګلو کونجي له مؤمنانو سره په مینه کې ولټوئ، که د ایمان خاوندان دربانديې ګران ول؛ نو پر سمه او خیر روان یاست؛ خو که ګناهګار دربانديې ګران ول؛ نو خیر مو نشته٨.

---

[1] (بحار٢٢/٢٥٠ )

[2] (هماغه سرچینه)

[3] (بحار٦٩/ ٢٤٢)

[4] (کافي ٢/ ٣٣٨)

[5] (کافي ٣٣٨/٢)

[6] (کافي ٢/ ٣٤٠)

[7] (کافي٣٣٩/٢)

[8] (کافي ٢/ ١٢٦)

*په روایتونو کې راغلي: په (حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ) کې له ایمان څخه مراد د حضرت علي مینه ده او له کفر، فسوق او عصیان څخه مراد هغه کسان دي، چې د اهل بیتو پر ضد پاڅېدل١.
*امام صادق رحمة الله علیه له آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم نه روایتوي: څوک چې د الله نعمتونه یوازې په خوراک څښاک او... کې بولي؛ نو عمل یې لنډ او عذاب یې هم رالنډوي.
*په یو حدیث کې راغلي: څوک چې له معنویاتو سره مینه او له ګناه څخه کرکه نعمت و نه ګڼي؛ نو د الله تعالی د نعمتونو ناشکري یې کړې، چې د داسې خلکو عملونه لړ او هلې ځلې یې بېځایه دي٢.

## عدالت

*د الله رسول صلی الله علیه و آله وسلم وویل: هغه واکمن به لومړی دوزخ ته ځي، چې پر عدالت نه وي چلېدلی٣.
*په بل حدیث کې لولو: که څوک د لسو تنو مشر وي؛ خو که ترمنځ یې پر عدالت چلن و نه کړي؛ نو د قیامت پر ورځ به پښې لاس تړلی راپاڅي٤.
حضرت علي ورته وویل: غواړې باج ورکړم؟!! که څوک غواړي پاتې دې شي، که نه ځي دې.٥
حضرت علي د خپل حکومت په پیل کې وویل: تر ما مخکې چې څومره هم بېځایه لګښت شوی، بېرته به یې واخلم او بیت المال ته به یې ورکړم، ان که د ښځو په مهر کې یې پیسې لګولي وي او یا یې مریان پرې ازاد کړي وي.
که په خلکو کې پر عدالت چلن وشي؛ نو د الله تعالی پر حکم به آسمان روزي روالېږي او ځمکه خپل برکتونه راوټوکوي٦.

---

١ (کافي ٤٢٦/١)
٢ (بحار ٧٤/ ١٥٨)
٣ (میزان الحکم)
٤ (میزان الحکمه)
٥ (وسایل ١٥/ - ١٠٧)
٦ (کافي ٣/ ٥٦٦)

امام کاظم رحمة الله علیه وویل: که په خلکو کې عدالت پلی شي؛ نو خلک به مړه خوا شي.
۱ او بیا یې وویل: عدالت تر شاتوهم خوږ دی.
امام کاظم رحمة الله علیه د(یحیی الارض بعد موتها)؛ یعنې الله مړه ځمکه راژوندۍ کوي، په تفسیرکې ویل: الله داسې سړی معبوثوي، چې عدل پلی کړي او ځمکه د عدالت په پلي کولو ژوندۍ کیږي. ۲
۹_ فاطمې بي بي وویل: عدالت د زړه تکور دی. ۳ (هو! خلک ښوزلي زغملای شي؛ خو بې عدالتي نه)

## په روایتونو کې د الهي لورنې سرچینې

۱_ د مؤمن رنځور پوښتنه: څوک چې د رنځور پوښتنې ته ولاړ؛ نو تر الهي لورنې لاندې به وي٤.
۲_ له ښوزلیو سره مرسته کول: له ښوزلي سره مرسته وکړئ اوله دې لارې له الله لورنه وغواړئ٥.
۳_ له اولادوالو کورنیو سره مرسته: په روایتونو کې ډېره سپارښتنه شوې هغوی چې ډېرې لونې لري، په لورنه ورسره وچلیږئ.
٤ــدعا، لمونځ، پسته خبره، مسلمان ته غاړه او لاس ورکول٦.
٥_ د خلکو ستونزاواری: که څوک ستونزاواري ته درغی؛ نو مه یې نهیلوئ ؛ ځکه د الله رحمت پراخه دی٧.

## غوره او ښه رور

روایتونه غوره او ښه رور داسې ښیي: غوره او ښه رور دې هغه دی، چې خیر دې غواړي او زړه یې درباندې سوځي او ان په تریو تندي دې د الله تعالی لاروی ته اړ کړي، ستونزې دې هوارې کړي او د الله لپاره درسره ملګری وي، کړه وړه یې ستا د ودې لامل شي، خبره یې ستا

---

[1] (کافي ٥٤١/١)
[2] (کافي ٢٧٤/٧)
[3] (من لایحضر٣/ ٥٦٧)
[4] (وسایل ٤١٥/٢١)
[5] (مستدرک٩/ ٥٤)
[6] (وسائل ٣١/٧)
[7] (کافي ٢٠٦/٢)

پوهه زیاته کړي، په تېروتنو پسې دې ولاړ نشي او که نیمګړتیا یې درکې ولیده، درته یې ووایي، پر ناسمه له تلو دې وساتي، ماتمخی - حیاناکه، امین، رښتین او لمونځ ته د پام اړولو خوی ولري او په تنګسه او پراخۍ کې دې هېر نه کړي[1].

## د رورولۍ حقوق

*د الله رسول صلی الله علیه و آله وسلم وویل: مسلمان پر خپل مسلمان رور دېرش حقه لري، چې پرځای دې یې کړي؛ لکه:

۱ـ ښښنه او لورنه . ۲ ـ راز ساتنه. ۳ ـ د تېروتنو جبران. ٤ ـ د عذر منل. ۵ ـ د بدانو په مقابل کې یې دفاع. ٦ـ خیر غوښتنه. ۷ـ پر وعده عمل. ۸ ـ د رنځورۍ پر مهال یې پوښتنه. ۹ـ د جنازې لمونځ. ۱۰ـ د بلنې او ډالۍ منل. ۱۱ـ ډالۍ ورکول. ۱۲ـ د ښه چارو ترې مننه. ۱۳ـ ورسره مرسته. ۱٤ـ د حیا او ناموس ساتنه. ۱۵ـ د اړتیا پرمهال په کار راتلل. ۱٦ـ ستونزاواري ته یې واسطه کېدل. ۱۷ـ که څه ترې ورک وي، په پیدا کولو کې مرسته ورسره وکړي . ۱۸ـ پرشي ته یې یرحمکم الله ویل. ۱۹ـ د سلام ځواب ورکول. ۲۰ـ د خبرې درناوی یې. ۱۲ـ له دوست سره یې دوست او له دښمن سره یې دښمن وي. ۲٤ـ په غم او ناوړه پېښو کې یې ځان ته نه پرېښوول. ۲۵ـ څه چې ځان ته خوښوي، هغه ته یې هم خوښ کړي او..... [2]

*په حدیث کې راغلي: پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم چې د (إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ) آیت ولوست؛ نو و یې ویل: ((د مسلمانانو وینه یو له بل سره برابره ده. که له مسلمانانو یو ساده تن هم وعده وکړه؛ نو ټول پرې ولاړ وسئ، د ساري په ډول: که یو عادي مسلمان هم چا ته پناه یا امان ورکړ؛ نو ټول دې پردې تړون ودرېږي او د شریک دښمن پر خلاف دې سره یولاس شي. [3]

*حضرت علي، کمیل ته وویل: هغه رور دې رور نه دی، چې ورسره مینه نه لرې[4].

[1] (میزان الحکمه)

[2] (بحار ۷۴/ ۲۳٦)

[3] (تفسیرقمي ۷۳/۱)

[4] (تحف العقول، ۱۷۱مخ)

*انسان په بشپړ ایمان کړای شي، د الله تعالی د اولیاوو په لیکه کې ودرېږي. (سَلمان مِنّا اهل البیت= سلمان زما له کورنۍ څخه دی[1])؛ لکه څنگه چې په کفر، انسان له کړۍ وځي؛ لکه الله تعالی چې نوح علیه السلام ته د ده د زوی په هکله وویل: (إِنَّهُ لَیْسَ مِنْ أَهْلِكَ[2]=هغه له تا څخه نه دی.)

## پر نورو ملنډې وهل

د: په حدیث کې راغلي: له ملنډه وهوونکي څخه به په ډېره سخته او سخته بڼه ساه وځي. ((ماتَ بِشَرِّ مَیتَة[3]))

هه: امام صادق رحمة الله علیه: هغوی چې پر مؤمنانو ملنډې وهي او یا یې په خبرو کې وردانگي، په حقیقت کې پرالله تعالی یې ملنډې وهلي دي[4].

*پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم د مکې د سوبې پر ورځ ټول وبښل؛ خو ملنډې وهوونکي یې و نه بښل.

*په حدیث کې راغلي: د الله تعالی د مؤمن بنده سپکاوی، له الله تعالی سره د جگړې اعلان دی[5].

*امام صادق رحمة الله علیه خپل یو ملگری وپوښت: څرنگه د خپل مال زکات ورکوې؟ ویې ویل: ماته چې بېوزله راشي؛ نو زکات ورکوم. امام: پوه شه، چې په دې کار دې د هغه سپکاوی وکړ، کله هم بیا داسې و نه کړې؛ ځکه الله تعالی وایي: څوک چې مې دوست سپک کړي؛ نو ما ته د جگړې لپاره په کمین کې ناست دی[6].

## غیبت

حضرت علي وایي: څنگه د خلکو عیب وایۍ، حال داچې په خپله هم هماغه عیب لرئ[7].

---

[1] (بحار ۱۰/۱۲۳مخ)

[2] (هود/ ٤٦)

[3] (بحار۷۲/ ١٤٥)

[4] (وسایل ۱۲/۲۷۰)

[5] (وسایل ۱۲/ ۲۷۰)

[6] (مستدرک ۹/ ۱۰۵)

[7] (نهج البلاغه، ۱۴۰ خطبه)

په روايتونو کې راغلي: نېکمرغه انسان هغه دی، چې پر خپل عيب بوخت وي (د ځان سمونې په فکر کې وي او د خلکو په عيب پورې کار و نه لري)١.
*په يوه روايت کې غيبت کول کفر او اورېدل او پرې خوښېدل شرک ګڼل شوی دی٢.
*پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم: که په يوه ناسته کې غيبت کېږي؛ نو د غيبت مخه ونيسئ او له ناستې ووځئ٣.
په حديث کې وايو: څوک چې غيبت واوري او چوپ پاتې شي؛ نو له غيبت کوونکي سره په جرم کې شريک دی٤.
*پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: چا چې غيبت واورېد اوهغه يې رد کړ؛ نو الله تعالی به ورته د دنيا اوآخرت زر د شر ورونه وتړي؛ خو که وايې ورېد او غلی پاتې شو؛ نو له ويوونکي سره په جرم کې شريک دی٥.
په روايتونو کې د غيبت کوونکي نامه د هغه چا تر څنګ راغلې، چې تل شراب څښي٦.
په روايتونو کې راغلي: هغوی چې د نوروغيبت راسپړي؛ نو الله به يې عيبونه ښکاره کړي. ٧
پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وايي: د غيبت کوونکي روژه باطله ده٨.
پيغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم وايي: يو درهم ربا تر ٣٦ زناګانو بده ده او تر ټولو بده او ستره ربا، د مسلمان له پت سره معامله ده٩.
په حديث کې راغلي: په جومات کې د لمانځه لپاره د ناستې انتظار عبادت دی؛ خو چې غيبت پکې ونشي ١٠.

---

١ (بحار ١/ ١٩١)
٢ (بحار ٧٢/ ٢٢٦)
٣ (کنزالمعال ٨٠/٢)
٤ (غررالحکم)
٥ (وسايل ٦٠٧/٨ )
٦ (بحار ٧٢/ ٢٦٠)
٧ (محجه البيضا، ٥مخ)
٨ (محجة البيضاء٥/٢٥٤)
٩ (بحار ٧٢/ ٢٢٣).
١٠ (کافي ٣٥٧/٢مخ)

* پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم په مدینې کې په روستی خطبه کې وویل: څوک چې غیبت وکړي، روژه یې باطله ده[1].
امام صادق رحمة الله علیه وویل: غیبت کوونکی که توبه وکړي؛ نو روستی تن به وي، چې جنت ته ورننوځي او که توبه و نه کړي؛ نو لومړی تن به وي، چې دوزخ ته ورننوځي[2].
امام رضا رحمة الله علیه له امام سجاد څخه روایت کړی دی: یوعالم وایي: که چا د مسلمان له غیبته ځان وساته؛ نو الله به یې د قیامت پر ورځ له گناهونو تېرشي[3]. پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم: ترڅلوېښت ورځو پورې د غیبت کوونکي لمونځ او روژه نه قبلېږي[4].
پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وایي: د قیامت پر ورځ، چې ځینو ته کړنلیکونه ورکړل شي؛ نو وبه وایي: ولې پکې زموږ ښه کړه نه دي کښل شوي؛ نو ورته به وویل شي: الله، نه څه کم کړي او نه هېر کړي؛ بلکې ستاسې ښې چارې د غیبت له لامله له منځه تللي دي او په مقابل کې داسې کسان هم شته، چې کله خپل کړنلیک ویني، چې پکې ډېرې زیاتې ښې چارې لیکل شوي وي؛ نو خیال به وکړي، چې دا یې کړنلیک نه دی؛ نو ورته به وویل شي: چا چې دې غیبت کړی و، ښې کړنې یې ستاپه کړنلیک کې لیکل شوي دي[5].
د الله رسول صلی الله علیه و آله وسلم مکې ته په خپل روستي سفر کی وویل: ستاسې وینه، مال او پت محترم دی؛ لکه څنگه چې دا د "ذي الحجې" میاشت او د حج ورځې محترمې دي[6].

## بدگوماني

۱_ پر الله بدگوماني:
په حدیث کې وایو: څوک چې د ژوند د لگښت له لامله واده نه کوي، په حقیقت کې پرالله تعالی بدگومانه دی؛ یعنې انگېري، چې که ځان ته وي؛ نو الله تعالی یې رزق ورکولای شي؛

[1] محجة البیضاء۲۵٤/٥
[2] (مستدرک ۱۱۷/۹)
[3] (بحار۷۲/ ۲۵٦)
[4] (بحار۷۳/ ۲۵۸)
[5] (بحار۷۲/ ۲۵۹)
[6] (شرح نهج البلاغه، ابن ابی الحدید ٦۲/۹)

خو که مېړمن یې ورسره وي؛ نو الله تعالی یې د روزۍ ورکولو وس نه لري، چې پر الله تعالی له دې ډول بدګومانۍ منع شوي یو.

## ایمان او اسلام

امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: د ایمان او اسلام ترمنځ توپیرڅه دی؟ امام: اسلام د شهادت ویل او پرظواهرو؛ لکه لمونځ، زکات او..... عمل کول دي؛ خو ایمان هغه شهادت او عمل دی، چې د الهي مشر د پېژندګلو پر بنسټ وي[1].

امام صادق رحمة الله علیه د (وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللّهِ صِبْغَةً[2]) په اړه وویل: الهي رنګ اسلام دی او د (فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ[3]) په تفسیرکې یې وویل: په الهي رسۍ پورې نښتل، همدغه ایمان دی[4].

امام صادق رحمة الله علیه وویل: د اسلام په منلو د انسان وینه ساتل کېږي او واده یې حلالېږي؛ خو د آخرت ثواب د ایمان له مخې ورکول کېږي[5]

په یوه حدیث کې اسلام او ایمان له مسجدالحرام او کعبې سره تشبیه شوي دي[6].

په حدیث کې راغلي: ایمان تر اسلامه یوه درجه پورته دی او تقوی تر ایمانه یوه درجه پورته ده او یقین تر تقوا یوه درجه پورته دی، چې په خلکو کې ډېرکم پیدا کېږي[7].

امام باقر رحمة الله علیه ویلي: ایمان هغه څیز دی چې په زړه کې ټیکاو مومي او ځای نیسي او انسان له دې لارې الله ته ورسي او عمل، دا زړګنی باور تصدیقوي، خو اسلام هغه څیز دی چې په وینا او کړنو کې ښکاره کېږي، که څه په زړه کې یې ځای نه وي نیولی.[8]

## تقوا

امام صادق رحمة الله علیه وویل: ورع (تقوا) په زړه کې ایمان ټینګوي او تمه له زړه باسي[9].

---

[1] (کافي ۲/۲٤)

[2] (بقره/۱۳۸)

[3] (بقره / ۲٥٦)

[4] (کافي۲/۱٤)

[5] (کافي ۲/ ۲٤)

[6] (کافي۲/٥۲)

[7] (کافي ۲/٥۱)

[8] کافي ۳ټ، ۲٦ مخ

[9] (میزان الحکمه).

باران* امام باقر رحمة الله علیه د «نَزَّلْنا مِنَ السَّماءِ» په اړه ویلي: پر ځمکه به داسې اوبه نه وي، چې د آسمان له اوبو سره ګډې شوې نه وي. [۹]
* حضرت علي کرم الله وجهه به د وربښت پرمهال د باران اوبه پر سر او مخ اچولې او ویل به یې: دا له آسمانه هغه برکت دی، چې یو لاس او لوښی هم پرې نه دی لګېدلی. [۱۰]

## په پټه له الله ډار

* رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت ابن مسعود (رض) ته وویل: ای د مسعود زویه! په پټه له الله داسې ډارېږه، ته وا وینې یې او که ته یې نه وینې، هغه خو دې ویني او بیا یې دا آیت تلاوت کړ:(مَنْ خَشِيَ الرَّحْمنَ بِالْغَيْبِ...) [۳۵]

## د انسان پنځون

* امام باقر رحمة الله علیه وایي: «کان شیئا لم یکن مذکورا۱»انسان، یو څیز و؛ خو د یادونې وړ نه و او روسته یې وړتیا ومونده.
* امام صادق رحمة الله علیه وایي: انسان په الهي تقدیر کې و؛ خو څه نه و. «لَمْ يَكُنْ شَيْئاً مَذْكُوراً))۲
* امام باقر رحمة الله علیه وویل: له «نُطْفَةٍ أَمْشاجٍ» نه مراد له ښځې سره د سړي د څاڅکي یوځای کېدل دي۳.
* حضرت علي کرم الله وجهه وایي: الله تعالی ته اورېدونکی او لیدونکی پنځولی یې، هم خوشحالېږې، هم خپه کېږې، هم وږی کېږې او هم مړېږې٤.

---

[۹] - کافی، ٦ټ، ۳۸۷ مخ
[۱۰] - بحار، ۵۹ ټ، ۲۷۰ مخ .
[۳۵] - بحار، ۷۴ ټ، ۱۱ مخ
۱ - برهان تفسیر.
۲ -کنزالدقائق تفسیر.
۳ نورالثقلین تفسیر.
٤ – نورالثقلین تفسیر.

* امام حسین (رض) وايي: الله تعالی خلک يوازې خپل معرفت او پېژندو ته پنځولي او چې و يې پېژانده، عبادت يې کوي او چاچې د هغه عبادت وکړ؛ نو د غيرالله له بندگۍ به مړه خوا شي۱.

## په جنت کې ژړنې چوپړيالان

* رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت علي کرم الله وجهه ته وويل: هغه ښکلي ژړني چې د جنتيانو چوپړيالان دي، د کفارو او مشرکانو زامن دي، چې نه مجرم دي، چې دوزخيان شي او نه نېکچاري دي، چې له جنتي نعمتونو برخمن شي؛ نو دا وگړي د جنت چوپړيالانېږي۲.

## سدرة المنتهى

* په حديث کې راغلي: هغه ځای چې د پرښتو د الوتنې روستی پړاو يا د اعمالو د پورته تلنې روستی پړاو وي؛ نو دې ته «سِدْرَهِ الْمُنْتَهى» وايي او په رواياتو کې لولو: «سدره المنتهى» د هغه ونې نامه ده چې له هرې پاڼې سره يې يوه پرښته د تسبيح په حال کې ده. [۲۱]

## الهي اراده

حضرت علي کرم الله وجهه وايي: «عرفت الله بفسخ العزائم و نقض العهود - خدای مې په دې وپېژانده، چې پياوړې ارادې سستوي، سختې غوټې پرانيزي او هوډونه ماتوي »[۳۱] يعنې هستې د الله تعالى په اراده چورلي نه زموږ په هوډونو.

## هيله

رسول اکرم صلی الله علیه و آله وايي: «لو لا الامل ما رضعت و الده ولدها و لا غرس غارس شجرها» [۳۳] که هيله نه وای؛ نو نه به کومې مور خپل زوی ته تی ورکړی وای او نه به هم کوم بزگر ونه کرلې وای.

عيسى عليه السلام، يو سپين ږيری وليد چې په يوم ځمکه اړوي، ورته يې وويل :

---

۱ - نمونه تفسير.

۲ - بحار، ۵ټ، ۲۹۱ مخ.

[۲۱] - تفاسير نمونه و مجمع البيان

[۳۱] - نهج البلاغه، حکمت ۲۵۰.

[۳۳] - بحار، ۷۷ ټ، ۱۳۷ مخ

خدایه! له دې سړي هیله واخله. ویې لیدل چې سپین ږیري یوم کېښود او ویده شو. شېبه روسته حضرت عیسی له خدایه وغوښتل چې هیله بېرته ورستنه کړه، ویې لیدل چې سپین ږیری راپورته شو او پر کار یې پیل وکړ[٣٤]

حضرت علي کرم الله وجهه وایي: ډېره وېره مې ستاسې د ځاني غوښتنو او اوږدو هیلو په اړه ده. [٣٥]

## گناه

* امام رضا رحمة الله علیه کبیره گناهونه لړلیک کړي دي: د نفس وژنه، زنا، غلا، د شرابو څښل، د مورروپلار ناخوښي او عاق، د جگړې له ډگره تېښته، د پلارمړي یا یتیم په مال کې ظالمانه تصرف، مرداره غوښه خوړل، د ویني څښل، د سرکوزي یا خنځیر د غوښې خوړل، د هغه حلال څاروي غوښه چې د الله تعالی له نامې څخه پرته ذبح شوې وي، ربا، بډې یا رشوت، جواري، ډنډی وهل، پر پاک لمنو ښځو تور، لواطت، په ناحقه گواهي ورکول، د الله تعالی له رحمته نهیلي، د الله تعالی له عذابه ځان خوندي گڼل، پر ظالمانو تکیه کول، د دروغو قسم خوړل، د نورو د حق نه ورکول، دروغ ویل، تکبر، اسراف، تبذیر، خیانت، د حج په کولو کې لنډون، د الله تعالی له ولیانو سره دښمني، پر چټي چارو بوختیا، پر گناه ټینگار. [٦٣]

علي کرم الله وجهه وویل: پر خدای قسم که د ځمکې کوره (اقالیم سبعه) راکړي چې د مېږي له خولې د اوربشې د پوټکي د را اخستنې هومره گناه وکړم؛ نو دا کار به و نه کړم. [٦٦]

علي کرم الله وجهه وویل: تر ټولو بده گناه هغه ده چې انسان یې کوشنۍ وگڼي.

«اشد الذنوب ما استخف به صاحبه»[٦٧]

په روایاتو کې لولو: د پیغمبر دوست هغه دی چې د الله تعالی مطیع وي، که څه له رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم سره کومه اړیکه و نه لري او د رسول الله دښمن هغه دی چې له الله

---

[٣٤] - بحار، ١٤ ټ، ٣٢٩ مخ

[٣٥] -. نهج البلاغه، ٢٨ مه خطبه

[٦٣] - نورالثقلین تفسیر.

[٦٦] - نهج البلاغه، خطبه ٢٢٤.

[٦٧] - نهج البلاغه، حکمت ٤٧٧

تعالی څخه سرغړونه وکړي، که څه د انحضرت له نږدې خپلوانو وي. «ان و لی محمد من اطاع الله و ان بعدت لحمته و ان عدو محمد من عصی الله و ان قربت قرابته»[٦٨]

## پر خپلو عبادتونو مه ویاړئ

* امام باقر رحمة الله علیه د «فَلا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ» په اړه وایي: پخپل لمونځ، زکات، روژه او عباداتو ویاړ مه کوئ؛ ځکه الله تعالی متقیان ښه پیژني. [٦٤]
* امام باقر رحمة الله علیه له رسول اکرم صلی الله علیه و آله نه رانقلوي: هېڅوک دې پر خپلو کړنو ډډه و نه کړي؛ بلکې یوازې د الله پر فضل او رحمت دې ډډه ووهي١.
* حضرت علي کرم الله وجهه خپل زوی ته وایي: داسې له الله وېره ولره، چې که ټولې ښېګڼې ولرې، احتمال ورکړه، چې درنه یې و نه مني او داسې هیله ترې لره، چې که د ځمکې پر مخ د ټولو خلکو بدۍ ولرې، احتمال ورکړه، چې و دې ښښي٢.

## ځان ستاینه

* امام صادق رحمة الله علیه یې وپوښت : آیا دا جایز دي چې څوک د خپل ځان ستاینه وکړي؟ ویې ویل: که بیړنی حالت یا اضطرار رامنځته شو؛ نو کوم باک نه لري، آیا اورېدلي مو نه دي چې یوسف علیه السلام د مصر د واکمن په مخ کې د ځان ستاینه وکړه او ویې ویل:: «اجْعَلْنِی عَلی خَزائِنِ الْأَرْضِ إِنِّی حَفِیظٌ عَلِیمٌ»[٦٥] ما د دې هېواد (د مصر) پر (اقتصادي) سرچینو وګوماره، چې کارپوه ساتونکی یم.
* یوې ډلې وویل، موږ بېګا تر سهاره لمونځونه کول د ورځې هم روژه وه؛ نو علي کرم الله وجهه یې پر وړاندې وویل: زه بېګاه ویده وم، او پرون هم روژه نه وم.
نوځکه ، د نورو یا خپل غرور د مخنیوي لپاره داسې خبرې وشي.

---

[٦٨] -. وسائل، ١٥ ټ، ٢٣٨ مخ

[٦٤] -. تفسیر کنز الدقائق.

١ -. اربعین امام خمینی، ٢٢٦.

٢ - نمونه تفسیر.

[٦٥] -یوسف، ٥٥.

* يو يهودى راغى او د رسول الله صلى الله عليه و آله په مخ كې يې د موسى عليه السلام معجزې بيان كړې، انحضرت صلى الله عليه و آله وسلم وويل: ناروا ده چې انسان، ځان ستاينه وكړي؛ خو ستا د روښانولو لپاره وايم:
حضرت آدم د خپلې توبې لپاره، حضرت نوح له ډوبېدو څخه د ژغورنې لپاره، حضرت ابراهيم له اوره د ژغورنې لپاره او حضرت موسى له ويرې د ژغورنې لپاره، الله تعالى ته په محمد و آل محمد قسم وركړ، اى يهوديه! كه موسى زه ليدلى واى، پر ما يې ايمان راووړ، حضرت مهدې مې له ځوځاته دى چې حضرت عيسى به يې د ملگرتوب لپاره له آسمانه راكوزېږي او ورپسې به لمونځ كوي.

## صدقه جاريه

* په رواياتو كې لولو چې انسان تر مړينې روسته د صالح اولاد له نېكو كارونو، كتاب يا له هغه موقوفاتو څخه برخمنېږي چې تر ځان روسته يې پرېښې دي. [٨٤] او يا په جنت كې د انسان نېک نسل ورسره يوځاى كېږي. [٨٥] يا له هغه خير كار څخه گټه پورته كوي چې ده يې وصيت يا سپارښتنه كړې وه. [٨٦]

## ناوې

امام كاظم رحمة الله عليه وويل: هر څه ناوې لري او د قرآن ناوې الرّحمن سورت دى[١].

## مور

* حضرت علي كرم الله وجهه وايي: «لا تجعلن ذرب لسانک على من انطقک و بلاغه قولک على من سددک»[٢] د ژبې تراخه دې هغه ته مه بړده، چې خبرې كول يې درزده كړي او د ژبې بلاغت، څرگندتيا دې هغه ته په سپين سترگى مه وايه، چې ستا وينا يې قاعده منده او ښكلې كړه.

---

[٨٤] - خصال، ١٥١ مخ

[٨٥] -طور، ٢١

[٨٦] - كافي، ٤ ټ، ٣١٥ مخ

[١] (وسايل: ۴ ټ، ٣۵١ مخ)

[٢] -. نهج البلاغه: حكمت ٤١١

## سوداګري

## د سوداګرۍ آداب

په حدیث کې راغلي دي: هغه سوداګري ارزښتمنه ده، چې د حق او رښتینولۍ پر بنسټ وي.
«التاجر فاجر و الفاجر فی النار الا من أخذ الحق و اعطی الحق[1]»
حضرت علي کرم الله وجهه حکم وکړ، چې نابره دینارونه په څاه کې واچوئ، چې راکړه ورکړه پرې ونشي. «القه فی البالوعه حتی لا یباع شیء فیه غش[2]»
آنحضرت به هره ورځ په کوفې بازار کې ګرځېده او کله د بازار په منځ کې درېده او ویل یې: ای سوداګرو!
«قدموا الاستخاره»، له الله خیر وغواړئ.
«تبرکوا بالسهوله»، د خلکو د سهولت په سیوري کې برکت وغواړئ.
«جانبوا الکذب»، په راکړه ورکړه کې له دروغو ډډه وکړئ.
«و تجانبوا عن الظلم»، له ظلم او بې عدالتۍ ډډه وکړئ.
«و لا تقربوا الربا»[3] سود ته مه ورنږدې کېږئ.
* په روایت کې لولو چې علي کرم الله وجهه وویل:أنا التجاره المربحه المنجیه من العذاب الالیم التی دل الله علیها فی کتابه فقال هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلى تِجارَةٍ... [4] زه هماغه ګټوره سوداګري یم، چې له سخت عذابه ژغورنکی یم، هماغه چې الله په قرآن کې اشاره ورته کړې ده.

## تکرارول

په حدیث کې راغلي دي: د اذان په پیل کې څلور ځل د «الله اکبر» تکرار په دې مانا دي، چې خلک له غفلته راپاڅي او چې کله متوجه شول؛ نو ورپسې جملې دوو ځل ویلو ته راکوزېږي[5].

---

[1] - کافي، ج۵، آداب تجارت.
[2] - کافي، ۵ ټ، ۱٦۰ مخ .
[3] - تفسیر نمونه.
[4] -کنز الدقائق تفسیر
[5] - علل الشرایع، ۱ټ، ۲۵۹ مخ

کله به حضرت علي کرم الله وجهه په خلکو کې د حساسیت رامنځ ته کولو لپاره، ځینې الفاظ تکرارول؛ لکه چې خپل زوی ته په وصیت کې لیکي:الله الله فی الایتام....، «الله الله فی جیرانکم»، «الله الله فی الصلاه»، الله الله فی القرآن... ۱چې د «الله» نامه پکې تکرار شوې ده.

## «كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِی شَأْنٍ»

* د «كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِی شَأْنٍ» آیت په تفسیر کې، په حدیث کې راغلي دي: الله تعالی هره ورځ داسې یو نوی چار رامنځ ته کوي، چې مخکې نه و. «من احداث بدیع لم یکن۲»
* حضرت علي کرم الله وجهه د «كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِی شَأْنٍ» آیت په تړاو وویل: هره ورځ یوه گناه ښنې، یو غم لرې کوي، ځینې لاندې او ځینې باندې کوي۳.

## په قیامت کې پوښتنه گروېگنه

* ۱. لایسئل عن ذنب المجرم: په انسانانو او پېریانو کې څوک د چا پر ځای نه نیول کېږي؛ بلکې خپله مجرم به نیول او پوښتل کېږي٤.

۲. په روایتونو کې لولو: قیامت پنځوس تمځایونه لري، ٥ په یوه تمځي کې د نیولو او پوښتنو گرویگنو حکم ورکول کېږي، «وَ قِفُوهُمْ إِنَّهُمْ مَسْؤُلُونَ»٦په بل تمځي کې پر شونډو تاپه لگول کېږي، «نَخْتِمُ عَلى أَفْواهِهِمْ»٧په نورو تمځایونو کې یو له بله مرستې غوښتل کېږي، په بل تمځي کې تېول ژاړي؛ نو پردې بنسټ، که د قرآن په ځینو آیتونو کې وایي، چې یو هم نه پوښتل کېږي؛ نو دا چار په یوه ځانگړي تمځي پورې اړوند دی.

---

[1] - نهج البلاغه، لیک: ٤٧.
[2] - تفسیر کنز الدقائق.
[3] - برهان تفسیر.
[4] - مجمع البیان تفسیر.
[5] - بحار، ٧ټ، ١٢٦ مخ
[6] - صافّات، ٢٤
[7] - یس، ٦٥

## د الله تعالی له مقامه ډار

*لقمان حکيم خپل زوی ته سپارښتنه وکړه: داسې له الله وېره لره، چې د انسان او پېري عبادت دې آرام نه کړي او داسې د الله فضل ته هيلمن وسه، چې درنه ګناه دې نهيلی نه کړي. دې خبرې ته ورته، له حضرت علي کرم الله هم رانقل شوې ده١.

*په روايتونو کې راغلي څوک چې په دنيا کې له الله تعالی ډار ولري، په قيامت کې خوندي دی او هغه چې په دنيا کې د ځان خونديينې احساس وکړ، په آخرت کې په ډار کې دی٢.

*امام صادق رحمة الله عليه وويل:«من علم ان الله يراه و يسمع ما يقول من خير و شر فيحجزه ذلک عن القبيح من الاعمال فذلک الذی خاف مقام ربه و نهی النفس عن الهوی٣» څوک چې باور وکړي، الله يېويني او هر څه چې وايي، اورې يې؛ نو دا ايمان يې له ناوړچاريو ژغوري؛ نو دا هماغه کس دی، چې د الله له مقامه خائف دی او خپل نفس يې له ځاني غوښتنو ژغورلی دی.

*په حديث کې راغلي دي: رسول الله صلی الله عليه و آله، امام علي کرم الله وجهه ته وويل: څو څيزه ژغورونکي دي، چې يو يې په پټه او ښکاره له الله تعالی نه ډار دی٤.

## احسان

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: د (هَلْ جَزاءُ الْإِحْسانِ...) غونډله مؤمن او کافر دواړو ته ده، او چا چې له بل سره نېکي وکړه؛ نو ورته پکار ده، چې جبران يې کړي٥.

## ايمان

* له رسول الله صلی الله عليه و آله نه حضرت علي کرم الله وجهه رانقلوي: آيا د هغه کس انعام، بې له جنته بل څه دی، چې ايمان يې راوړی دی٦. «هل جزاء من أنعمت عليه بالتوحيد الا الجنه»

---

١ - اربعين امام خميني، ٢٢١.

٢ - کنزالدقائق تفسير.

٣ - نورالثقلين تفسير

٤ - کنزالدقائق تفسير.

٥ - مجمع البيان او الميزان تفسيرونه

٦ - امالي طوسي، ٢ټ، ١٨٢ مخ

## خوشحالوونکي

* په حديث کې راغلي چې: اوبه، شنه بوټي او ښکه ښځه خوشحالي راوړي١.

## جنتي مېرمنې

* په روايتونو کې لولو: «خَيْراتٌ حِسانٌ» د دنيا صالحې مېرمنې دي، چې تر جنتي حورو ښکلې دي٢.

* پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وويل: جنتي مېرمنې ښه خوی او ښکلې ځېرې لري. «خيرات الاخلاق حسان الوجوه»٣

## سورة الواقعة

د حضرت عبدالله بن مسعود (رض) د مرگ پر مهال يې حضرت عثمان (رض) عيادت ته ورغی او و يې پوښت: څه ته خپه يې او څه هيله لرې؟ گناهونو ته مې خپه يم او د پالونکي لورنې ته هيلمن يم. و يې پوښتل: آيا غواړې څه درکړم؟ و يې ويل: نه! پر هغه ورځ چې مې اړتيا درلوده، بې برخې دې کړم، اوس چې له نړۍ ځم؛ نو څه اړتيا به ولرم؟ حضرت عثمان (رض) وويل: نو اجازه راکړه، يو څه درکړم، چې لوڼو ته دې پاتوړی شي. هغه وويل: هغوی هم ورته اړتيا نه لري؛ ځکه لوڼو ته مې داسې څه ورزده کړي، چې کله به هم اړمنې نشي، هغوی ته مې سپارښتنه کړې، چې واقعه سورت تلاتوئ، چې له پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله نه مې اورېدلي: څوک چې هره شپه واقعه سورت تلاوت کړي؛ نو بېوزلي او بدمرغي نه وررسي٤.

## عقل

* په روايتونو کې عقل داسې توصيف شوی دی: «ما عبد به الرحمن و اکتسب به الجنان٥» هغه چې انسان پرې د الله تعالی بندگۍ وکړي او د جنت او تلپاتې نېکمرغۍ په لار کې گام واخلي. که انسان لږ فکر وکړي، په دې دنيا کې د الله تعالی يو څو ورځې بندگي، په قيامت کې دومره هوساينه او خوندونه لري او انسان بيا هم چمتو شي، چې دا ټول ابدي خوندونه، د ژرتېرې او

---

١ - بحار، ٥٩ ټ، ١۴۴ مخ

٢ - کافي، ٨ټ، ١٥٦ مخ

٣ - نورالثقلين تفسير.

٤. مجمع البيان تفسير.

٥ کافي، ج١، ص١١

فاني دنیا په پار له لاسه ورکړي؛ نو دا ستره بې عقلي ده او دا د واقعي تاوان مانا ده، چې الله تعالی وایي: «قُلْ إِنَّ الْخاسِرِينَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ=پېغمبره! خلکو تهووایه: واقعي تاوانیان هغوی دي، چې ځانونه یې بایللي دي۱. »
د رجب میاشت په دعا کې لولو:«خاب الوافدون علی غیرک۲» خدایه! هغوی وبایلله او ګټه یې و نه کړه، چې بې تا یې بل ته ورمخه کړه.

## بوډۍ ښځې په قیامت کې

* په یوه روایت کې راغلي چې پېغمبر صلی الله علیه و آله امّ سلمه (رضی الله عنها) ته وویل: الله د قیامت پر ورځ مومنې بوډۍ سپین سرې ښځې، په ښکلیو ځوانو نجونو اړوي۳.

## اوبه

* په حدیث کې راغلي: چې کله رسول الله صلی الله علیه و آله اوبه څښلې؛ نو ویل یې:«الحمد لله الذی سقانی عذبا فراتا برحمته و لم یجعله ملحا اجاجا بذنوبی٤»، د الله شکر، چې په خپله لورنه یې خوندورې اوبه راوڅښلې او زموږ د ګناهونو په پار یې راتروې نه کړې.

## ستوري

امام کاظم رحمة الله علیه وویل: الله ستوري ستایلي او د هغوی پر ځګي یې قسم کړی دی۵.

## د روزۍ شکر پرځای کړئ

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم له یوې ډلې سره په مسافرت کې و، چې د اوبو له کمښت سره مخ شول او تنده یې ډېره شوه. پېغمبر صلی الله علیه و آله دعا وکړه او ډېر باران وشو او ټول یې خړوب کړل. په دوی کې یو وویل: دا باران د پلاني ستوري د راختو له لامله و. (نه د پېغمبر اکرم د دعا له لامله)، چې دا آیت نازل شو «وَ تَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ أَنَّكُمْ تُكَذِّبُونَ» او پېغمبر صلی الله علیه و آله وویل: د خپلې روزۍ د شکر پر ځای یې دورغجنوئ٦.

---

۱ زمر، ۱۵.
۲ مفاتیح الجنان.
۳ نورالثقلین تفسیر
٤ وسائل، ۲۵ټ، ۲۵۷ مخ
۵ راهنما تفسیر.
٦ – نمونه تفسیر.

## اخره زمانه

امام سجاد رحمة الله علیه وويل: الله پوهېده، چې په اخره زمانه کې به ژوراندي وګړي راځي؛ نو د توحید سورت او د حدید سورت آیتونه یې نازل کړل (چې خلک الله ښه وپېژني) او څوک چې بې له دې ځانګړنو، الله ته نورې ځانګړنې ومني، هلاک به شي١.

* له پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم نقل شوي: داسې وخت به راځي چې سړی به یې د ښځې او اولاد له لاسه هلاکیږي؛ ځکه سړی به د بېوزلۍ په پار رټل کېږي او هغه به یې د غوښتنو منلو لپاره هر کار ته لاس وراچوي او هلاک به شي. «یسخرانه بالفقر فیرکب مراکب السوء فیهلک٢»

## کړاوونه

په حدیث کې لولو: کړاوونه د ظالم ادبولو او ورته د ګواښ وزله ده؛ خو مؤمن ته د ازمېینې او ودې او انبیاوو ته درجو ورکونې او الهي اولیاوو ته د کرامت لاس ته راوړو وزلې دي. «البلاء للظالم أدب و للمؤمن امتحان و للانبیاء درجه و للاولیاء کرامه٣»

## کنجوس

«البخیل حقا من ذکرت عنده فلم یصل علی٤»پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: حقیقي کنجوس هغه دی، چې زما نامه ورته واخستل شي؛ خو پر ما درود و نه وایي.

حضرت علي کرم الله وجهه خپل زوی امام حسن (رض) وپوښت:شُحّ څه دي؟ و یې ویل:«ان تری ما فی یدک شرفا و ما انفقت تلفا٥»څه چې دې په لاس کې دي، د خپل شرافت تومنه او څه چې نفقه کوې، له لاسه وتلې یې وګڼې.

«البخل بالموجود سوء الظن بالمعبود٦»کنجوسي پر الله تعالی د بدګوماني نښه ده.

---

١ - نورالثقلین تفسیر.

٢ - مراغي تفسیر

٣ – نمونه تفسیر او بحار، ج٦٤، ص ٢٣٥.

٤ بحار، ٧٣ټ، ٣٠٦ مخ

٥ بحار، ٧٣ټ، ٣٠٥ مخ

٦ - غررالحکم.

یوه شپه امام صادق رحمة الله علیه د طواف پرمهال داسې دعا وکړه:«اللهم قنی شح نفسی[1]»یا الله! له کنجوسۍ مې وساتې.
کنجوسي یوازې په مال کې نه ده؛ بلکې ځینې خلک د نورو په درناوي کې هم کنجوسي کوي. «البخیل من بخل بالسلام[2]» هغه چې په سلام کولو کې کنجوسي کوي، کنجوس دی.
«البخل باخراج ما افترض الله من الاموال اقبح البخل[3]» ناوړه کنجوسي، د وتېزو واجباتو؛ لکه خمس او زکات په ورکړه کې کنجوسي ده.
«لا تدخلن فی مشورتک بخیلا[4]»له کنجوس سره سلامشوره مه کوئ.
«النظر الی البخیل یقسی القلب[5]»کنجوس ته ورکتل، انسان سخت زړی کوي.
*په روایت کې لولو: امام جواد رحمة الله علیه د شپې له پیله تر پایه یوازې یوه دعا کوله:«اللهم قنی شح نفسی» خدایه! د نفس له کنجوسۍ مې وساتې. راوي وایي: امام ته مې وویل:درځار، له تا خو مې بې له دې بله دعا وا نهورېده! امام وویل:«فای شیء اشد من الشح» تر کنجوسۍ به بل څه خطرناک وي.
په بل حدیث کې لولو:«لا یجتمع الشح و الایمان فی قلب رجل مسلم[6]»، کنجوسي او ایمان د یوه مسلمان په زړه کې نه ځایېږي.
* په یوه حدیث کې راغلي چې امام صادق رحمة الله علیه به تل دعا کوله: « خدایه! د نفس له کنجوسۍ مې وساتې. وپوښتل شو: ولې تل دا دعا کوئ؟ آنحضرت ورته د«وَ مَنْ یُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولئِکَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ»[7] آیت تلاوت کړ.
* امام صادق رحمة الله علیه وویل: «من ادی الزکاه فقد و قی شح نفسه[8]»څوک چې د خپل مال زکات ورکړي، د خپل نفس له کنجوسۍ خوندي شوی دی.

---

[1] بحار، ۷۰ ټ، ۳۰۱ مخ
[2] بحار، ۷۰ټ، ۳۰۵ مخ.
[3] - غررالحکم.
[4] - نهج البلاغه، لیک: ۵۳.
[5] - بحار، ۷۸ ټ، ۵۳ مخ ج
[6] - مجمع البیان تفسیر
[7] - نورالثقلین تفسیر.
[8] - مجمع البیان تفسیر.

## ایثار

ایثار، یو ډول کمال دی؛ خو له منځلاری دې د وتو لامل نشي؛ لکه څنګه چې په فرقان سورت ٦٧ آیت کې د عبادالرحمن په ځانګړنو کې وایي: «وَ الَّذِینَ إِذا أَنْفَقُوا لَمْ یُسْرِفُوا وَ لَمْ یَقْتُرُوا وَ کانَ بَیْنَ ذلِکَ قَواماً» هغوی په انفاق کې نه بې خرتي کوي او نه لنډون؛ بلکې منځلاري دي. پر دې موضوع، له امام صادق رحمة الله علیه نه په یوه روایت کې هم ټینګار شوی دی[1].

## د حق و باطل ګډول

* حضرت علي کرم الله وجهه وایي: که حق و باطل په ځغرده اوڅار وي، کومه ستونزه نه رامنځ ته کېږي؛ خو د حق و باطل ګډول، د فتنې او شیطان د لاسبری لاملېږي. «و لکن یؤخذ من هذا ضغاث و من هذا ضغاث فیمزجان فهنالک یستولی الشیطان علی أولیائه»[٣٤]
امام حسین (رض) هم په کربلا کې د یزید لښکر ته وویل ویل:«استحوذ الشیطان علی أولیائه». [٣٥]

## تولّی او تبرّی

امام رضا رحمة الله علیه وویل:«کمال الدین ولایتنا و البرائه من عدونا» د دین کمال، زموږ په ولایت منلو او له دښمنانو مو په لرېوالي کې دی.
امام صادق رحمة الله علیه ته یې وویل: پلانی درسره مینه کوي؛ خو ستاسې له دښمنانو د کرکې په اړه ناغېړی دی. آنحضرت ورته وویل: دروغ وایي، چې له موږ سره مینه لري؛ خو له دښمنانو مو لرې نه دی. [٥١]
امام صادق رحمة الله علیه وویل:«اوحی الله الی نبی من انبیائه قل للمؤمنین لا تلبسوا لباس اعدایی و لا تطعموا مطاعم اعدایی و لا تسلکوا مسالک اعدایی فتکونوا اعدایی کما هم اعدایی»[٥٢] متعال الله په خپلو پېغمبرانو کې، پېغمبر ته وحې وکړه، چې مؤمنانو ته ووایه: زموږ د دښمنانو په څېر جامې مه اغوندئ او زموږ د دښمنانو په څېر دې خواړه نه خوري او د

[1] - نورالثقلین تفسیر
[٣٤] -. نهج البلاغه، خطبه: ٥٠.
[٣٥] - نورالثقلین تفسیر.
[٥١] - بحار، ج ٢٧، ص ٥٨.
[٥٢] -وسائل، ج ٣، ص ٢٧٩

ژوند په څرنګوالي کې دې زموږ د دښمنانو په خبر نه وي؛ څکه که داسې وکړي؛ نو زموږ دښمنان شمېرل کېږي؛ لکه څنګه چې هغوی زموږ دښمنان دي.

## دښمن پېژندنه

* حضرت علي کرم الله وجهه د نهج البلاغه په ۵۳ لیک کې، مالک اشتر ته لیکي:«و لکن احذر کل الحذر من عدوک بعد صلحه فان العدو ربما قارب لیتغفل» ان تر سولې روسته، د دښمن له چل وله مه غافلېږه، چې له شا ګوزار و نه کړي.

او د حضرت علي په غررالحکم کې لولو:«لا تأمن عدوا و ان شکر» له دښمنه ډاډمن مه وسه، ان که ستا ستاینه یې وکړه. دښمن د اوبو په څېر دی، که څه په تودوخه ګرمېږي؛ خو په پای کې سړېږي.... فانه کالماء و ان اطیل سخانه بالنار لم یمتنع من اطفائه[۱۹]

## لارویان

* امام صادق رحمة الله علیه وویل: زموږ لارویان زموږ حواریون دي، د عیسی علیه السلام حواریونو د یهودو پر ضد له عیسی علیه السلام ملاتړ ونکړ؛ خو زموږ لارویان زموږ ملاتړي دي او زموږ په لار کې، شهیدېږي، کړېږي او شړل کېږي. الله دې ورته ددې دومره کړاوونو په پار ښه ثواب ورکړي. «ینصروننا و یقاتلون دوننا و یحرقون و یعذبون و یشردون فی البلاد جزءاهم الله عنا خیر۱»

* امام کاظم رحمة الله علیه وویل: څوک چې زموږ ولایت منلو ته رامخکې شو، له دوزخه لرې کېږي او چې زموږ له ولایته پر شا شو؛ نو دوزخ ته به ورمخکې شي۲. «لِمَنْ شاءَ مِنْكُمْ أَنْ يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ»

*د اهلسنتو مشهور مفسر؛ قرطبي رحمة الله علیه له امام باقر رحمة الله علیه نه رانقل کړي: ما او لارویان مو اصحاب یمین یو او څوک چې له موږ اهلبیتو سره په زړه کې کینه ولري؛ نو دوی ګرو دي. «نحن و شیعتنا اصحاب الیمین و کل من ابغضنا اهل البیت فهم المرتهنون۳»

---

[۱۹] - غررالحکم.

۱ - کنز الدقائق تفسیر.

۲ - نورالثقلین تفسیر.

۳ - قرطبي تفسیر.

*په شيعه او سني روايتونو کې رانقل شوي، چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، علي بن ابيطالب ته وويل: ته او ملگري دې خير البريّه ياست۱.

## د جُمعې ورځ مقام

*پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وويل: جمعه، د اونۍ د ورځو باداره او د متعال الله په نزد ستره مرتبه لري۲.

*جمعه، د ښوزليو د لاسنيوي ورځ ده. په حديث کې لولو، چې صدقې او انفاقونه مو د جمعې پر ورځ وکړئ۳.

*جمعه، د مسلمانانواختر دی٤.

*جمعه، د امام مهدي د راښکار کېدو و او د آنحضرت د غيبت د پای ورځ ده: «يخرج قائمنا يوم الجمعه۵»

*د جمعې پر ورځ، د انسان د کړنو پورته ختو ته د اسمانونو تمبې پرانستل شي٦.

*پېغمبراکرم وايي: الله تعالی د جمعې پر ورځ د نېکيو څو گرايه ثواب ورکوي او ناوړه چارې له منځه وړي، د مؤمنانو درجې لوړوي، دعاوې مني، بلاوې لرې کوي او د مؤمنانو حاجتونه پوره کوي۷.

*څوک چې د جمعې پر ورځ د خپل، پلار، مور يا کوم خپلوان د قبر زيارت ته ولاړ شي، گناوې يې ښښل کېږي او نامه يې په نېکانو کې ليکل کېږي۸.

* د جمعې پر ورځ غسل کول مه پرېږدئ، چې د اسلام د پېغمبر سنت دی، عطر پورې کړئ او ښه جامې واغوندئ۹.

---

١ - شواهد التنزيل، ۲ ټ، ۳۵۷ مخ، له نمونه تفسير نه مو راخستی دی.

٢ - وسائل، ۵ ټ، ۱۷ مخ.

٣ - وسائل، ۵ ټ، ٦۷ مخ.

٤ - وسائل، ۵ټ، ٦٦ مخ ٦

٥ - کمال الدين، ۱۶۴ مخ

٦ - وسائل، ۵ټ، ۳۲۵ مخ.

٧ - وسائل، ۵ ټ ٦۳ مخ

٨ - صلاه الجمعه، ۲۴۵ مخ

٩ - کافي، ۳ټ، ۴۱۷ مخ

* پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وویل: خبر مو کړم، چې جنتیان څوک دي؟ هغه چې سخته گرمي او یخني یې د جمعې ورځې له اعمالو منع نه کړي۱.
* چې څومره مو له لاسه کېږي، د جمعې پر ورځ نېکی کوئ. «و لیفعل الخیر ما استطاع۲»
*هغه چې د جمعې پر ورځ ځان پاک کړي، خپل نوکان، وېښتان او څېره برابره کړي او مسواک ووهي او.... د جمعې لمانځه ته ولاړ شي؛ نو اویا زره پرښتې ورته استغفار او شفاعت کوي۳.
هغه لمونځ چې په روایتونو کې د حج هموزنه شمېرل شوی. «علیک بالجمعه فانها حج المساکین٤»
هغه لمونځ چې تر خطبې روسته یې دعا منل کېږي. ۵
حضرت علي کرم الله وجهه په یوه لیک کې، حارث همداني ته وایي: د جمعې پر ورځ سفر مه کوه، چې د جمعې په لمانځه کې گډون وکړې؛ خو هغه سفر چې د الله په لار کې وي او یا هغه چې له کولو یې چاره نلرې٦. حضرت علي کرم الله وجهه، د پینځه نی/ پنجشنبې پر ورځ خلک د هغو درملو له خوړو منع کول، چې د کمزوری (او په جمعې لمانځه کې د نه گډون) لامل شي۷. او امام باقر رحمة الله علیه د پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله د یارانو په ځانگړنو کې وویل: هغوی به له پینځنی ورځ ځان د جمعې لمونځ ته چمتو کاوه۸.
هغه لمونځ چې د مسافر د گډون ثواب یې د هماغه ښار تر مېشتو ډېر دی۹.
هغه لمونځ چې، ترسره کولو ته یې یوه شپه مخکې د آیتونو پر تلاوت ټینگار شوی دی. په روایتونو کې سپارښتنه شوې چې د پینځنی ورځ د ماښام په لمانځه کې د جمعه سورت تلاوت شي، چې د جمعې لمانځه ته یو ډول یادونه وي.

---

١ - کنزالعمال، ۲۱۰۸۵ گڼه حدیث
۲ - وسائل، ۵ ټ، ۷۸ مخ
۳ - مستدرک، ٦ټ، ۴٦ مخ.
٤ - تهذیب، ۳ټ، ۲۳۷ مخ
۵ - وسائل، ۵ ټ، ۴٦ مخ.
٦ - نهج البلاغه، ٦۹ ام لیک
۷ - بحارالانوار، ۸۹ ټ، ۱۸۹ مخ.
۸ - وسائل، ۵ ټ، ۴٦ مخ.
۹ - وسائل ۵ټ، ۳٦ مخ

* پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وویل: مؤمن چې د جمعې لمانځه پر لوري هر گام اوچتوي، الله تعالی ترې د قیامت د ورځې وېره او اندېښنه کموي۱.
*د جمعې لمونځ د هغو گناهونو کفاره ده، چې انسان یې د اونۍ په ترڅ کې کوي؛ خو چې کبیره گناهونه پرېږدي۲.
*هغه گناه کړې، چې دیاړي مار (مزدور)، جُمعې لمانځه ته له تگه منع کړي۳.
*څوک چې درې اوونۍ پرله پسې بې عذره د جمعې لمانځه ته ولاړ نشي، نامه یې په منافقانو کې لیکل کېږي. «من ترک الجمعه ثلاثه متتابعه لغیر عله کتب منافقا٤»
په بل روایت کې لولو: څوک چې درې پرله پسې جمعې، بې رنځه او بې له کومه عذره، په جمعه لمانځه کې گډون ونکړي، الله تعالی یې پر زړه ټاپه لگوي۵.
*چاچې په جمعې لمانځه کې گډون ونکړای شو؛ نو صدقه دې ورکړي (چې د جمعې ورځ په لمانځه کې د نه گډون کفاره یې شي٦).
* رسول الله صلی الله علیه و آله وویل: څوک چې زما په ژوندون او یا زما تر مرگ روسته، د جمعې ورځې لمونځ، یا د نتې او سپک شمېرلو له لامله پرېږدي؛ نو الله به یې چارې راټولې نکړي، په چارو کې به یې برکت نه وي، حج او صدقه یې نه منل کېږي؛ خو داچې توبه وکړي۷.
* امام جمعه، چې خطبه وایي؛ نو خلکو ته پکار دي، چې چوپ وي۸او لمونځ دې نه کوي۹ او په ادب دې ناست وي۱۰.

---

۱ -. مستدرک الوسائل، ٦ټ، ۴۲ مخ.
۲ - بحار الانوار ٦۹ ټ، ۲۵٦ مخ.
۳ - مستدرک الوسائل، ٦ ټ، ۷ مخ.
٤ - مستدرک الوسائل ۸ ټ، ۴۰۷ مخ
۵ - کنز العمّال، ۲۱۱٤۷ ام حدیث
٦ - کنز العمّال، ۲۱۱۳۹ ام حدیث
۷ -. مستدرک الوسائل، ج ٦، ص ۱۰.
۸ - بحارالانوار، ۸۹ ټ، ۲۵٦ مخ.
۹ - وسائل، ۵ ټ، ۳۹ مخ
۱۰ - کنز العمّال، ۷ ټ، ۷۴٦ مخ.

## په بازار کې د الله تعالی ذکر

* پیغمبر اکرم وویل: څوک چې په بازار او د ورهنې په ځای کې په اخلاص الله یاد کړي، حال دا خلک ترې غافل او پر خپلو چارو بوخت دي، الله ورته نېکي لیکي او د قیامت پر ورځ به ورته ځانګړې ببنه وکړي. ۱.

## مؤمن

*پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم ویلي: «مثل المؤمن مثل السنبلة؛ تحركها الريح فتقوم تارة و تقع اخرى؛ و مثل الكافر مثل الازرة لا تزال قائمة حتى تنقعر – مومن د وږي په څېر، انعطاف او نرمي ښيي، او د پېښو پر وړاندې لږ څه ټيټېږي؛ خو بېرته په خپلو پښو درېږي؛ خو كافر د (صنوبر) د سختې ونې په څېر، د نه کږېدو په پار ولاړ وي، چې باد يې له بېخه راوباسي. ۲»

* پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: مؤمن څلور دښمنان لري: هغه مسلمان چې کینه ورسره کوي: «مؤمن يحسده»، هغه منافق چې په زړه کې ورسره کینه لري: «منافق يبغضه»، هغه شيطان، چې دا ورکلاری کوي: «شيطان يضله» او هغه کافر چې د ده جګړې ته راځي: «كافر يقاتله۳»

* په حدیث کې لولو، چې امام وپوښتل شو: مؤمن څنګه ځان ذلیلوي؟ امام صادق وویل: «يتعرض لما لا يطيق» و «يدخل فيما يعتذر منه» [۳۸] هغه کار ته لاس ورواچوي، چې کولای یې نشي.

## مغبون

په روایتونو کې مغبون ته مصداقونه راغلي، چې اشاره ورته کوو:

- د چا چې دوې ورځې یې یوشان وي، مغبون دی. «من استوى يوماه فهو مغبون٤»

---

[۱] - مجمع البيان تفسير

[۲] روح البيان تفسير، ۹ټ، ۵۳۳ مخ)

[۳] نهج الفصاحه، ۴۸۱ مخ

[۳۸] - نورالثقلين تفسير

[٤] - بحارالانوار، ۷۱ ټ، ۱۷۳ مخ

- تکبر او غرور په دنيا کې د بېوزلۍ او په آخرت کې د غبن لامل دی. «المغرور فی الدنيا مسکين و فی الآخره مغبون[1] »
- هغه چې د شپې له تهجدو بې برخې شي، مغبون دی. «فان المغبون من حرم قيام الليل[2]»
- په قيامت کې د ژوند هرې ورځې ته ۲۴ زېرمې پرانستل کيږي او هغه گړۍ چې انسان پکې خير ښېگڼه نه وي کړي، د تشې خزانې په څېر يېويني او ډېره ستره خواشيني کوي. «فيناله من الغبن و الاسف علی فواتها حيث کان متمکّناً من ان يملأها حسنات ما لا يوصف[3]»
- هغه مغبون دی چې د الله تعالی په لار کې جهاد پرېږدي. «من ترک الجهاد فی الله کان کالمغبون[4]»

## فتنه

* حضرت علي کرم الله وجهه وايي: پر فتنې له اخته کېدو الله ته پناه مه وړئ، چې حتمي ده؛ بلکې په فتنو کې له کږلارېدو او ورکلارېدو الله ته پناه يوسئ. لا يقولن احدکم اللهم انی اعوذ بک من الفتنه... فليستعذ من مضلات الفتن، سپس حضرت اين آيه را تلاوت کردند[5].

## د ښځې او مېړه گډ ژوند

پيغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وايي: د الله درشل ته په خپل کور کې له خپلې مېرمنې سره د کېناستو ثواب، زما په جومات کې تر اعتکاف ډېر محبوب او مينه وړی دی. «جلوس المرء عند عياله احبُّ الی اللّه تعالی من الاعتکاف فی مسجدی هذا[6]»
امام صادق رحمة الله عليه وويل: سمه نه ده، چې د ښځې ځان ته پام نه وي او له سينگاره - چې د ژوند د خوږلني سبب دی - لاس واخلي. «لاينبغی للمرئه ان تعطّل نفسها[7]»
حسن بن جهم وايي: امام کاظم مې په داسې حال کې وليد، چې د سر وېښتان يې رنگ کړي وو. امام مې هېښتيا وليده او راته يې وويل: د سړي سينگار يې د ښځې عفت ډېروي او هغه

---

[1] - بحارالانوار، ۷۲ټ، ۱۷۲ مخ
[2] - بحارالانوار، ۸۳ ټ، ۱۲۷ مخ.
[3] - بحارالانوار، ۷ټ، ۲٦۲ مخ
[4] - بحارالانوار، ۳۳ټ، ۵۷۳ مخ
[5] - نهج البلاغه، حکمت: ۹۳.
[6] - ميزان الحکمه، حديث ۷۸۸٤.
[7] - مجموعه ورّام، ج ۲، ص ۱۲۱.

ښځې له عفته لاس اخلي، چې مېړونه یې له ځان سینګارولو او ظاهري ښکلا لاس واخلي. «ان التهیئه ممّا یزید فی عفّه النّساء و لقد ترک النّساء العفه لترک ازواجهن التهیئه»، بیا یې وویل: لکه څنګه چې تاسې نه خوښوئ، چې مېرمن مو بې سینګاره ووينئ؛ هغوی هم داسې دي[1].
پېغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم وايي: واده وکړئ او طلاق مه ورکوئ، چې په طلاق ورکولو د الله تعالی عرش لړزېږي: «تزوّجوا و لا تطلّقوا فانّ الطلاق یهتزّ منه العرش[2]»
حضرت علي کرم الله وجهه وويل: څوک چې بداخلاقه وي، کورنۍ به یې خپه وي. «من ساء خلقه ملّهُ اهله[3]»
امام صادق رحمة الله علیه وویل: شته داسې لنډ لیدل، چې پایله یې اوږد حسرت او پښېماني وي. «کم من نظرهٍ اورثت حسرهً طویله[4]»
په یوه بل حدیث کې وايي: د خلکو د ښځو په اړه عفاف ووسئ، چې د ښځو مو عفت وساتل شي. «عفّوا عن نساء الناس یعفّ عن نساءکم[5]»
په روایتونو کې راغلي، چې د داوود علیه السلام په پېر کې یو سړي له یوې ښځې سره نامشروع اړیکې درلودې.
الله تعالی هغه ښځې ته الهام وکړ، چې سړي ته ووايي: هر مهال چې پر کومې ښځې ورپېښ شوې؛ نو کوم سړی به هم ستا پر ښځه درپېښ شي. سړی چې خپل کور ته ستون شو؛ نو له خپلې ښځې سره یې پردی سړی وموند، هغه یې ونیو، او حضرت داوو ته یې شکایت ترې وکړ، الله تعالی حضرت داوو ته وحې وکړه، چې ورته ووایه: په کوم لاس یې چې ورکړې، له هماغه لاسه یې اخلې[6].

---

[1] - کافي، ج ۵، ص ۵۶۷.
[2] - وسایل الشیعه، ج ۱۵، ص ۲۶۸.
[3] - میزان الحکمه، حدیث ۵۱۰۳.
[4] - کافي، ج ۵، ص ۵۵۹
[5] - امالی شیخ صدوق، ص ۲۳۸.
[6] - من لایحضره الفقیه، ج ٤، ص ۲۲.

## بېکاره انسان دعا نه منل کېږي

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله هغوی راوغوښتل او و یې رېل: څوک چې کار او هڅه پرېږدي، دعا یې نه منل کېږي. «انه من فعل ذلک لا یستجاب له[1]»

## کورنۍ روزنه

* په روایتونو کې لولو: د دوزخ له اوره د کورنیو ژغورلو لار ورته پر نېکیو امر او له بدیو منع ده، که و یې منله؛ نو د دوزخ له اوره دې ژغورلي او که و یې نه منله؛ نو ستا پرې غاړه خلاصه ده. «ان اطاعوک کنت قد وقیتهم و ان عصوک قد قضیت ما علیک[2]»

* په یوه روایت کې لولو: «رحم الله رجلا قال یا اهلاه! صلاتکم صیامکم زکاتکم مسکینکم یتیمکم جیرانکم[3]» الله دې پر هغه ولورېږي، چې خپلې کورنۍ ته یې وایي، چې د لمانځه، روژې، زکات، بېوزلیو، پلارمړیو او گاونډیانو خیال به ساتئ.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ویلي: کلکم راع و کلکم مسؤل عن رعیته... الرجل راع علی اهل بیته... فالمرئه راعیه علی اهل بیت بعلها و ولده [4]= ټول مو د ترلاس لاندیو په اړه پازوال یاست، سړی د خپلې کورنۍ پازوال او ښځه یې د مېړه او اولاد.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وایي: «مروا صبیانکم بالصلاه اذا بلغوا سبع سنین و اضربوهم علی ترکها اذا بلغوا تسعا و فرقوا بینهم فی المضاجع اذا بلغوا عشرا[5]» همداچې اولاد مو اووه کلن شو، د لمانځه حکم ورته وکړئ، چې نهه کلن شو (په دې چار کې) سختي پرې وکړئ او تر وهلو مخکې ولاړ شئ او په لس کلنۍ کې یې د خوب بستره جلا کړئ.

امام علي کرم الله وجهه وایي: «علموا انفسکم و اهلیکم الخیر و ادبوهم[6]» کورنۍ ته مو نېکي ورزده کړئ او ادب یې کړئ.

---

[1] - نور الثقلین تفسیر.

[2] -نورالثقلین تفسیر

[3] -مراغي تفسیر

[4] -مجموعه ورام، لومړی ټوک، ٦ مخ

[5] بحار، ج ٨٥، ص ١٣٤

[6] -مراغي تفسیر

## سورة الملک

له رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه روایت دی: « څوک چې تبارک سورت ولولي؛ لکه د قدر شپه یې چې وېښه تېره کړې وي - مَنْ قَرَأَ سُورَةَ تَبارَکَ فَکَأَنَّمَا أَحْيا لَيْلَةَ الْقَدْرِ » په بل روایت کې وایي: « ښه مې ایسي چې د «تبارک» سورت د گردو مومنانو په زړه کې ثبت وي - وَدِدْتُ أَنَ تَبَارَکَ الْمُلْکُ فِی قَلْبِ کُلِّ مُؤْمِن [1] »

## لطیف؛ الله تعالی

* د نورالثقلین تفسیر له مخې، امام رضا وویل: « له لطیف نه مراد، کوشنیتوب او نازکي نه ده؛ بلکې مراد دادی، چې د الله تعالی علم په څیزونو کې نفوذ لري؛ خو درک یې د نورو له اړخه ممتنع دی. »

## اخلاق

ام المؤمنین عایشې بي بي د پېغمبر اکرم د اخلاقو په باب ویلي: «کان خلقه القرآن»[2]د پېغمبر اخلاق د قرآن انځور و.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وویل: «انما تفسیر حسن الخلق ان اصاب الدنیا یرضی و ان لم یصبه لم یسخط» ښه خوی په دې دی، که بریالی شوې، خوښ شې او که نه شوې، غوسه نه شې. »

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وویل: «خصلتان لا یجتمعان فی المؤمن، البخل و سوء الخلق» په ایمانوال کې کنجوسي او بداخلاقي نه وي.

پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله ته وویل شول: پلانۍ ښځه لمونځگذاره؛ خو بداخلاقه ده او گاونډیان په ژبه خپه کوي. آنحضرت وویل: «لا خیر فیها هی من اهل النار» هغه دوزخۍ ده. په روایتونو کې راغلي دي، هغه مهال، چې پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله حضرت سعد بن معاذ (رض) ښخ کړ، و یې ویل: په کور کې د بداخلاقۍ له کبله، په قبر کې په عذاب شو.

حضرت علي کرم الله وجهه وویل: «رب عزیز اذله خلقه و ذلیل اعزه خلقه» څومره ډېر دي هغه عزتمن، چې د بداخلاقۍ له کبله ذلیل شي او هغه ذلیلان، چې د ښه اخلاقۍ له کبله عزتمن شي.

---

[1] مجمع البیان تفسیر

[2] - سنن النبي، طباطبایي، ۵٦ مخ

امام حسن (رض) وويل: «حسن الخلق رأس كل بر» خوش اخلاقي د ټولو نېکو چارو په سر کې ده.
حضرت علي کرم الله وجهه وويل: «ان العبد المسلم يبلغ بحسن خلقه درجه الصائم القائم» انسان د ښه خوی له کبله د روژتي لمونځ کوونکيو درجې ته رسي.
امام صادق رحمة الله عليه وويل: اخلاقي ښېگڼې لس ځيزونه دي: يقين، قناعت، صبر، شکر، حلم، ښه خلق، سخاوت، غيرت، مړانه او ځوانمردي.
حضرت علي کرم الله وجهه وويل: «من مکارم الاخلاق، ان تصل من قطعک و تعطی من حرمک و تعفوا من ظلمک» له اخلاقي ښېگڼو څنې دادي، که چا درسره مړی ژوندی پرېښود، ته ورسره مړی ژوندی وکړې او که بې برخې يې کړې، برخمن يې کړې او که ظلم يې درباندې وکړ، و يې ښښې.
امام صادق رحمة الله عليه وويل: «الخلق الحسن يميت الخطيئه کما تميت الشمس الخبيث» ښه خوی گناهونه له منځه وړي؛ لکه څنگه چې لمر خباثتونه مړه کوي.
همداراز يې وويل: «حسن الخلق يثبت الموده» ښه خوی مينې کوټلې او پياوړوي.
له آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم نه راويت شوی: «انما بعثت لا تمم مکارم الاخلاق» او و يې ويل: «ادبنی ربی فاحسن تاديبی۱» پالونکي مې وروزلم او څه ښه يې وروزلم.

## له نظره کېدل

پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم وويل: «ان العين حق و انها تدخل الجمل و الثور التنور» نظرېدل حق دي او دومره چارساز دي، چې اوښ او غوا په تناره کې وردننوي۲.
په حديث کې راغلي: که له ملگري مو يو څه وليدل او هېښنده شوئ؛ ژر الله تعالی ياد کړئ، چې د سترگو د نظر بلا دفع شي او ډېر دي داسې کسان چې سترگو ووهل، هلاک او مړه شول۳.

[1] مجمع البيان تفسير
[2] - بحار الانوار ج ٦٣ ص ١٧
[3] - بحار الانوار ج ٩٥ ص ١٢٧

## عرش

* امام صادق رحمة الله علیه وويل: هغه اته تنه چې عرش وړوونکي دي، څينې يې پېغمبران او څينې يې امامان دي: «نوح، ابراهیم، موسی، عیسی، محمّد، علی، حسن او حسین» او له عرش مراد الهي علم دی؛ ځکه په قیامت کې تر پرښتو پورته «فَوَقاهُمُ» الهي اولیاء دي، چې د خلکو په کړنو پوه دي۱.

* حضرت علي کرم الله وجهه وويل: الهي عرش تخت نه؛ بلکې يو محدود مخلوق او تر تدبير لاندې موجود دی، چې پرښتې يې په الله ورکړي ځواک د لېږدولو دنده لري. ۲

## د دوزخيانو زنځير

* امام صادق رحمة الله علیه وويل: که د هغه زنځير يوه کړۍ، چې دوزخيان پرې تړل کېږي، په دنيا کې کېښوول شي؛ نو دنيا به له ډېرې تودوخې ويلې شي۳.

## غوره کړنه

*د روايتونو له مخې، غوره کړنه هغه ده، چې دوام ولري٤. «الَّذِينَ هُمْ عَلى صَلاتِهِمْ دائِمُونَ»

## حرص

* په غرر الحکم کې د حرص په باب ډېر روايتونه راغلي، چې څينو ته يې اشاره کوو:

«الحرص لا يزيد فی الرزق» حرص، رزق نه ډېروي.

((من کثر حرصه... ذل قدره)) هغه خوار او ذليل شو، چې حرص يې ډېر شو.

«رب حريص قتله حرصه» شته داسې حريص انسانان، چې خپل حرص يې وژني. «ليس لحريص غناء» حريص، کله هم نه مړه خوا کېږي.

«الحرص يرزی بالمروه» حريص، خپله پتمني او ځوانمردي له لاسه ورکوي. «الحرص مطيه التعب» حرص، د کړاوونو زمينه ده.

«لا حياء لحريص» حريص، حيا نه لري.

«الحريص الاسير» حريص، بندي دی.

---

[1] - نورالثقلين تفسير

نورالثقلين تفسير[2]

[3] - نورالثقلين تفسير

[4] - نورالثقلين تفسير.

«الحرص علامه الفقر» حرص، د بېوزلۍ نښه ده.
«الحرص يفسد الايقان» حرص، پر الهي مقدراتو ډاډ ويجاړوي.
«الحرص موقع فی کثير العيوب»حرص، انسان په ډېرو نيمګړتياوو کې ورډوبوي.
«لا يلقی الحريص مستريحا» حريص انسان، هوساينه نه لري.

## د شتمن په مال کې د نشتمن برخه

* په نهج البلاغه کې لولو:
«انّ اللّه سبحانه فرض فی اموال الاغنياء اقوات الفقراء فما جاع فقير الاّ بما متّع به غنیّ و اللّه تعالی سائلهم عن ذلک[1]= په رښتينه، الله د بېوزليو څواک د شتمنو په مالونو کې ايښی او داسې وږی به نه وي، چې شتمن يې له ماله ګټه نه وي کړې او الله يې په دې باب پوښتونی دی.

## د مرګ لاملونه

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: «يعيش الناس باحسانهم اکثر مما يعيشون باعمارهم و يموتون بذنوبهم اکثر مما يموتون بآجالهم[2]= د ډېرو خلکو عمرونه د احسان او ډېر مرګونه د ګناهونو له لامله دي او ډېر لږ دي، چې عمر يا مرګ يې طبيعي وي.

## له قرآن سره ملګرتيا

* په حديث کې لولو: څوک چې له قرآن سره ملګری شي، له يوه اړخ ښيون او خورا وده کوي او له يوه اړخه يې ناپوهي او ورکلاري لږې کېږي. «ما جالس احد هذا القرآن الا قام عنه بزياده او نقصان؛ زياده فی هدی او نقصان من عمی[3]»

## جومات

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: داچې يهودو او نصاراوو په خپلو عبادتځايونو کې له الله تعالی سره شرک کاوه؛ نو الله تعالی وويل: په اسلامي جوماتونو کې له الله سره بل مه بولئ او الله دې هغه لعنت کړي، چې د جومات درناوی نه کوي[4].

---

[1] - نهج البلاغه، حکمت ۳۲۸.
[2] - بحارالانوار، ج۵، ص ۱٤۰.
[3] غررالحکم
[4] -. بحار الانوار، ۷۲ ټ، ۳۵۳مخ.

## ترتيل

* حضرت علي كرم الله وجهه وويل: د قرآن كلمې بشپړ څرگندوه، د شعر په څېر يې مه وايه، ببل ببل او مه يې خوروه[1]. په تلاوت يې خپل زړونه زاريو ته اړ كړئ او موخه مو د سورت پای ته رسول نه وي[2].

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: ترتيل هغه دی، چې د قرآن د تلاوت پرمهال د جنت آيتونو ته ورسېدئ، له الله تعالی جنت وغواړئ او د دوزخ آيتونو ته چې ورسېدئ، الله تعالی ته پناه يوسئ. او په يو بل روايت كې، ترتيل هغه دی، چې قرآن په ښكلي او زړه پوري غږ وويل شي[3].

## تهجد لمونځ

پېغمبر اكرم صلی الله عليه و آله وويل: غوره مو هغه دی، چې وينا يې نېكه وي، وړي ماړه كړي او هغه مهال چې خلک ويده دي، د شپې لمونځ وكړي[4].

آنحضرت صلی الله عليه و آله وسلم درې ځل علي بن ابيطالب ته وويل: تهجد لمونځ درسره بويه.

«عليک بصلاه الليل، عليک بصلاه الليل، عليک بصلاه الليل[5]»

امام صادق رحمة الله عليه وويل: د مؤمن شرافت د تهجدو په لمانځه دی او په بل روايت كې يې وويل: د مؤمن وياړ او ښكلا په تهجد لمانځه ده[6].

يو سړي حضرت علي كرم الله وجهه ته وويل: زه د تهجد لمانځه له توفيقه بې برخې شوی يم! امام ورته وويل: «قَيَّدتک ذنوبک» گناهونو دې مخه نيولې ده[7].

---

[1]. ژباړن: ددې روايت منځپانگه، د رمضان مياشت په تراويح لمونځونو كې د قرآن عظيم الشان له ختم سره په ټكر كې ده. پام به مو وي، چې هلته موخه يوازې د قرآن ختم وي (درې ورځنی، لس ورځنی او يو مياشتنی) او قرآن پكې ددې روايت له مخې نه تلاوتيږي.

[2] - كافي، ج ۲ ص ٦١٤.

[3] - تفسير نورالثقلين.

[4] - بحارالانوار، ج ۸۷، ص ١٤٢.

[5] -. وسائل، ج۵، ص٢٦٨.

[6] - بحارالانوار، ج ۸۷، ص ١٤٠.

[7] - بحارالانوار، ۸۰ ټ، ١٢٨ مخ

الله تعالی، موسی علیه السلام ته وویل: ای موسی، دروغ وایي هغه چې گومان کوي، له ما سره مینه لري؛ خو چې شپه شي، له ما سره د خبرو پر ځای ویده وي[1].

رسول الله صلی الله علیه و آله وویل: دوه رکعته تهجد راته تر دنیا او څه چې پکې دي، غوره دي[2].

په روایتونو کې تهجد لمونځ، د رزق زیاتوونکی، د پور ادا کوونکی، غم لری کوونکی او د سترگو رڼا بلل شوی دی[3].

د روایتونو له مخې، تهجد لمونځ د ورځې د گناهونو د ښنل کېدو لامل دی[4].

همداراز، تهجد لمونځ د بدن د روغتیا او د الهي لورنې د لاس ته راوړو لامل دی[5].

الله تعالی په قرآن کې د ځینو کړنو ثواب ښوولی؛ خو د تهجد لمانځه په باب وایي: هېڅوک نه پوهېږي، چې الله تعالی ورته څه زېرمه کړي دي: «فلا تعلم نفس ما اخفی لهم... [6]»

## اوږدې جامې

* امام صادق رحمة الله علیه وویل: له «وَ ثِیابَکَ فَطَهِّرْ» مراد دادی، چې جامه دې لنډه کړه؛ ځکه په جاهلیت کې دود و، چې مشرانو به یې دومره اوږدې جامې اغوستې، چې یوه برخه یې پر ځمکه راکښودل کېده او ځینې وگړي به یې اجیر کړي وو، چې جامې ورسره یوسي.

او امام کاظم رحمة الله علیه وویل: له «ثِیابَکَ فَطَهِّرْ» مراد، پر ځمکه له راښکلېدو او له چټلېدو مخنیوي ته د جامو اوچتولو ته وایي[7].

## نیکی مو مه شمېرئ

* په حدیث کې لولو: «لا تعطی تلتمس اکثر منها»؛ یعنې بل ته داسې څیز مه ورکوئ، چې بیا د ډېر تمه ترې ولرې.

---

[1] - اعلام الدین دیلمی، ۲٦۳ مخ

[2] - علل الشرایع، ۳٦۳ مخ

[3] - سفینه البحار، ۲ټ، ۴٦ مخ.

[4] - فروع کافي، ۳ټ، ۳٦٦ مخ

[5] - بحار، ۸۴ ټ، ۱۴۴ مخ

[6] - سجده، ۱۷.

[7] - کافي، ٦ټ، ۴۵۵ مخ

او په یوه بل حدیث کې راغلي: «لا تستکثر ما عملت من خیر لله»؛ یعنې د هغه نېک کار حساب هېڅکله مه کوئ، چې الله تعالی ته دې کړی۱.

## په قیامت کې هرڅوک پښېمانه دی

* پيغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم، حضرت ابن مسعود ته وویل: ښې کړنې ډېرې کوه، چې نېکچاری او بدچاری دواړه په قیامت کې پښېمانېږي. نېکچاري ځکه پښېمانه دي، چې ولې یې تردې ډېرې ښې کړنې نه دي کړي او بدچاري په خپلو لنډونونو. او بیا یې وویل: د «وَ لا أُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوّامَهِ» آیت پردې خبره ګواه دی۲.

## انساني نفس

په بل حدیث کې لولو: تر لمانځه روسته، له الله تعالی وغواړئ: «الهی لا تکلنی الی نفسی طرفه عین ابدا»ان د سترګو رپ هومره مې هم خپل نفس ته مه ورپرېږده۳.
امام زین العابدین په شاګین مناجاتو کې الله تعالی ته وایي: زه له هغه نفسه درګیلمن یم، چې د بدیو حکم کوي، د تېروتنو پر لوري ورځي، ګناه کولو ته بیړه کوي، چې کله کوم شر ور ورسي؛ نو چغې وهي او چې کله یې له لوري چاته کوم خیر وررسي، کنجوسي کوي، چټیاتو ته ورمات دی، له غفلت، تېروتنو او غلطیو ډک شوی دی، د ګناه پر لور مې ځغاسته ډېروي او توبې ته مې نه پرېږدي.

## بنسټګر

* امام باقر رحمة الله علیه د «بِما قَدَّمَ وَ أَخَّرَ» آیت په تشریح کې وویل: ((فما سن من سنه لیستن بها من بعده فان کان شرا کان علیه مثل وزرهم... و ان کان خیرا کان له مثل اجورهم٤)) څوک چې د ښېګنې یا بدۍ د لارې بنسټګر شي، تر ده روسته چې څوک پرې عمل وکړي، که بد وي؛ نو د ګناهګار په څېر سزا ورکول کېږي او که ښه چار وي؛ نو د عمل کوونکي په څېر ثواب ورکول کېږي.

[1] -نورالثقلین تفسیر.
[2] - بحار ج ۷٤ ص ۱۰٤
[3] - کافي، ۳ ټ، ۳۴۶ مخ
[4] - کنزالدقائق تفسیر.

## ابدي ملګری

*په روایتونو کې راغلي، چې په ځلکدن کې، مال، اولاد او د انسان کړنې مخې راځي. مال وايي: زه دې له لاسرسه وتلی یم. اولاد وايي: زه تر قبره درسره یم؛ خو کړنې يې وايي: زه تر ابده درسره یم[1].

## لمونځ

* په حدیث کې لولو: «من ترک الصلاه معتمدا فقد کفر[2]»، څوک چې په لوی لاس لمونځ ونکړي، کافر دی.

* امام رضا رحمة الله علیه د «وَ اسْجُدْ وَ اقْتَرِبْ» آیت په استناد وويل: د الله په تړاو، د انسان خورا نژدې حالت، د سجدې حالت دی.[3]

*په روایتونو کې راغلي چې په بېلابېلو ځایونو کې لمونځ وکړئ؛ ځکه هغه ځای په قیامت درته شهادت وايي[4].

په روایت کې راغلي: په بېدیاوو کې هم اذان ویاست؛ ځکه هره ډېره او لوټه چې ستاسې غږ اوري، په قیامت مو ګواه دي.

* حضرت علي کرم الله وجهه په بیت المال ویشنې پسې دوه رکعته لمونځ کاوه او ځمکې ته يې ویل: «اشهدی انی ملئتک بحق و فرغتک بحق((5 ځمکې! ګواهي ورکړه، چې ته مې له بیت الماله د حق پر بنسټ ډکه او بیا مې د حق پر بنسټ تشه کړې.

*په روایتونو کې راغلي دي، چې د ځمکې خبر ورکول داسې دي چې وايي: پلاني، په پلاني وخت کې، پلانی کړنه زما له پاسه ترسره کړه[6].

* په حدیث کې لولو: څوک چې د لمانځه وختونو ته بې اعتنا وي او لمونځ په لومړي وخت کې ونکړي، «ویل» لري[7].

---

[1] - اطیب البیان تفسیر.
[2] - مخزن العرفان تفسیر.
[3] - نورالثقلین تفسیر.
[4] مجمع البیان تفسیر.
[5]. لئالی الاخبار، ج ۵، ص۷۹.
[6] نورالثقلین تفسیر.
[7] - نورالثقلین تفسیر.

## ځلکدن

* د حضرت علي كرم الله وجهه د وينا له مخې، پرښتې په خورا آرامۍ او ملگرتيا د مؤمنينو ساه اخلي. «يقبضون ارواح المومنين يسئلونها سلا رفيقا[1]»
د امام صادق رحمة الله عليه د وينا له مخې، د مؤمن ځلكدن د خورا غوره عطرونو د بوی په څېر دی[2].
*په حديث كې لولو: مرگ يادونه شهوت وژني، د غلفت جرړه راباسي، زړه په الهي ژمنو پياوړوي، د انسان زړه، نرم، لطيف او كينه ترې باسي، د حرص اور مړ كوي، دنيا د انسان په سترگو كې كوشنۍ كوي او دا د پېغمبر صلی الله عليه و آله وسلم د كلام مانا ده، چې و يې ويل: «فكر ساعه خير من عباده سنه[3]».
* حضرت علي كرم الله وجهه، د انسان د عمر روستۍ شېبې او مرگ مهال داسې انځوروي:
[پر دنيا نمانځو دوه تنگسې راغلي؛ يوه د ځنكدن او بله د مرگ پر مهال حسرت، چې فرصتونه يې له لاسه وركړل. د ځنكدن سختيو يې د بدن غړي ورسست كړل او رنگونه يې په بله واوړېدل، مرگ يې رو رو ټول غړي رانغاړي، ژبه يې له كاره غورځوي او د خپلې كورنۍ په منځ كې پروت دی، په خپلو سترگوويني، په غوږونو اوري او په عقل سم فكر كوي، چې عمر يې په څه چارو پسې پوپنا كړی او خپل روزگار يې څرنگه تېر كړی؟ خپلې شتمنۍ رايادوي، چې په لاس ته راوړو كې يې خپلې سترگې پرې پټې كړې وې، حلال يې له حرامو او شبهه ناكو بېل نه كړل او اوس يې د گناه پېټی پر اوږو دی، ترې بېلېږي او پاتوړو - وارثينو ته پاتېږي، چې ترې برخمن او خپل روزگار پرې تېر كړي. د شتمنيو خوندونه او خوشحالي د نورو په برخه كېږي؛ خو د گناه پېټی د ده پر اوږو دی او په خپلې شتمنۍ كې راگېر دی، اوس مرگ مهال، چې كوم واقعيتونه ورڅرگند شول، له ليپخورۍ - پښېمانۍ خپل لاسونه مروړي او په ژوند كې يې، چې له كومو څيزونو سره مينه كوله اوس ترې كركه كوي او ارمان كوي، كاش دا شتمني د هغوی وای، چې له لامله يې له ده كينه درلوده. (په همدې تخيلاتو كې ډوب دی) چې مرگ يې په بدن كې غځېږي، تردې چې غوږونه يې د ژبې په څېر له كاره ولوېږي؛ نو د

---

[1] نورالثقلين تفسير
[2] - بحارالانوار، ج٦، ص ١٥٢.
[3] - نمونه تفسير؛ بحارالانوار، ٦ټ، ١٣٣ مخ.

خپلې کورنۍ په منځ کې پروت دی؛ نه په ژبه خبرې کولای شي او نه په غوږونو اورېدای شي، همداسې هغوی ته ګوري، چې ژبې یې خوځي؛ خو دی څه نه اوري. بیا یې ټول بدن د مرګ منګولو ته لوېږي او سترګې یې د غوږونو په څېر له کاره لوېږي او له بدنه یې روح بېلېږي او تنه یې په خپلې کورنۍ کې پاتېږي، چې ورسره له کېناستو ډارېږي او ترې لرې کېږي، دا نه اوس له ویرجنو سره څه خواخوږي کولای شي او نه د چا غږ ځوابولای شي. بیا یې کېږ - قبر ته وړي او خپلو کړنو ته یې ورسپاري او همیش یې له لیدو بې برخې شول۱.]

امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: آیا مؤمن په خپله ساه ورکونه خوښ دی؟ آنحضرت وویل: په لومړۍ شېبه کې خوښ نه دی؛ خو ساه اخستونکې پرښته یې ډاډمنوي، چې زه دې تر پلاره درلورانده یم، سترګې دې پرانځه. سترګې پرانځي او پیغمبر صلی الله علیه و آله وسلم، علي، فاطمه، حسن، حسین او نور امامان علیهم السلام ویني. پرښته ورته وایي: دوی دې دوستان دي. مؤمن هم ددې ننداره په لیدو ډاډمن شي او په دې وخت کې د «یا أَیَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّهُ» خطاب اوري.

## سورة الدهر / انسان

په روایتونو کې راغلي: امام حسن و امام حسین رنځوران شول. پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله او اصحاب رضي الله عنهم یې پوښتنې ته ورغلل او حضرت علي کرم الله وجهه ته یې وړاندیز وکړ، چې د خپلو زامنو روغتیا ته دې د نذر روژه ونیسي. چې حسنین روغ شول، حضرت علي او حضرت فاطمه درې ورځې روژه شول؛ خو روژه ماتي ته یې خواړه نه درلودل. حضرت علي له یهودي شمعون نه وربشې پور کړې. ماښام یې چې په لمانځه پسې روژه ماتی کاوه؛ نو پر لومړۍ شپه مسکین ورغی، پر دویمه شپه پلارمړی او پر درېیمه شپه بندي سوالګر ورغی او د حضرت علي د کور تمبه یې وټکوله او خواړه یې وغوښتل. د رسول الله اهلبیتو د الله تعالی د خوښۍ لپاره، خپل خواړه ورکړل او په خپله یې په اوبو روژه ماتوله. الله تعالی د اهل بیتو د سرښندنې په ستاینه کې دا سورت نازل کړ.

## جنتي چینې

* امام صادق رحمة الله علیه له رسول الله صلی الله علیه رانقلوي: هغه مهال چې جنتیان جنت ته ورننوځي، له یوې داسې ونې سره مخ شي، چې پراخه سیورې لري او له بېخه یې دوه چینې

---

۱ -. نهج البلاغه، خطبه ۱۰۹.

رابهیږي، هغوی په یوه چینه کې ځان وینځي او په بلې چینې ځان خړوبوي او تردې روسته یې په بدن کې یو رنځ او خپګان هم نه راځي او دا د «سَقاهُمْ رَبُّهُمْ شَراباً طَهُوراً[1]» مانا ده.

## په قیامت کې ډلبندي

* په روایتونو کې لولو: په قیامت کې خلک په ډلو ډلو ویشل کېږي او هره ډله په ځانګړې بڼه راڅرګندېږي؛ لکه خبر لوڅ د بیزو په بڼه، حرامخور د خوک په بڼه، سودخور په سرچپه بڼه، ظالم قاضي د روند په بڼه، ځانخوښی د کوڼ او ګونګ په بڼه، بې عمله عالم خپله ژبه جوي، ګاونډی کړوونکی به بې لاسه او بې پښو وي، خبرلوڅ او چغلګر په اور کې راځوړند وي، هوسباز او ځاني غوښتونی به بدبویه وي او په جامو ویاړوونکی به په دوزخي جامو کې راپاڅي[2].

## د زړه رټه

* امام باقر رحمة الله علیه وویل: داسې بنده به نه وي، چې زړه یې سپین نه وي، په هره ګناه یې پر زړه یوه توره رټه لګي، که توبه وکړي، نو رټه پاکېږي؛ خو که پر ګناه ټینګار وکړي، رټه یې خوره شي او ټول زړه رټه کړي او بیا نور انسان خیر او نېکمرغۍ ته نه ورستنېږي[3].
* امام رضا رحمة الله علیه وویل: له «إِنَّهُمْ عَنْ رَبِّهِمْ يَوْمَئِذٍ لَمَحْجُوبُونَ» مراد دادی، چې له الهي ثوابه بې برخې دي؛ که نه الله تعالی خو مکان نه لري[4].

## تسنیم

* امام باقر رحمة الله علیه وویل: تسنیم د جنت غوره څښاک دی او پیغمبر او اهلبیتو ته یې ځانګړي دي او په کورونو کې یې بهیږي[5].

## درې جنتي کوونکې ځانګړنې

* په حدیث کې لولو: څوک چې درې ځانګړنې ولري، الله تعالی ورسره اسان حساب کوي او په خپله لورنه یې جنت ته ورننباسي: هغه چې بې برخې کړی، ورکړه ورته وکړي، هغه چې

---

[1] - بحار، ج ۸، ص ۲۱۲.
[2] – نورالثقلین تفسیر.
[3] - نور الثقلین تفسیر.
[4] - توحید صدوق، ص ۱۶۲.
[5] - برهان تفسیر

ورسره پرېښې، صله رحم او زړه سوی ورسره وکړي او له هغه تېر شي، چې تېری يې درباندې کړی. «تعطی من حرمک تصل من قطعک و تعفو عمن ظلمک۱»

## د گناهونو جرړه

*په روايتونو کې، له دنيا سره مينه د ټولو گناهونو سرچينه گڼل شوې ده. «حب الدنيا رأس کل خطيئه۲»دنيا د تېرېدو پل دی؛ نه تمځی، بايد ترې تېر شو او آريز هستوگنځي ته ورسو. «خذوا من ممرکم لمقرکم۳»

## درود

* امام رضا رحمة الله عليه، د «ذَکَرَ اسْمَ رَبِّهِ فَصَلّی» آيت د مانا په اړه وپوښتل. يو وگړي وويل: چې کله يې د الله تعالی نامه واخسته، لمونځ وکړي. امام وويل: دا ستونزمنه دنده ده، چې هر وخت د الله تعالی نامه واخستل شوه، لمونځ دې وشي. هغه وپوښتل: نو مانا يې څه ده؟ امام وويل: چې کله د الله تعالی نامه واخستل شوه، پر محمد او آل يې درود ووايي. «کلما ذکر ربه صلی علی محمد و اله٤»

## امام

* امام صادق رحمة الله عليه وويل: «کلّ امّه يحاسبها امام زمانها و يعرف الائمه اوليائهم و اعدائهم بسيماهم [٤] د هر امت حساب يې د هغه وخت پر امام دی او امامان خپل ملگري او دښمنان په څېرو پېژني؛ لکه څنگه چې په اعراف سورت کې راغلي دي: «وَ عَلَی الْأَعْرافِ رِجالٌ يَعْرِفُونَ کُلاًّ بِسِيماهُمْ»[٥]

* په «زيارت جامعه» کې امامانو ته وايو: «و اياب الخلق اليکم و حسابهم عليکم»[٦] د خلکو رجوع تاسې ته ده او تاسې به يې حساب کوئ.

---

[١] - نورالثقلين تفسير.

[٢] -کافي، ٢ټ، ١٣٠ مخ.

[٣] - نهج البلاغه، خطبه ٢٠٣.

[٤] -. نورالثقلين تفسير.

[٤] -. بحار، ج ٨، ص٣٣٩.

[٥] -. اعراف، ٤٦.

[٦] - مفاتيح الجنان.

له امام کاظم، امام باقر او امام هادي ( رحمة الله علیهم ) هم دا مانا رانقل شوې ده. [۷]
* په روایتونو کې راغلي دي: حضرت علي کرم الله وجهه او معصوم ځوځات یې په قیامت کې د انسانانو د کړنو سنجونې تله او کچه ده۱.

## سپک او درون

* حضرت علي کرم الله وجهه وویل: د عمل له سپکوالي مراد کموالی او د کړنې له درونوالي یې مراد ډېروالی دی. «قله الحساب و کثرته۲»
* یو کس د حضرت سلمان (رض) سپکاوی وکړ، چې ته څه او څوک یې؟ ځواب یې ورکړ: زما او ستا پیل له څاڅکي او پای مو مردار دی. دا دنیا ده؛ خو په قیامت کې، «من ثقلت موازینه فهو الکریم و من خفت موازینه فهو لئیم۳» د چاچې تله درنه وي، درناوی یې کېږي او د چا چې سپکه وي، سپکاوی یې کېږي او پړ دی.

## د پلارمړي پالندوینه

* رسول الله صلی الله علیه و آله وسلم وویل: زه او هغه به په جنت کې یو د بل ترڅنګ یو، چې د پلارمړي پالندوینه وکړي. [۱۲]

## د جنتي کېدو یوه لار

* په یوه روایت کې راغلي: امام رضا رحمة الله علیه د خوړو پر مهال، د دسترخوان ترڅنګ یو ستر پتنوس ایښوده او څه چې پر دسترخوان وو، غوره یې پکې وراېښودل او بېوزلو ته یې وراستول او د «أَوْ إِطْعامٌ فِی یَوْمٍ ذِی مَسْغَبَهٍ» آیت یې لوسته او ویل یې: الله خبر دی، چې ټول خلک د مریي ازادولو وس نه لري؛ نو جنت ته د تګ لپاره یې خلکو ته بله لار پرانسته٤.

---

[۷] - تفسیر المیزان.
۱ -. بحارالانوار، ۷ ټ، ۲۵۲ مخ
۲ - احتجاج طبرسي، لومړی ټ، ۳٦۳ مخ. له راهنما تفسیر مو راخستی دی.
۳ - نور الثقلین تفسیر.
[۱۲] - تفسیر نور الثقلین.
٤ - نور الثقلین تفسیر.

## قسم/ سوگند

* په یوه حدیث کې راغلي: الله په خپلو مخلوقاتو کې پر څه چې وغواړي، حق لري، چې سوگند پرې یاد کړي؛ خو خلک دې یوازې پر الله قسم خوري[1].

## سختي او اساني

* امام باقر رحمة الله علیه د «فَأَمَّا مَنْ أَعْطی وَ اتَّقی وَ صَدَّقَ بِالْحُسْنی فَسَنُیَسِّرُهُ لِلْیُسْری» آیت په تفسیر کې وویل: «لا یرید شیئا من الخیر الا یسره الله له» د څه خیر کار اراده چې وکړي؛ نو الله د دې چارې کول وراسانوي[2].

او د «وَ أَمّا مَنْ بَخِلَ وَ اسْتَغْنی وَ کَذَّبَ بِالْحُسْنی فَسَنُیَسِّرُهُ لِلْعُسْری» آیت په تفسیر کې یې وویل: «لا یرید شیئا من الشر الا یسره الله له» د هر شر د کولو هوډ چې وکړي، الله د دې شر کول وراسانوي او کوي یې[3].

## د الهي نعمتونو اغېزې دې په ژوند کې ولیدل شي

* امام صادق، د «وَ أَمّا بِنِعْمَهِ رَبِّکَ فَحَدِّثْ» آیت تر تفسیر لاندې وویل: «حدث بما اعطاک الله و فضلک و رزقک و احسن الیک و هداک[4]» الله پاک چې څه له ډالیو، ورکړې، برترۍ، رزقونو، احسانونو او هدایتونو ورکړي، څرگند کړئ.

* پېغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وویل: «التحدث بنعمه الله شکر و ترکه کفر[5]» د چا په ژوند کې چې د الهي نعمتونو اغېزې و نه لیدل شي، د الله تعالی دښمن او د نعمتونو یې مخالف دی.

## د علم ثمره

* امام علي کرم الله وجهه وایي: د علم ثمره د الله بندگي ده.

---

[1] - نورالثقلین تفسیر.

[2] - کافي، ۴ټ، ۴٦ مخ.

[3] - کافي، ۴ټ، ۴۷ مخ

[4] - مجمع البیان او نمونه تفاسیر.

[5] -وسائل، ۸ټ، ۴۰ مخ.

## سورة القدر

تر حمد سورت روسته په لمانځه کې ددې سورت د ویلو په اړه ډېر روایتونو راغلي او څوک يې چې په فرض لمانځه کې وايي؛ ورته ویل کیږي: خدای دې تېر وخت وباښه؛ نو له سره پیل وکړه[1].

امام رضا رحمة الله علیه وويل: چاچې د مؤمنانو د قبر د زيارت پر مهال اووه ځل د قدر سورت ووايه؛ نو خدای به هغه مړی او لوستونکی وبښي[2].

## قدر شپه

*حضرت ابوذرغفاري (رض) وايي: رسول الله ته مې وويل: آیا د قدر شپه د انبیاوو په وخت کې هم وه او پر هغوی (امر) نازلېده او له نړۍ تر تګ روسته يې په هغه شپه کې (امر) نه نازلېږي؟ آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم وويل: د قدر شپه ترقیامته ده[3].

پیغمبر اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وپوښتل شو: زموږ کور له مدينې لرې دی؛ نو تاسې راته یوه شپه وټاکئ، چې پر هماغه شپه ښار ته راشم. آنحضرت صلی الله علیه و آله وسلم ورته وويل: ((پر (۲۳) شپه مدينې ته راشه. ٤))

*امام صادق رحمة الله علیه د قدر شپې په اړه وپوښتل شو: امام ورته وويل: د رمضان میاشتې پر ۱۹ مه، ۲۱ مه او ۲۳ مه شپو کې يي ولټوئ[5].

البته اهل سنت وايي: د روژې ۲۷ مه شپه د قدرشپه ده.

*امام صادق رحمة الله علیه د ناروغۍ په حال کې وغوښتل، چې د رمضان پر ۲۳ شپه دې يې جومات ته بوځي[6].

*فاطمې بي بي به پر دې شپه د خپلو ماشومانو پر مخ اوبه شیندلې، چې ویښ پاتې شي[7].

---

[1] (وسایل ٦/ ۷۹)

[2] (نور الثقلین تفسیر)

[3] (د برهان تفسیر).

[4] (وسایل ۳/ ۳۰۷)

[5] (وسایل ۱۰/ ۳٦۰)

[6] (بحار ۹۵/ ۱٦۹)

[7] (بحار ۹۴/ ۱۰)

*په روایتونو کې راغلي: رسول الله به د رمضان میاشتې په روستیو لسو شپو کې بستره ټوله او ټوله شپه یې عبادت کاوه۱.
*په یوه اوږد حدیث کې له پیغمبراکرم صلی الله علیه و آله وسلم څخه روایت شوی: حضرت موسی علیه السلام، خدای ته وویل: خدایه! له تا نه د قربت مقام غواړم. ځواب ورغی: ماته رانږدېدل د قدر په شپه کې دي.
موسی علیه السلام وویل: له پل صراطه د تېرېدو جواز غواړم. ځواب ورغی: د صراط له پله د تېرېدو رمز پر قدر شپه په صدقه ورکولو کې دی.
موسی علیه السلام وویل: خدایه! جنت او نعمتونه یې درنه غواړم. ځواب ورغی: ورته د رسېدو لار یې د قدر پر شپه تسبیح ویل دي.
موسی علیه السلام وویل: د دوزخ له اوره خلاصون غواړم. ځواب ورغی: د دوزخ له اوره د خلاصون خواله پر قدر شپه په استغفار کې ده.
او په پای کې موسی علیه السلام وویل: خدایه! ستا رضا مې په کار ده. ځواب ورغی: له هغوی خوشحالېږم، چې پر قدر شپه لمونځ وکړي۲.
*په روایتونو کې راغلي: د قدر پر شپه نېک کار د نورو شپو په پرتله خورا ثواب لري۳.
*په روایتونو کې راغلي دي: د امامت له نمښتیو – منکرانو سره د قدر په سورت استدلال وکړئ٤. ځکه ددې سورت له مخې، پرښتې هرکال د قدر پر شپه نازلېږي، د پیغمبر اکرم پر ژوندون به هغه ته راتلې؛ نو تر هغه روسته به پر چا نازلېږي؟

## روح

*امام صادق رحمة الله علیه وپوښتل شو: آیا روح هماغه جبراییل دی؟ امام صادق: جبراییل پرښته او روح تر پرښتې غوره دی او بیا یې دا آیت ولوست: ((تَنَزَّلُ الْمَلَائِكَةُ وَالرُّوحُ فِيهَا بِإِذْنِ رَبِّهِم مِّن كُلِّ أَمْرٍ ٥)).

---

۱ (د مجمع البیان تفسیر)
۲ (وسایل ۸/ ۲۰)
۳ (من لا یحضر ۲/ ۱۵۸)
٤ (د نور الثقلین تفسیر)
٥ (د برهان تفسیر)

## پرښتې

*پیغمبراکرم وایي: ((پرښتې له رڼا پیدا شوی دي[1]. او خدای هېڅ موجود د پرښتوهومره نه دی پیدا کړی[2].

*امام صادق وویل: پرښتې خوراک څښاک او کوروالی نه کوي[3].

## په یوه آیت فقیه کېدل

* په روایتونو کې لولو: یو بېدیانی د پیغمبر اکرم جومات ته ورننووت او و یې ویل: «علمنی بما علمک الله» له هغه څه رازده کړه، چې الله درزده کړي! آنحضرت یې یو کس قرآن ورزده کړې ته وګوماره. ښوونـد یې ورته د (إِذا زُلْزِلَتِ..) سورت ولوست؛ نو همداچې (فَمَنْ یَعْمَلْ مِثْقالَ...)؛ نو بیدیاني وویل: بسیا دي راته او ولاړ. پیغمبر اکرم وویل: «رجع فقیها[4]»

## یقین

*د روایتونو له مخې، د یقین نښه، پر الله توکل، ورتسلیمېدل، پر مقدراتو یې خوښي او خپلې چارې ورسپارل دي[5].

## د دنیا بازار

امام هادي رحمة الله علیه وایي: «الدنیا سوق ربح قوم و خسر آخرون» دنیا هغه بازار دی، چې ځینې پکې ګټیالي او ځینې پکې تاوانیان شول[6].

## ګاونډي ته د کور وسایل ورکول

* په حدیث کې لولو: هغه چې ګاونډي ته د کور وسایل ورکول منع کړي، الله به ترې د قیامت پر ورځ خپله پېرزو وسپموي[7]. البته په یوه بل حدیث کې راغلي، چې و یې پوښتل: مونږ داسې ګاونډیان لرو، چې کله وسایل عاریه ورکړو، ماتوي یې، خرابوي یې؛ نو آیا ګناه ده، چې داسې

---

[1] (اختصاص ۱۰۹ مخ)

[2] (قمي تفسیر۲/ ۲٦۰)

[3] (بحار ٥٦/ ۱۷۴)

[4] نمونه او نورالثقلین تفاسیر.

[5] بحارالانوار، ۷۰ ټ، ۱۳۸ مخ

[6] - تحف العقول، د امام هادي د ویناوو برخه. (ژباړن: دا کتاب په پښتو هم ژباړل شوی دی)

[7] - کنزالدقائق تفسیر.

گاونډيانو ته وسايل عاريه ورنکړو؟ آنحضرت وويل: که داسې وي؛ نو نه ورکول يې پروا نه کوي۱.

## ماعون

* امام صادق وويل: ماعون، قرض الحسنه او نورو ته هر نېک کار، د کور وسايل ورکول او زکات رانغاړي۲.

## سورة الکوثر

د اهلسنتو او شيعه وو د ګڼو روايتونو له مخې، چې کله د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم زامن مړه شول؛ نو"عاص بن وائل"، چې د مکې له مشرکانو څنې و، د پېغمبراکرم پر ټپونو يې مالګې دوړولې، پېغور يې ورکاوه، چې ابتر « = بې ستې يا ميرات» يې او په ځان پسې څوک نه لرې.

الله تعالی هم ددې آيت په نازلولو، پېغمبراکرم ته ډاډ، د دښمنانو د ماتې او د پېغمبر اکرم صلی الله عليه و آله وسلم د ځوځات او اند د پايښت خبر ورکړ.

روايتونه وايي: هغوی چې په خپلو فرضو او مستحبو لمونځونو کې دا سورت ووايي؛ نو د قيامت پر ورځ د "کوثر" له حوضه په اوبو د مړېدو زېری ورکړ شوی دی۳.

## الاخلاص سورت

يو شمېر کتابيانو او مشرکانو له پېغمبراکرم صلی الله عليه و آله وسلم نه وغوښتل، چې څښتن دې راوپېژنه؛ دا سورت چې د الله پېژندپاڼه ده، نازل شو او الله يې له موروپلار، اولاد، مېرمنې، سيال، ورته او شريکه پاک او سپېڅلی ګڼلی دی.

دا سورت نړه توحيدي ګروهې رانغاړي؛ نوځکه يې نامه ((توحيد)) او ((اخلاص)) دی.

ددې سورت فضيلت ته ډېر روايتونه٤ راغلي، چې ځينو ته يې اشاره کېږي:

(الف) په شواروز کې لږ تر لږه يو ځل په لمانځه کې دا سورت ووياست او بيا ووياست: «کذلک الله ربی: پالونکی مې داسې دی.»

---

۱ - نورالثقلين تفسير.

۲ - کافي، ۳ټ، ۴۹۹ مخ.

۳ (د نورالثقلين تفسير)

٤ ددې روايتونو ټولګه په نور الثقلين تفسير، (۵ټ، ٦۹۹-۷۱۵مخونه)کې راغلې ده.

(ب) د روایتونو له مخې، دا سورت د ارزښت له مخې، د قرآن د درېیمي برخي هومره دی. یو ځل تلاوت یې لکه چي درېیمه برخه قرآن دې تلاوت کړی وي او درې ځل تلاوت یې لکه چې ټول قرآن دې تلاوت کړی وي.

(ج) رسول اکرم صلی الله علیه و آله وسلم وویل: د توحید سورت، د علي بن ابیطالب په څېر دی، څوک چې ورسره زړګنی مینه ولري، د ایمان درېیمه برخه لري او څوک چې په ژبه او زړه ورسره مینه وکړي، له درېیو دوه برخې ایمان لري او د چا چې ورسره په زړه، ژبه او عمل کې مینه وي، ایمان یې بشپړ دی.

(د) تر لمانځه روسته یې پر تلاوت ټینګار شوی او په روایتونو کې لولو: څوک یې چې تر لمانځه روسته تلاوت پرېنږدي؛ نو الله به د دنیا او آخرت ښېګڼې ورکړي او هغه، مورو‌پلار او اولاد به یې الله وبښي.

(ه) امام سجاد وویل: دا چې الله خبر و، چې په اخره زمانه کې به یوه ځیرکه او ژوره ډله راځي؛ نو د توحید سورت او د حدید شپږ لومړي آیتونه یې نازل کړل.

شپږ خواوو ته ددې سورت تلاوت، انسان له خطرنو ساتي او له پېښو یې خوندي کوي۱.

## حسد

حضرت علي کرم الله وجهه وایي: «الحسد داء عیاء لا یزال الا بهلک الحاسد او بموت المحسود۲»حسادت (کینه) خطرناک رنځ دی، چې یوازې د محسود (هغه چې کینه ورسره کېږي) په مړینه او د حسود (کینه کښ) په له منځه تلو له منځه ځي.

---

۱. مصباح کفعمي، ۲۴۶ مخ.

۲ -. نهج البلاغه، حکمت ٤۹۳.